پښتو پښويه (گرامر)

PASHTO GRAMMAR

دویم لاسوهلی ازمیښتی چاپ

پوهندوی دوکتور مجاور احمد زیار

Dr. M. A. Zyar

د سیف الدین لودین کتابتون
کتاب پر لیسې شمیره

ادب پوهنځی　　د ۱۳۵۷ وری

نيو ليك (فهرست)

سرليک	مخ
يادښت	الف
پښويه (گرامر)	۱
لومړۍ برخه ــ غږ پوهه (فونو لوژي):	۱
دويمه برخه ــ گړ پوهه (مور فولوژي):	٦
ټـوم گړ پوهـه	٦
نوزي (جنس)	۷
پير (حالت)	۱۰
ناوښتونی نومونه	۱۲
څيز نوم (اسم)	۱۳
ستاينوم (صفت)	۱٤
شميرنوم (عدد اسم)	۱٦
نومځري (ضمير)	۱۸
ځانگړي نومځري (شخصي ضميرونه)	۱۸
تولنو ځري (ملکي ضميرونه)	۱۹
نغوتنومځري (اشاري ضميرونه)	۱۹
پوښتنو ځري (استفهامي ضميرونه)	۲۰
وييکو ځري (اداتي ضميرونه)	۲۱
اړيکو ځري (ارتباطي ضميرونه)	۲۲
غبرگون نومځري (انعکاسي ضميرونه)	۲٤
ناټيکو ځري (ابهامي ضميرونه)	۲٤

والعلم نور
سيف الدين لودين کتابتون
کتاب پر لیسي شمیره

سرلیک	مخ

ګډ تولنومځري (اشتراکي ضمیر	۲۷
تول ـ ځانګړي نومځري (شخصي ـ ملکي ضمیرونه)	۲۷
لومړي کړ اوونه (تمرینونه)	۳۲
دویم کړ اوونه (تمرینونه)	۳۳
دکړ ګړ پوهه یا دفعل صرف	۳٤
کړ نوموونکی (مصدر)	۳٤
دکړ اوړوني توکونه اواړخونه	۳٥
اوړونونه (گردانونه)	۳۹
دتیرمهال کړ اوړون	
روزدني تیرمهال (اعتیادي ماضي)	٤۱
لنډ تیرمهال (قریبه ماضي)	٤۲
لرتیرمهال (بعیده ماضي)	٤۳
گوماني تیرمهال (احتمالي ماضي)	٤٤
ارماني تیرمهال (تمنایي ماضي)	٤٥
اړوتي تیرمهال (شرطي ماضي)	٤۷
تواني تیرمهال (امکاني ماضي)	٤۸
ټینګاري تیرمهال (تاکیدي ماضي)	٤۸
هیښني تیرمهال (تعجبي ماضي)	٤۹
پوښتني تیرمهال (استفهامي ماضي)	٤۹
ناليزندکړ (لازمي فعل)	٥۰
بشپړ تیرمهال (مطلقه ماضي)	٥۰

سرلیک	مخ
خبري تیرمهال	٥٠
لنـــنډه	٥٠
لــر	٥١
نابشپړ	٥١
روز دنی	٥١
ارمانی	٥١
توانی	٥٣
گومانی	٥٣
ټینګاري	٥٤
پوښتنی	٥٥
اړوتی	٥٥
د اوسمهالکړ اوړون	٥٦
بشپړ اوسمهال ـ خبري	٥٦
اړوتی	٥٧
ارمانی	٥٧
پوښتنی	٥٧
هیلنی	٥٧
توانی	٥٨
امري	٥٨
ټینګاري	٥٨
غوښتنی	٥٩

وسیف الدین لودین کتابتون
کتاب پر لیسي شمیره

سرليـــــك	مـــخ
گوماني	٥٩
نابشپړ اوسمهال	٥٩
اړوتی	٦٠
ارماني	٦٠
پوښتنې	٦٠
هيښني ــ گوماني ــ تواني ــ امري ٠٠٠	٦١
ناليزند (تل ــ) ــ بشپړ اوسمهال	٦٢
خبري ــ اړوتی ــ ارماني ٠٠٠٠	٦٢
نابشپړ اوسمهال	٦٣
خبري ٠٠٠٠	٦٤
داوسترمهالكړ اوړون (دمستقبل فعل گردان)	٦٥
ناليزندخ ــ ولاړ ــ	٦٥
دكړ رغاونې (ساختماني) ډولونه	٦٦
يوستوي ــ بيلښتي (ساده ــ اشتقاقي)	٦٦
خواپرخوا (سست تركيب)	٦٧
ترښتي (تركيب)	٦٨
دويمه برخـــــه :	٦٩
ناوړيدونې گړونه	٦٩
كړولونه (قيدونه)	٦٩
وييكي (ادوات)	٧١

سرلیک	مخ

سرلیک	مخ
اړیکویکی – ورتښ وییکی – تړوییکی	۷۱
تولوییکی – سرېلونه	۷۲
۳ـ کسرپ اوونه (تمرینونه)	۷۸
٤ـ کړ اوونه	۷۹
دپښتو گړ ونو انځورلیك	۸۰
د یمه برخه :	
غونډ له پوهه (نحو)	۸۱
غونډ له (جمله)	۸۱
دغونډ لی جوړ ښت	۸۱
دغونډ لی رغنده توکونه	۸۵
اوډ ون (ترتیب)	۸۷
دغونډ لی بشپړ اند توکونه (اهنگ – خج ....)	۸۸
د اینس اوایښونی سمون	۹۱
نوموالی اوکړ واله غونډ له	۹۳
دغونډ لی مانیز ډولونه	۹٤
دغونډ لی جولیز ډولونه	۹٥
یوستوي غونډ له	۹٥
غبرگغونډ له	۹٦
گډه غونډ له	۱۰۱
گډ لی غونډ له	۱۰۳

سرلیک	مخ

سرلیک	مخ
گړنې (اصطلاحات)	۱۰۵
غونډه له پوهیزه شننه (نحوي تجزیه)	۱۰۷
ګړاونه	۱۱۵
نوې نوموونې	۱۱۷
وبی پانګه	۱۳۲
اخځلیك	۱۵۷

یادښت

دنوي اوزاړه ترمنځ یوه نه شلیدونکی شخړه یو دیالکتیکي قانون دی . هر زوړ شیز اوپدیده په خپل ځان کی دننه دیوه ورسره نوی اړ پیچ (ضد) زړی روزي او په همدي دود اودوی دوګړنۍ تولنی بشپړتیا یی بهیر مخ پروړ اندي . دروس اولسه دي سره یی انداوبوهه . په دي توګه له مهال تیریدنی اوځانګړ و ځاي او جهانۍ اړونو سره سم بشري پوهنه تل بدلون اونوي ګیدون مومي اوهمدغه بدلون اونوی‌ګیدون یی بشپړتیایی تګلوري ورسیخوي .

زموږ په وروسته پاتی تولنه کی دنورو بشري پوهنو په لړ کی ژبپوهنه هم نسوي دودیدونکی ده او زموږ له تولنیزو اړونو سره سم یی یو رنګ لاسم دود نه وي مونډلسی چی په نوره نړۍ کی هغه بیا دوخته زوړ وي . که څه هم لږ ترلږه شل کاله پوره کیدونکی دي چی نوي ژبپوهنی دادبپوهنځی له لاري زموږ هیوادته سرراددننه کړې خوبیا یې هم نه یواځي دزړې دودیزي‌ژبپوهنې‌اوبنوونې ځاي نه دي نیولی چی لاکورڅ یې تری سر هومره هم نه دي همسک کړي .

دعبدالاحد یاري دنوي ژبپوهنی څولوستونه اولیکی لادشاګردانو مغزو ته سمې نه وي رسیدلی چی درښتین ژبښودني بیا تول افغانستان نیولی وکه له الهامه تیرشو ؟ دپښتو ټولنی پازوال استاد شاکر دنوي ژبپوهنی دپینباوو په توګه نه دومره اکادمیکه زده کړه اوسمبالتیا درلوده اونه یې ورسره لږه کی زړ ورتیا چی هغه زړه ژبښودنسه لږ ترلږه له پوهنځی څخه وباسی . ده چی دژبپوهنی مو سس او پښتو ټولنی دژینیو څیړنو او ښوونی بشپړ مونو پول یې په لاس کی وله ((نوئیم وځه ته وایی – مورفیم وځه ته وایي؟)) پرته نه نور څه زده وو او نه یې ترهغه زیات څه وړ اندي کړ اي هسول .

نو په دي توگه به تري پخپله دپښتو ژبپوهنی یاپښتو پښوونی په باب څه هیله شوي واي .
دتېزي نوي ژبپوهنی (دپښتو ټولنی د ۱۳۴۴ خپرونی) اود پالوال نوي مصدر (دادبپوهنځی
د ۱۳۵۰ خپرونی) بیاهم زاړه غوزونه یوڅه ویښ گول اودایی لږ ترلږه وښووله چی نوي
ژبپوهنه یاپښوونه څه مانا !

ما دژبپوهنی دیوه نوي زده کوونکی او پښتو گړ دود څیړونکی په توگه د سویس
له زده کړ ونه له بیرته راستید و سره له زړي ژبپوهنی اوزړ ي ژبښودنی سره یوي مخېزي
نه پخلا کیدونکی سرغړ اوي ته راود انگل اوخپله لوړ ی ځ دنده می داوبلله چی له پښتوځانگی
څخه همد ومره دزړ ي ژبښودنی تېرولو د یوم لکه کوم کار چی په دري ځانگه کی الها م او
نگهت کړي دي اوتر خپل مسلکی واک اووس پوري دنوي ژبپوهنی په رڼاکی دیوي نو ي
ښوونځیوالی (مکتبی) پښووني اوژبښوونی بنسټ هومره کیږ دم .

زه داباتی نه وهم چی دغه پښوونه په تیوریک ډول دکوم ډیر تازه او لوکس
ژبوهنیز ښوونځی (لکه ترانسفور ماسیونل - ژنراتیف گرامر) ښکارندوی گڼلای شی ا و
نه په سلو کی دپښتویو بشپړ سپړیز (تشریحی)گرامر اوس خودا په ډاډ ویلای شم
چی دودیز نور ماتیف گرامر هم نه دي . داچی لیکی اوعلمی پښتو لامنځ ته نه ده راغلی
اوهرڅا خپله کلیواله او ځانگړي پښتو رامخکی کړیده نوکیدای شی ځینو گوتیوونکو
ته زماد غه پښوونه یو نور ماتیف گرامر وایی ځکه ما دنورو پرخلاف ځانته یواځینی پښتو
امرلی اوغوره کړي ده اودگرامري دود ونو (قاعدو) اوټولیو (کتیگوریو) په سپړ نه ایسته
اوویشنه کی می دټولو پښتو گړ دودونو یوي گډ ې امرلی (انتخابی) پښی اراو معیار په
کار اچولی دي په دي چی د ((پښتو)) گرامر لیکه اود ((پښتو گانو)) گرامر لیکه
سره توپیر لري .

دموخې اومرام له پلوه مازيات دپښتو ټولنې دشاګردانو راتلونکې اړتيا په پام کې نيولې ده . هغه داچې دوي په داسې يوې‌نوي پښتو سره پرخپل خپل وار په منځنيو او لوړو ښوونيزو ځانګو کې سمدلاسه د زړې ژبښوونې پاي‌ته رسيدل او له دود ه لويدل هومره وښوولاي شي اوپرځاي يې دنوي ژبښوونې يوه وزمه هومره خپره کړي داسې نوي ژبښوونه چې هم تخنيکي اومتوديکسې نوېوالې لري اوهم ژبنۍ نوېوالې . او زماپه ازميښت ندي لاسوند چې ماولې دغه دوه اړخيز نوېوالي ته پرېووار را ودانګل ، داديچې يوائځي په دې يوه نوېوالي له زړې ژبښوونې او پښتو سره مبارزه بياهم نيمګړې وه . د ((حرف ياتوري)) ــ ((مصدر)) ــ ((فاعل)) او ((مفعول)) غوندې کرغيړنې نومونې چې استاديې په ويلو او شاګردان ياشاګردانې يې په اوريدلو شرميږي نور هماغسې له دوبه او موده وتلې بريښې لکه پخپله د زړې ژبښودنې کرغيړن دود او تخنيک .

که څه هم د دې نوي غورځنګ دغه دويم اړخ راته داپنځه شپږ کاله د سريه کاسه کې اوبه راکړې او د زړې لياري پلويانو مې د کوټلو لپاره همداپلمه ونيوله خوما هرڅه د يوه ((علمې بري)) په خاطر وزغمل او ټال مې پرځمکه کېښې نښود . همدغه زغم اړتينګ هوډ اوويلاړو چې تر بري يې ورسولم او هغه داچې دغه نوي پښتو به مې له ټولو نويو نومونو اوترمونو سره هم شاګردانو وسهلاي شوه او زده کړاي شوه او هم مې د شاګردانو شاګردانو . دادېپوهنځې دناپښتو ځانګو او ځينو نورو پوهنځيو لپاره له همدغه ګرامر څخه لوستونه برابر شول او همداسې يې پسې د هيواد نورو لېيرو ښوونيزو مرکزونو ته لارپيداکړه اولا پيدا کوي يې . دملالې ليسې پښتو ځانګې زما له همدغه ګرامر څخه يووتلې لوستليکې کاپې کړ او د هغه ليسې په درسي کتابونو کې يې ورته ځاي ورکړ . بې له دې چې زما له شاګردانو څخه کوم يوه هلته ښکارندوې کړي‌وي . له دې ټولو خبرو سره سره زه بياهم خپله پښتويه يوه بشپړه اوبې ((خو)) نه بولم اونه يې بوللاي شم . هماغسې چې زمـا

دغه پښتو په د پوهاند رښتین ترژبړودنی نوي د ه او د هغې ځای ین ونیو هغه دغسې به په
ښا پسی د دوکتور تړي هم زما تردي نوي وي اوځای به ین نیسی ۰ مقصد یو ه نوی‌داره
هومره مې وایستله اوس نو هر نوي ژېپوهاند او پښتو پيوهاند کولاي شي بې له کـــوم
سرخوږه د نوي ژبپوهنې د هغه بیځې نوي ښوونځی په رڼا کې دلازیاتی نوي پښتو
ژبپوهنی او پښتو پښتوي په باب تازه نوښتونه او نو چارونه وړاندې کړي ۰ نه یوازې
په گړ هار بلکې په چار او کړ ن سره زما د دغو ځای ونیسي او په دي توگه د نوي نړۍ او
نوي پیړۍ له پوهی او تخنیک سره د پښتو او ښتنو په پیژندوین او روز دیدنه کې ترمـا
زیاته ونډه واخلي ۰

تل دې پرنا پوهی باندې د پوهی بــــري
اوبرزړو باندې د نویو لاسبـــــري

پوهندوی دوکتور مجاور احمد زیار
نادرشاه مینه د ۱۳۵٦ د کب ۱۵

سید مسافر

پښـــويـه (گـــــرامر)

پښويه د ژپوهنې يوه ستره سپړيزه (تشريحي) برخه ده چې په دوديزه ول پښه ښوونځيو او ژبنيو زده کړو ځيو (کورسو) کې د يوې ژبې ياد هغې د معياري ليکې بڼې د زده کړې د اسانتياله پاره لوستل کيږي، يا په لنډه ول:

پښويه د يوې ژبې له بيلا بيلو جوليزو توکونو او د ودونو څخه غږيږي يا په لنډه وينا پښويه د يوې ژبې د رغاونې (جوړښت) سپړنه (شرح) ده چې دا سپړنه له درو اړخو څخه ترسره کيږي:

١ــ غږ پوهه (فونولوژي).

٢ــ گړ پوهه (مورفولوژي)

٣ــ غونډله پوهه (سينتکس).

لومـــــړۍ برخـــــه

غږپوهه (PHONOLOGY)

غږپوهه په تولسيزه ول د يوې ژبې لومړني ساده توکونه (غږونه) کتې او څيړي او په لنډه ول پردوو څانگو وېشل کيږي:

١ــ اوازپوهه (فونيميکس).

٢ــ سپڼپوهه (فونيتيکس).

اوازپوهـــــه: اوازپوهه د يوې ژبې ارزښتناک غږونه (اوازونه) ترڅيړنې لاندې نيسي.

اواز: (فونيم) هماغه داوريد و ور سپـــڼ يا غږ دي چې د غږيزو غړو او ساهوا په مرسته پرېووار له خولې راوځي پخپله کومه مانا نلري خو په وييونو (کلمو) کې مانيز توپير پيښوي لکه پور او تور چې د يوه اواز په بدلولو سره د وه بيلا بيل وييـــونه دي.

سپڼپوهـــــه: سپڼپوهه د يوې ژبې ټول غږونه يا سپڼونه که ارزښت ولري يا و نلري يو مخيز ترڅيړنې لاندې نيسي د ساري په ول (د) د پښتو يو ارزښتناک غږ (اواز) دي خو په ويي

یاځینې کې له راز راز دریځ (موقعیت) سره بیلابیلې بڼې څانته غوره کوي . داسې چې وینګ (تلفظ) یې دوې یا څو په یوه برخه کې زور وروي اویه بله کې کمزوري یانیم کمزوري لکه په (دود) کې چې لومړي (د) تر دویم هغه غښتلی ویل کیږي اودویم . بیخی د (ت) وینګ ته نژدې کیږي . نودفونیتیکس له پلوه پرلومړي دویم او . . . (دالونو) ویشو او دفونیمیکس له پلوه یې دهماغه یوالحینی (دال) په توګه پیژنو .

په دې توګه هره ژبه یو ټاکلی شمیر اوازونه لري خو سپېټوګنه یې هرڅومره کیـــــداي شي .

دپښتو اوازونـــه : یوه ــ یوالحینی ــ ګڼه لیکی معیاري پښتوټول ٣٦ اوازونه لريچـــې پرځلورو ډلــوویشل کیږي :

١ــ خپلواك (واول) چې راپیداکیدل یې بې له کوم سترهوایی بندیز څخـــه ترسره کیږي او شمیریې اووته رسیږي .

زور	a	لکه	سر	sar
زورکی	ə	لکه	تره	trə
الف	ā	لکه	کار	kār
اوږده ي	e	لکه	ادي	ade
لنډه ي	i	لکه	ښادي	ṣādi
اوږدو	o	لکه	اور	or
لنډ و	u	لکه	سور	sur

٢ــ بیواك (کنسوننټ) چې له راپیداکید و یاله خولی څخه دراوتو پرزخت د ساهوا له بندیز سره مخامخیږي اوشمیریې (٢٧) ته رسی .

ب	(بې b)	لکه	بر	bar
پ	(پې p)	لکه	پور	por
ت	(تې t)	لکه	تور	tor
ټ	(ټې ṭ)	لکه	ټول	ṭol
ج	(جې j)	لکه	جوړ	joṛ
ځ	(ځې ĵ)	لکه	ځور	ĵwar
څ	(څې c)	لکه	څار	car
چ	(چې č)	لکه	چار	čar
خ	(خې x)	لکه	خول	xol
د	(دې d)	لکه	دود	dod
ډ	(ډې ḍ)	لکه	ډاډ	ḍāḍ
ر	(رې r)	لکه	زور	zor
ړ	(ړې ṛ)	لکه	ړوند	ṛund
ز	(زې z)	لکه	زر	zər
ژ	(ژې ž)	لکه	ژر	žər
ږ	(ږې ẓ)	لکه	ږيره	ẓira
س	(سې s)	لکه	سم	sam
ش	(شې š)	لکه	شل	šəl
ښ	(ښې ṣ̌)	لکه	ښل (زنه)	ṣ̌əl
غ	(غې ğ)	لکه	غرمه	ğarma
ک	(کې k)	لکه	کر (کشت)	kar

گ	(گې g)	لکه	گر (ظلم)	gar
ل	(لې l)	لکه	لار	lār
م	(مې m)	لکه	مور	moṛ
ن	(نـ n)	لکه	نن	nən
ڼ	(ڼې ṇ)	لکه	بڼ	baṇ
هـ	(هې h)	لکه	هلك	halək

٣ـ نیمواك (نیم واول) هغه اوازونه دي چې دخپلواکو او بیواکو دواړو دنده پرځای کوي یا په بله وینا که په یوه څپه کی د زړي یا هستی (حرکت) کار ورکړي د خپلواك بنسـه غوره کوي که نه دبیواك . په ترتیب سره لکه په بیل bel اوبیا byā کـسـ . دنورو خپلوانو ژبو غوندي پښتو هم دوه نیمواکلري :

و	(w)	لکه	ور	war
ي	(y)	لکه	یور	yor

٤ـ غبرگغزونه (دیفتونگونه) هغه اوازونه دي چې دخپلواکو اونیمواکو په ملگرتیا منځ ته راځی اولکه پوستوی آوازونه یووارېتـلیز (پیوسته) له خولی راوځی . دیوه غبرگغز لومړي توك یو خپلواك او دویم توك یی یو نیمواك اوازوي اودا چې پښتو نیمواك اوازونه دوه دي نوبه دې توگه یی یو ډول غبرگغونه په و (w) جوړیږي اوبل ډول یی په ي (y) چې ټول شمیری یی وولسوته رسی .

لومړي ــ دی (y) غبرگغزونه :

نرمه یازوروالـه ي	ay	لکه	سری	saṛay
اي	y	لکه	ځای	zāy
د رنیمازورکی والی ئ	y	لکه	مرئ	marəy

ري	oy	لکه	زوي	zoy
وي	uy	لکه	بوي	buy

دويم — د و (w) غبرګږونه :

او	aw	لکه	لو	law
أو	w	لکه	کټـو	kaṭə w
او	üw	لکه	پړاو	paṛüw
او	ow	لکه	اوری	owrəy
يو	ow	لکه	ليو (ګاه ګل)	low
يو	iw	لکه	ترو	triw

څپــــــه : څپه ، هجا يا سيلابـهغه اواز غونډ (فونيمي ګروپ) دي چې يا يو څپلواك وي اويا له يوه څپلواك اويوه ياڅو بيواکو څخه جوړ وي اويه يو ځايـې ويل له خولې راوځـــي لکه په (ادوم) کې چې د وه زړي (څپلواکه) لري لومړی څپه (الف) اودويمه (دوم) ده ياښخوند sxwand چې يوزړي (a) لري اوپنځه بيواکه توريوه او ز ده څپه ګڼــل کيږي . څپه هرومرو مانا نلري د ساري په توګه کور هم يوه څپه ده او هم يو ويـــي ځکه مانا لري مګر (ا ـــ غی ـــ زه) په اغيزه کې دريواړه څپې ځانته جلا جلا مانا وي نلري .

خج يافشار (اکسينت) : خج هغه چار (عمليه) ته وايي چې د ژبنيـــــــــز توکونو په لړ کې يو توك په زور او شدت سره وويل شي .

په دې توګه خج په د رو ډولو ويشل کيږي :

غونډ له ييـــز (جملوي) خج ـــ ويـيز (لغوي) خج او څپيز (هجا يــــــي)

خج لکه په (زه پوهنتون ته ځم) کې يوغونـــــډ zə pohantun ta ǰəm.

له ييز خج راغلی او هغه هم پر (u) اويه يوه وخت کې ويـيز خج هم دي ځکه د

غونډلی دنوروووبینو په ترڅ کی پواځی د (پوهنتون) وی خج اخیستی او هم څپیزخج دي

ځکه دپوهنتون د دړي ګونو څپو په ترڅ کی یواځی یوي څپې

خج تر لاسه کړي دي •

دویمه برخه

ګړ پوهه (صرف Morphology)

ګړ پوهه دپښتوي هغه برخه ده چی دګړ ونو (مور فیمونو) له رغاونی اوړ ون (ګردان)

او دهغو له ټیلونو (ډولونو) سره کار لري •

ګـــــــړ : ګړ هغه کوچنی دانیز ژبنی توک یا مانیز یوون (واحد) دي چی که وشنل شی

اوازونه تري لاسته راځی اوپه دي توګه خپله مانا له لاسه ورکوي •

خانګــــــس : ګړ پوهه دګړ ونو د ډولونو له مخــــس په دووخانګو وېشل کیږي : یوه

داوړید ونیو (ګردانید ونکو) ګړ ونو خانګه اوبله دناوړید و نیو ګړ و نو خانګه • داوړید ونیوګړ ونو خانګه بیا دوي برخی را اخلــــس :

۱ــ نوم ګړ پوهـــــه •
۲ــ کړ ګړ پوهه •

نوم ګړ پوهه :

په نوم ګړ پوهه کی د نومونو ډولونه اود هغه اوړ ونونه (ګردانونه) څیړل کیږي •

نـــــوم : هغه ویــــ دي چی بی له زمانی اړیکی (دکړ په توپیر) د راز راز شیزونو

او ښکارند و (پدید و) څرګند ونه کوي لکه تیزه ، لړګی ، سړي ، سرپیتوب ، ښایست ، روغ ، روغتیا ،

روغوالی ، زه ، ته ، دي ، یو ، دوه • • • •

دنومونو ډولونــــــــــد :

نومونه پرځلورو ډلو (ګروپونو) وېشل کیږي :

۱ــ شیزنومونه (اسما) •

۳ــ ستاینو مونه (صفات) ۰

۳ــ شمیرنو مونه (اعداد) ۰

٤ــ نومځیري (ضمایر) ۰

د نوم اوړون اړخونه :

نومونه په ټولیز ډول د درو اړخو (وجوهو) له مخې اوړون موندلکه نوزي ،

ګڼه ، پیر ۰ خو شلورم ډول (نومځیري) یې پرهغو سربیره دیوه بل اړخ (وګړي) له مخې هم ګردانیږي ۰

۱ــ نوزي (جنس) چې نوم نرینه دي لکه ګیدړ ، سور او یا ښځینه لکه ګیدړه ــ سره ۰

د نومونه نوم نښې : داورسته نومونه زیاتره نرینه دي :

۱ــ چې ورسته اواز (فونیم) یې بیواك (کنسوننت) وي لکه : کور ، ختیځ ، هلك ،

غــټ ، زیاړ ، هیواد ، غورځنګ ، اږمیږ ، الس ، پټ ، چرګ ، بیدوده (مستثنی) زیاتره د څپلوانو

نومونه لکه : خور ، مور ، ترور ، نږور ، نندرور ، ورندار ، تندار ۰ یاهغه ښځینه نومونه چې

په رینګ کې زیاتره څپل پاي څپلواك غور ځوي لکه بیتن ، ځنګل ، لار ، ترخځ ۰ همداراز نوزي (ډوزي) اومت (متهی) ۰

۲ــ له زورکي والی ی (ي) او (ۍ) پرته هرنوم چې په غبرګغږ (دیفتونګ)

پاي ته رسیدلی وي لکه سړي ــ لرګی ــ ځاي ــ بداي ــ زوي ــ لږي ــ ښارندوي ــ پیژندوي

(مشهور) بوي ــ خوي ــ کډو ــ لو ــ جړاو ــ پړاو ــ کړاو ــ نیاو ــ لیو ــ تیو ۰

۳ــ هغه نومونه چې په زورکي پایکیږي لکه تره ــ پسه ــ لیوه ــ روراه ــ زړه ۰

بیدوده لکه : خوله ــ وياله ــ تراه ۰

٤ــ هغه نومونه چې په لنډو (u) پاي ته رسي لکه چاکو ، ټټو ، یابو اردو

(عسکري) ، لاټو ، لاهو ، کاهو ، ماکو ، پټو ، پیښاور (مقلد) ، ساندو (باجه) ،

ساهو (ازاد) ، بازو ۰

د ښځینه نوم نښې : داورسته نومونه زیاتره ښځینه نښې (پایلی) لري :

۱ــ له زورکي اولنډو (و) پرته هغه نومونه چې په څپلواکو (واولو) پاي ته رسي

لکه ادې ، ناوې ، خسوزه ولې ، ښاندې ، وروري ، ودانې ، ورانې ، بهنه ، پزه ، ښځه ۰

رڼا ، بریښنا ، بیدیا ، لوړتیا ، ښخا ، ځلا ، ورا ، بلا ، ژړا ، خندا ، غلا ، ملا (کمر) ، شا ، ویسا ، پښتیانا ، اریانا ، پیشو ، زانګو ، درخو ، بیو ، پیلبو (بریښنا) ، شادو ، بیزو ...

بیدونه لکه: دادا (پلار) ، ماما ، کاکا ، لالا ، بیړا ، بډا (مقابل) ، بومیا (پیشرا) ، هوسا ، جلیا ، ملیا (باغوان) ، کوڼا ، ړوندا ، سبا ، میلمه ، کوربه ، غوبه ، لربه ...

۲ــ د ـــه په غبرګعز پای کېدونکی نومونه ، لکه : کټو (کټره) ،

۳ــ په زورکی واللی ی (غبرګعز) پایکېدونکی نومونه ، لکه : ډوډۍ ، هوسۍ ، کبلۍ (غزال) ، شړۍ ، مړۍ ، اډۍ (کور دخورد) ، ډنډ (کلك دنده) ، متهس ، ګدۍ (فاحشه) ، اربکه ، مسند ، قنجوغه) ، نجلۍ ، مخۍ (بدلګري نجلۍ ، معما ، چیستان) ، نتکۍ ، شپیلۍ .....

دګڼــــــــی (عدد) ښښــــــی :

الف ــ د نرینه ګڼــی (جمع) ښښی په دا وروسته ډول دي :

۱ــ ان ، زیاتره هغه نرینه نومونه ډیرګړي (جمع) کوي چې بیواکپای اوساوالاوي ، لکه هلکان ، پړانګان ، مچان ، کبان ، چنګابنان ،

ځینی خپلواکپای نرینه نومونه لکه لیوان ، تېوان ، اسان (اسونه) ، پسان (پسرونه) ....

۲ــ ونه ، زیاتره بیواکپای بی سا نرینه نومونه ډیرګړي کوي ، لکه سیندونه ، ډنډونه ، میزونه ، کتابونه ، لاسونه ، نسونه ، سرونه ، پلونه ، خوبونه ، بوبونه ، توبونه ، وربوبونه ،

ځینی خپلواکپای نرینه نومونه لکه ترونه ، وریرونه ، زړونه ، ځینی ساوالا بیواکپای نرینه نومونه لکه پلرونه ،

۳ــ زورکی ، ځینی لنډ څپیز اوخپلواك (وای) منځی نرینه نومونه ډیرګړي کوي ، لکه : خره ، غله ، دښنه ، مله ، مړه ، وازره ، پښتانه ، شپانه ، خوازه ، تراخه (ترخه) ، زړه (زړه) ، ماغزه ،

٤ــ لنډه ي (ī) ، هغه نومونه ډیرګړي کوي چې په نرمه ی ay پای وي ، لکه نرګي ، سړي ، ځلمی ، ښښتی ، غویی ، ویی ، توکی ، پیاوړي ، روي ، ګوي (غانبی) ، غانبی ،

د دي روستاړي پلګړ ان اوونه هم لږ و ډېرراځي لکه ځلمیان غویان ویینه خوریـــــونـــــه ۰

۵ــ یان چې دان بلګړ دي او ځینې غبرګغږپاي‌او خپلواکپاي نرینه نومونه ډیرګړي کوي‌لکه میرزایان، اشنایان، سویان ۰۰۰۰

٦ــ ګان چې دان یو بل بلګسـړ دي اوځینې خپلـواکپاي نرینه نومونه ډیرګړي کوي لکه سندرهاګان، لاتوګان، کدوګان، ټټوګان، ماماګان، کاکاګان، لالاګان، بیرړاګان، پلاګان (پلرا)، پوهاګان ۰

پیدوده لکه میلمانه، زامن ۰

ب ــ دښځینه ګڼي (جمع) نښې په‌دې لاندي ډول دي :

۱ــ اوزده (ې)، هغه ښځینه نومونه جمع‌کوي‌چې په زوریا زورکي پاي ته رسي لکه : منـې، پزې، خولې، ویالې، وړانګې، خانګې، سانګې (نیزې)، پانګې، ډیوې، شړډې، سکروټـې، پلې (پې)، توکی تکالې، غلې، ملې، خرې ۰۰۰۰

۲ــ زورکي واله ی y ے، هغه ښځینه نومونه ډیرګړي کوي‌چې په لنډه ي پاي ته رسیدلي وي، لکه ودانۍ، خپلوۍ، ښادۍ، ناروغۍ ۰۰۰۰

۳ــ وې wo هغه ښځینه نومونه ډیرګړي کوي‌چې‌په الف یا اوزده (و) پاي ته رسي، لکه ژړاوې، خنداوې، ملاوې، نخاوې، زانګووې، پیلبوې، ښکالووې، پیـــــرزووې ۰

باګړیې ګانې هم راځي لکه شاګانې، نخاګانې، برېښناګانې، زانګوګانې، پیزوګانې، همداراز ورندارګانې، نندرورګانې ۰۰۰۰

٤ــ آنې، زیاتره هغه ښځینه نومونه ډیرګړي کوي‌چې پاي ته‌یې لنډه ي راغلې وي لکه بیبیانې، شادیانې ۰ او دیوي بلې نښې (یندي) دبلګړپه توګه، لکه : ډویانې، مزدورانې، تروړانې (ترینـدي)، مورانې (میندي) ۰۰۰۰

۵ــ یندي، هماغه بیواکیایه خپلوان نومونه ویرګړي کوي چې ورسره لنډون موس لکه میندي، خویندي، نږیندي، ترېندي ۰

۶ــ صفر د امانا چې په زورکې واله ځ باندي پای‌نومونه بې له کوم نښې د ویرګړي په توګه هم راځي، لکه: کړ کړ، چلې، ووږځ، شپلې، ټېږځ (واسکټ)، بلګړیس (یانی) هم یو څه دودلري ۰ لکه: کړکیانی، چلیانی، کوچیانی، موچیانی، کبلیانی، کچنیانی، چینکیانی، تروړیانی (ترورځ) ۰

بې دوه (مستثنی)، لکه: نجونی او نجونه، لونړی ۰

۳ــ پیر (حالت)، چې نوم په خپل چاپیریال (غونډ یا غونډ له) کې څه حالت لري ۰ لکه (پلوشه راغله، پلوشي ووږځ وخوړه، د پلوشي وروړ ناروغ دي، له یوه لاسه تک نه خیژي) د لته ګورو چې (پلوشه، یو اولاس) څنګه خپل حالتونه او بڼې بدلوي ۰ په پښتو کې د یوه نوم پیرد کړ وال چار (فعلی عملی) اوونیکو (اداتو) له مخې څرګندیږي او د پیرنښې یې هماغه پایلې یا روستاړي دي چې په پای پوري یې نښلي ۰ نومپیرونه په داوروسته ډولونو دي:

۱ــ کړندپیر (فاعلي حالت) لکه څلمي ووږځ وخوړه ۰ څلمي راغی ۰ څلمي ووږځ خوري ۰ په د ریوارو غونډ لوکې څلمي کړند پیرلري یا په بله وینا په د ریوارو ځایو کې څلمي کړند (فاعل) دي ۰

۲ــ لنډ کړي پیر (بې واسطه مفعولي حالت) لکه: بارک اوبه وڅښلې ۰ بارک پلوشې ته لیکی (کتاب) ورکړ ۰ خوارک پلوشه ووهله ۰ په دې غونډ لوکې (اوبه، پلوشه اوپلوشه) لنډ کړي (بې واسطه مفعولونه) دي یا په بله وینا لنډکړي پیرلري ۰

۳ــ لرکړي پیر (بالواسطه مفعولي حالت) ۰ لکه: ببرک زمرک ته لیکانی ورکړ سنګ اڅک ته خبره وکړه ۰ غرزي ماته روښسې ژبه رازده کوي ۰ په دې غونډ لوکې زمرک

څخه او (ما) ترکړي دي يا په بله وينا دغه دريوارو نومونه لرکړي پيرلري او په هدغسي غرنداسو کي (ايکاني ، خبره او رومي ژبه) لنډ کړي بلل کيږي ، يا په بله وينا دغه دريوارو نومونه لنډ کړي دي .

۴ـ لرښودن پير (الى حالت) ، داهاغه چي ديوه لوښتين يا الى په وسيله يوکار ترسره شوي وي لکه ؛ توريالي په بياتي زړل شو ـ بريالي په ليکاني يو ليک وکيښ ـ ګلخانګه په کاشوغه ډوډۍ خوري ، په تخره د رو بيلګو کي (بياتي ، ليکاني او کاشوغه) لوښـــــن يا الى نومونه دي او په دي توګه لرښودن پير لري .

۵ـ تونپير (اضافي حالت) ، هغه نوم چي يو شه وريوري اړه لري ، تولنوم (مضاف اليه) ګڼل کيږي او تول پير (اضافي حالت) لري ، لکه ؛ دوبالى اوږه ښي دي ، د زمري کور ښکلى دي ، د اسمان ستوري په وريځ کي پټيږي ، (وبالي ، زمري او اسمان) تولنومونه دي يا په بله وينا دغه د رونومونو تولپير غوره کړي دي .

۶ـ رتون پير (منشايي يا مفعول منه حالت) ، داهاغه چي يونوم ديوه کار پيلېځ (منشا) ګرځيدلى وي ، لکه ؛ له کندهاره راغلم ـ له ښوونځي زيږي ـ له بدو وانه زيږي ، پلته (کندهاره ، ښو او بدو) رتون پيرلري .

۷ـ تون پير (داپير ، يامکاني او زماني حالت همدارنګه مفعول اليه يا استقامتي او معيتي حالت) ، هغه مثال نوم يا ځاينوم چي ديوه کار ظرف ګرځيدلى وي او يا ورته يو کار متوجه شوي وي ، تونوم بلل کيږي او په دي توګه تون پيرلري ، لکه ؛ په کور کي ځوک نشته ـ په شپه کي خلمک لږ ګرځي ـ زه د ورځي کار کوم ، دلته (کور ، شپه او ورځ) تونپير يا ظرفي حالت غوره کړي دي .

۸ـ بلن پير (ندائيه حالت) ، کله يوه نوم ته بلنه يا غږ شوي وي ، بلننوم (منادا) بلل کيږي او حالت ته يي بلنپير وايي ، لکه ؛ يه هلکه ! يه خلکو ! وا ځلميه ! ...
(هلکه ، خلکو او ځلميه) بلن پيرلري .

یادښت : که یوه نوم په کوم پورتنی پیرکی خپلی بڼی ته بدلون ورکړي وي ۰ او ښتی نوم بدل کیږي یا په بله وینا هغه نوم اوښتی پیر (مغییره حالت) لري او که اوښته یی نه وي موندلی نو ارنوم ورته وایی او حالت یی ارپیر (اصلی حالت) بلل کیږي ۰

دنوم پیر (اسمی حالت) نښی (پایلی) ، زیاتره له ګڼی (جمع) هغو سره سمون لري ۰ لکه خلمی – دخلمی ، پلوشه – دپلوشی ، شپون – د شپانه ، غل – غله ۰۰۰ پرته له ان اووي او د هغو له بلګرونو (لیوان ، سیندونه ، بیبیانی ، شادیانی ، ژړاوي) او د بیواکپایو ښځینه نومونو (میندي) ۰

ډیرکړي (جمع) نومونه بیا په یو مخیز ډول خپل اوښتی پیر په (و) ښیي ۰ لکه : دښځو – سړیو – هلکانو – خویندو – بریښناګانو ۰۰۰۰

په دي توګه په ان ، وي ، ونه ، انی ، یندي او د دوي په نورو بلګړو نو (الومورفونو) جمع کیدونکی نرینه او ښځینه نومونه له (بلن پیر) پرته نوره او ښتنه نلري ۰ البته په بلن پیرکی بیواکپای نومونه خپل پای په زورونو (فتحو) روستاړي کوي ۰ لکه په هلکه ! یه موري ! یه پښتنو ! داوښتونکو نومونو فورمول په دي ډول دي :

زه ، ته (دحال مفعولیت پرته) ، دي ، دا ، هغه ، څوک ، سړي ، ښځه ، پښتون ۰۰۰۰

– وییکی (ادوات) یادلیزند تیرمهال کړند والی (متعدي ماضی فاعلیت) = ما ، تا ، ده ، دي ، هغه (په زورکی) ، هغی ، چا ، سړي ، ښځی ، پښتانه ۰۰۰۰۰

نا اوښتونی (تغییر نه موندونکی) نومونه : ځینی داسی نومونه شته چی په یو ګړي بڼه په اتو واړو پیرونوکی کوم جولیز اوښتون (تغییر) نه مومی او هغه دادي :

ا – الف پای نومونه : لکه کاکا ، ملا ، دادا ، پښتیانا ، اریانا ، پکتیا ، سبا ، یما ، کیشکا ، لورتیا ۰۰۰۰

٢ـ و ـ پای نومونه (لنډ یا اوږده)، لکه زانګو، بیزو، درخو، تتــو؛

٣ـ دړنه ی ـ پای نومونه، لکه: نجلۍ، لیونۍ، خوګه، سپوږمۍ ...

٤ـ زورکي پای نومونه، لکه: نیکه، تره، زړه، وراره، واده ....

٥ـ ځینې زوړپای (ستاي) نومونه چې هم ښځینه کارېږي او هم نرینه او ځانګړي له درې سره ګډون لري، لکه بابا، بابه (بریان) ښایسته ـ ساده ـ پیاده ـ شهزاده، ملامه، ګناه، غوبه، بوړه ..... پواځې دپاس پیرله مخې.

١ـ زنانه بیواکپای ښځینه او ښځه یا کپای نرینه نومونه چې په زورکي نه بدلېږي کېږي لکه: په مړي! په تربوري! په خوري! په وروره! په پلاره!

٢ـ وي غبرګغږ ـ پای نومونه لکه: په زویه! په پرهندویه! په ساتندویه! لویه! سویــــه!

٣ـ زي غبرګغږ ـ پای نومونه لکه: په بریه! په خویه!

د نومونو څلورګونې ډلــــې:

لومړی ـ څیز نوم (اسم):

څیز نوم چې د ویز (عینیت) ژبپوهان ((اسم)) بولي، یو داسې نوم دی چې نیغ په نیغه د یوه څیز یا ښکارندي (پدیدې) نومونه (نامګذاري) او څرګندونه کوي او داورسته ډولونه لري:

١ـ څیز نوم (ذات اسم): چې په یوه ننګیرېدونکي (حس کېدونکي) اړه لري، یا په بله وینا داسې یو څیز نوموي چې زموږ په حواسو حس کېدای شي، لکه ډبره، لرګی، اوبه، هوا او داسې نور.

٢ـ مانا نوم (معنا اسم) چې په یوه نه ننګیرېدونکي (غیر محسوس) څیز یا په لنډه وینا په یوې ښکارندې (پدیدې) پورې اړه لري او هغه نوموي، لکه ښایست، ښتیا،

روغتيا ، هيله ، ننګ ، پت ، ميړانه ، پياوړيتوب ، رخه (کينه) ، خوښي ، خوږ (درد) ، ويره ، زغم ، انديښنه ، لوبي ، درناوي ، سپکاوي ، ښيګڼه ، بدي ....

٣ـ ځانګړنوم (خاص اسم): چې يو ځانګړي شيز ، پديدې ، وګړي يا ځاي نوموي ، لکه پښتو ژبه ، پښتو نواله ، خوازك ، زرمينه ، ننګرهار ، کندهار ، پکتيا ، هند ، ايران ......

٤ـ ټولنوم (عام اسم) . داس شيز يا ښکارنده نوموي چې ځانګړي او خاص نه وي بلکه ډولونه او ځيلونه ولري . لکه ونه ، هلك ، نجلۍ ، هيواد ، څاروي ، وګړي ، اولس ، ترون ، ژمنه ....

٥ـ نوز نوم (جنس اسم): چې په يوه شميريدونکي شيز (جنس) اړه لري . لکه : زر ـ اوبه ـ اوسپنه ـ اور ....

٦ـ غونډنوم (جمع اسم) : چې يوه ډله او غونډه نوموي . لکه ټولي ، ټولګـــــي ، ګوند ، ټبر ، ګورم (پاده) ، رمه ......

٦ـ انګينوم (صوت اسم) : چې د طبيعي يا مصنوعي اوازونو انګې يا انګازه (پژواك) نوموي . لکه : درز . دروز . درزې . درزا . درزهار . ګرب . ګروب . ګربې . ګربا . ګربهار . ترپ . تروپ .....

دويم ـ ستاينوم :

ستاينوم (صـــفت) چې په خپلواك ډول څه نه نوموي بلکې د يو څه څرنګوالی نوموي يا په بله وينا يو ستاينوم په يوه شيز نوم اړه لري او هغه څرنګوالی ښيي ، لکه تود ، سوړ ، غټ ، ووړ ، تور ، سور ، ښکلی ، ښايسته ، غښتلی ، کمزوري ، روغ ، ناروغ ....

په پښتو کې ستاينوم د لوړتيا دپوړونو يا د لړ والی ، ډيروالی ، سستوالی او تونډوالی بيلا بيلی ښکاره د ريګونی درجی نلري لکه په دري ژبه کې په ـ بهتر ـ بهترين يا بزرګ ـ بزرګتر ـ بزرګترين

له دې کبله یو پښتو ستاینوم د ووییکو (اداتو) په ملتیا خپل پوړونه یا درجـــــې او طبقې ښکاره کوي لکه ښه ــ ډېر ښه ــ لاډېرښه یا سپین ــ ډېر سپین ــ خوراسپیـــن ــ ترټولو سپین ــ زښت زیات سپین اوداسې نور .

د ستاینوم ډولونه :

ستاینوم په دوه ډوله دي ، لنډ او لـــږ .

لنډ ستاینوم ، هغه دي چې ترڅیز نـــوم دمخه اوورسره جوخت راځي اولنډ په لنډه یې ستاینې ، لکه توره (ډ) ه ، روغ سړي ، ښکلې نجلۍ .....

لږستاینوم ، هغه دي چې ترڅیزنوم وروسته راځي او له کړوالي برخې(مسند) سره پیوستون لري . که څه هم هماغه څیزنـــوم ستاینې . لکه : دړه توره ده ــ سړي روغ دي ــ نجلۍ ښکلې ده ......

لږستاینوم زیاتره دکړول (قید) په توګه هم کارول کیږي لکه : هلک (پلی) راغـــی ــ اسمان په ستورو (ښه) ښکاري ــ پلوشه (ښکلې) پرېښې ــ زه کورته (ډېر) ځم .....

دستاینوم اونستایلی (صفت او موصوف) ګرداني سمون :

په پښتو کې ستاینوم (لنډ یالږ) اوستایلی یا هغه څیز نوم چې ستایل کیږي . دنوم اوړ ون د د روګونو اړخو (نوزې ــ ګنـــې ــ پیر) له پلوه سره زیاتره سمون لري لکه : ړوندغل ــ ړنده غله ــ ړانده غله ــ ړندې غلې ــ دړانده غله ــ دړندې غلې ــ دړندو غلو ....

یا په نابشپړ ډول اویا ترټولزه دیوه یا دوواړخوله پلوه ، لکه : لوی غل ــ لویه غله ــ لوی غله ــ لویې غلې ــ دلوی غله ــ دلویې غلې یا سپین غل ــ سپینه غله ــ سپین غله ــ سپینې غلې ــ دسپین غله دسپینې غلې ــ دسپینو غلو ....

په دې توګه ځینې ستاینومونه له خپلو اړوندو (مربوطو) څیزنوومونو (ستایلیو) سره بشپړ اوړ ون موس او ځینې نیمګړي . لکه په ــــه دې لښتیلیک (جدول) کې :

شين ښځکـــــې	ـ	شنه ښځکـــــې
د شنه ښځکـــــې	ـ	د شنو ښځکيـــــو
شنه هندوانــــه	ـ	شنې هندوانــــې
د شنې هندوانــــې	ـ	د شنو هندوانــــو

دریم ـ شمیرنوم (عدد اسم) :

شمیرنوم هم د ستاینوم غوندې په خپلواک ډول کومه نوموَنه نه کوي بلکې په يوه شیز نوم اړه لري . خـــو د ستاینوم غوندې یې څرنګوالی نه چې څومره والی او پوړوالی (تدرج) ښيي . لکه يو ـ دوه ـ درې . . . . یا لومړی ـ دویم ـ دریم . . . .

د شمیرنوم او شمیرلی (عدد او معدود) ګردانې سمون :

په پښتو کې شمیرنوم لکه لنډ ستاینوم تر خپل اړوند شیز نوم (شمیرلی) د مخه راځي او ډیر لږ ورسره اوړون مومي . هغه دا چې لومړي دوه (یو) او (دوه) ورسره د نوزې او پیرله مخې ګردانیږي او نور پورته ورسره یواځې د پیرله مخې ، لکه په دې لښتیلیک کې :

یوغل	يوه غله
د یوه غله	د یوې غلې
دوه غله	دوې غلې
د دوو غلو	د دوو غلو
درې غله	درې غلې
د درو غلو	د درو غلو
څلور غله	څلور غلې
د څلورو غلو	د څلورو غلو
. . . . . .	. . . .

د شمیرنوم ډولونه :

شمیر نوم د اوروسته ډولونه لري :

١ــ آر شمیر (اصلي عدد) لکه یوــ دوه ــ دري ــ څلور ....

٢ــ پوړ شمیر (وصفي یا رتبي عدد) چې د خپل شمیرلي پوړ اورتبه ښیي لکه :

لومړي ــ دویم ــ دریم ــ څلورم .....

٣ــ ووړ شیمر (کسري عدد) ، چې داړوند څیزنوم (شمیرلي) ماتوالی اوبرخه والی

ښیي لکه دویمه ــ دریمه ــ څلورمه ......

لس (دهه) سل (سده) زر (هزاره) یوډول گروپي شمیر نومونه دي .

٤ــ ویش شمیر (انقسامي عدد) چې داړوند څیزنومونو ویشنه او جوړه جوړه

کونه څرگندوي اوپه دي توگه د ووړ شمیرغوندي له ډیرگړیو (جمع) څیزنومونو سره اړه لري نه

له یوه سره ، لکه : یو یو ــ دوه دوه ــ دري دري ــ څلور څلور ....

(ــ اټکل شمیر (تخمیني عدد) چې دیوه څیزنوم (معدود) پرځاي غبرگ غبرگ څیزنومونه

ښیي . اوبوهم نه ټاکي لکه : یو دوه ــ یودرې ــ دوه دري ــ دري څلور ــ یولس ــ لس شل ــ

شل دیرش ــ پنځوس شپیته ..... په دي توگه اړوند څیزنومونه د دواړو شمیرنومونو

ترمنځ اټکلیداي اوډیریداي (انتخابیداي) شي ، یا لومړي یا دویم اویا دهغو ترمنځ .

دغه جوړه جوړه شمیرنومونه زیاتره پرله پسې وي لکه یو دوه ــ دوه دري اویا په یوه ټاکلي

اوعام متلي واټن سره لکه اته ــ لس یالس شل مگر ښایي هیڅ یو پښتون دوه څلور ــ دري

پنځه ــ څلور شپږ .... ونه وایي . البته (یو) له هرپورته شمیر سره جوړه کیداي شي

خو هغه هم زیاتره د پیژند (حرف تعریف) په توگه چې اټکل ورسره په څرمه (ضمني) ډول

هم څرگندیږي .

څلورم – نومځري (ضمير)

نومځري هغه وي دي چې د يوه نوم ښکارندوی کوي، د هغه پرځای راځي او يا يې ملګرتيا کوي. او د همدغې دندې له مخې د نومونو په ډله کې ځای نيسي. له نورو نومونو (څيز نوم – ستاينوم او شميرنوم) سره د نومځري توپير دا دی چې دا پر درو ګونو اړخو (نوزي – ګڼې او وير) سربېره د وګړي (لومړي – دويم او دريم) له مخې هم اوړي اوړون مومي. (وينفريد اولريش دژپوهنې قاموس ٩٤٢).

د نومځرو ډلونه: نومځري د جولې او چارله مخې پر دې وروستيو ډلواو ډلو وېشل کيږي.

۱ – ځانګړ نومځري (شخصي ضميرونه)، چې دوه ډوله دي: غښتلي – کمزوري:

الف – غښتلي (منفصل):

وګړي / ګڼه		يوګړي (مفرد)		ډيرګړی (جمع)
۱		اريير	اوښتي پير	موږ
		زه	ما	
۲		ته	تا	تاسې
۳	نرينه	دی هغه	ده هغه	دوی هغوی
	ښځينه	دا هغه	دې هغې	

ب – کمزوري (متصل):

وګړي / ګڼه	يوګړي	ډيرګړی
۱	مې	مو
۲	دې	مو
۳	يې	يې

۲ــ تولنو مخري (ملکي يا اضافي ضميرونه)۰ چې تول (ملکيت) اواړوندي (متعلقيت)

ښيي ۰ دغه تومخري هم پرغښتليو او کمزوريو ويشل کيږي :

الف ــ غښتلي (منفصل) :

وګړي / ګڼه	يوګــړي		ډيرګــړي
۱	زمــــا		زمــوز
۲	ستــــا		ستاســـې
۳	نرينه	د ده	د دوي
	ښځينه	د دې	

کمزوري تولنومخري کټ مټ دنحانګړيو کمزورو هغو غوندې دي لکه :

وګړي / ګڼه	يوګــړي	ډيرګـــړي
۱	مې	مو
۲	دې	مو
۳	يــې	يــې

۳ــ نغوتتومخري (اشاري ضميرونه) : هغه تومخري چې وګړو ياشيزونوتــه

نغوته (اشاره) کوي او د هغو د نومونو ځاي نيسي اوپا ورسره لکه ستاينوم ملګرتيا کوي نغوتتومخري

دنوزي ــ ګڼې ــ پير ــ او يواځې د دريم وګړي اوواټــن (فاصلې) له مخې اوړ ونلري :

وګړي / ګڼه		يوګــــړي: اريبــر	يوګــــړي: اوښتي پير	ډيرګــــړي: اريبــر	ډيرګــــړي: اوښتي پيــر
۱	لنډ	دغه	دغه ه	دغه	دغــو
		دغه	دغــې		
	لر	هغه	هغه ه	هغه	هغو
		هغه	هغې		
	لالر	هوغه	هوغه ه	هوغــه	هوغـــو
		هوغه	هوغــې		

٤ــ پوښتنو مخري (استفهامي ضميرونه): چې د يوې پوښتنې لپاره په کارلوييږي او د وګړي ــ شيز ــ مهال ــ تون ــ څرنګوالي او څومرهوالي له مخې ډول ډول دي .
او پر ون يې زياتره پواځې د پيرله پلوه لږو ډيرترسره کيږي :

ــ څوك (چا) : چې د وګړي يا وګړو لپاره راځي چې څه يې کړي يا يې کوي يا پري څه شوي يا کيږي . اوزياتره د پوښتنې غونډلو (جملو) په سرکې راځي .

څوك راغی ـ راغله يا راغلل؟ ـ څوك ځي؟ ـ چا ويل؟ ـ څوك وايي؟ ـ څوك يې وواهه؟ ــ ووهله يا ووهل؟ ـ څوك ووهل شو؟ ــ ووهل شوه؟ ــ ووهل شول يا ووهل شوي؟ ــ څوك وهل کيږي؟

څوك دا ډيك اونا ټاك نومخري په توګه هم کارول کيږي او همدارنګه د پيژند (حرف تعريف) کار هم ورکوي لکه څوك مې وليد ــ نن يو څوك راځي .

ــ کوم : د وګړي يا وګړو ــ شيز يا شيزونو لپاره راځي چې د نورو پوښتنو مخرو پرخلاف پر پيرسربيره د نوزي له پلوه هم اوړ ون لري . لکه په دې وروستيو غونډلو کې :

کوم سړي راغی؟ کوم سړي ووېل؟ د کوم سړي رنګ زيړ وي؟ کومه ښځه راغله؟ کومې ښځې ووېل؟ د کومې ښځې رنګ زيړ وي؟ کومو ښځو ــ سړيو ووېل؟ د کومو ښځو ــ سړيو رنګونه زيړ وي؟

ــ کله : چې مهال پوښتي او هيڅ اوړ ون نلري . لکه کله به راشې ؟

ــ چيري : چې تون (ځاي) پوښتي او هيڅ اوړ ون نلري . لکه چيري ځې ؟

ــ څنګه : چې د يوه وګړي يا شيز يا يوه چار څرنګوالي پوښتي . لکه څنګه راغی؟ څنګه راغله؟ څنګه کار دي وکړ؟ څنګه نجلۍ دې وليده؟ څنګه ليکې دې ويېره؟

ــ څه : چې زياتره د يوه شيز يا وګړي پيژندنه پوښتي اوزياتره په ډيرګړي او نوز نوم (جنس اسم) پوري اړه لري ، ښ له دې چې خپله ښه واړ وي . لکه : دا څه دي؟ دا څه دي؟ څه دې وکړل؟ څه دې راوړل؟ څه يې نرخ دي؟ څه يې ارزښت دي .

ــ څو : چې د وګړو يا شيزونو شمير پوښتي نو ځکه تل ډيرګړي دي لکه :
څو نجونې راغلې؟ څو هلکان راغلل؟ څو ختونه دې وېيرل؟ البته څو په يوه بله مانايو کړ ول (قيد)

هم بیي لکه خونه ... نه راځم چې څینې لیکوال په نامسم بوول دعلتیه ویسکي په توګه

هم کاروي لکه ... رمل وخوړه ... څو (چې) زوغ شیه ...

... خوړه ؛ چې زیاتره د څېړونو ، وګړو شمیر او د جنس (نوزي) او همدا راز

د څېړنګوالو ... کیفیت ... پوښتنې ، لکه ... :

... خوړه ... شاګردانو ... وایي خوړه غنم دي ویلورل ؟

خوړه ... دي ؟ خوړه ...

ولي ؛ ... دیوه چار ... اصل اونوښ (عامل اوسبب) وپوښتي ، لکه :

ولي ... ؟ ...

... ولي ... هغه ... دي چې له اره دیوه کړ

او چار ... (...) د ... نو محرو کار هم ورکوي او

هغه هم په ...

... دیوه وګړي (یوګړي یا ډیرګړي) ښکارندوی

ګـــــــړي :

ګړنه / وګړي	یوګړي	ډیرګړي
۱	را	را
۲	در	در
۳	ور	ور

۳ـ ... (اداتي ضمیرونه) ، چې له ویـکو (اداتو) څخه منځ ته راځي

او د اړوند اداتو له ... سره سم ... ځاي نیسي :

... (دراز) چې ... په ... لکه :

باغ ته راي د ګلونو ... (خوشال) ،

ــ پس (بسویش) چی نوم په تونپیرکی بنیی لکه د زهرو گولی خورم پس (ملنگ جان) ۰

ــ باندې (بالایش) چی یو نوم په تون اوهغه هم په پورتنی (استعلایی) پیرکس بنیـــــــی لکـــه :

گل وای غوړیدلی باندې ملاست وایږه اوته (خوشال)۰

ــ پرې (بران) هم (باندې) ورته د نده پرځای کوی لکه :

ماپرې سرکیښود ــ پیس می پرې پورد ی ۰

ــ پسی (به‌ان) چی (په اوپرې) هم ویل کیږي په یوه لوښنی (الی) پیرکس دیوه نوم ځای نیسی اوله (پرې) سره یی په دې غونډه لوکی تویير کولای شو :

زه په پښتو لیکه کوم (من په پښتو می نویسم) زه پرپښتو لیکه کوم (من د رباره پښتومی نویسم)۰

ترې (ازان) چی یونوم په وتون او تون او هغه هم په کښتنی (استفلایــی) پیرکی بنیی لکه :

ماترې واخیست ــ ماترې لاندې کیښود ځینی له دغوویکونمځروسره پلوی نومځری هم مختیارې کیدای شی لکه را ــ د ر ــ وریاندې ۰۰۰ مگر دوریکی پرځای (ورکی) ویل کیږي لکــه له نورو اوسرپلوسره (ورلاندې ــ ورته ــ ورسره ــ ورځخه ۰۰۰)۰

۷ــ اړیک نومځري (ارتباطی ضمیرونه) : چی په یوه غونډه له کی د تیری یا راتلونکی غونډه لی له یوه څیز نوم یا نومځري سره راز راز اړیکی ټینګوي ۰ په دې توګه په دې وروسته ډولـــو ویشل کیـــږي :

ــ چــی : لکه خوازک چی د ببرک وررور د ي ؛ ننګرهار ته ولاړ ــ ننګرهار یوښیمه د ه چی تود ه هوالري ــ زموږ هیواد په داسی ځای کی پروت دي چی سمندرته لارنلري ــ هغه کال ډ یرودان وي چی ډیر اوربښت ولري ــ زموږ هیواد د ومره ښکلی د ي چی له سویس سره سیالی کوي ۰ زه د ومره کتابونه لرم چی له شمیره وتلی دي ۰

ــ چی یـــــی : یوترښتی (ترکیبی) یاد وه توکیزه (د وه جزیی) اړیک نومځري دي ؛ چی هم په تیره غونډه له کی له راغلی نوم سره اړیکی ټینګوي اوهم د هغه کړندوالــی (فاعلیت) ؛ کړیوالی (مفعولیت) اوتولوالی (ملکیت یا اضافت) څرګندوي ۰ لکه : پکتیایوه داسی سیمه ده چی یی ځنګلونه نوم لري ــ سنګ ځکه بریالی شو چی یی زیار ایستلی و ــ ماشوم هله په ژړا شو چی یی مور ورواهه ۰ په دې وروستی غبرګه غونډه له (مضاعفـــه جمله) کی

(چي ښي)هم له (هغه) سره اړيکي ښيي اوهم دماشوم کړيوالي (مفعوليت) او تولوالي (ملکيت له مور سره)۰

څوک چې : يوبل تړښتي اړيک نومځري دي چې يوازې هغه وخت د څرمه غونډلې (فرعي جملې) په سرکې راځي چې تر آ ري دمخه وي نوځکه وايو(څوک چې خوب کوي نري کټ نه زيږوي)نه داچې ووايو :(نر کټ نه زيږوي څوک چې خوب کوي يالکه اجمل خټک چې وايي : (ځي ۰ هغه خوا روته جنت وګټو څوک چې له موره دوزخيان پيدادي)۰ د دي ګرامري ښه دا ښي مفيد اي شي چې دويمه (څرمه غونډله) پر لومړ ی (اري غونډلې) دمخه کړو(څوک چې له موره دوزخيان پيدادي ـ ځي هغه خوا روته جنت وګټو) اويا داچې څوک تري وغور ځوو ۰ په دې ډول د تورو ژبو لکه اروپايي هغو په پيوند نا سمو ۰ غونډلو ښيلګې دادي :

غرزي کند هار ته ولاړ څوک چې هلته خپلوان ګوري پتنګ په لومړي ګڼه بريالي شو چاچې زيار ايستلی و ۰۰۰۰۰۰

مړ يـــــــن : غرزي کندهار ته ولاړ چې هلته خپلوان وګوري ـ پتنګ په لومړي ګڼـــــه بريالي شو ۰ چې يې زيار ايستلی و ۰۰۰۰۰۰۰۰۰

همد اراز چيري چې ـ کله چې ـ کوم چې ـ څه چې ـ څوچې ـ څومره چې ۰۰

پواخله ۰ لکه په دې غونډلو کې : غرزي کند هار ته ولاړ چيري چې خپلوان ګوري ـ زه هيواد ته هغه وخت را ستون شوم کله چې ډيره وچوبه وه ـ مايو ليکانې واخيست کوم چې ښه کار کوي ـ کار ښه دي څه چې نيکمرغي راوړي ـ پنځه کتابه مې واخيستل څوچې زما په کاروو ـ د ده ښه غنم مې وپيرل څومره چې مې پيرلاي شول ۰۰۰۰۰

سمـس ښيـس يې : غرزي کندهار ته ولاړ چې خپلوان وګوري ـ زه هيواد ته هغه وخت راستون شوم چې ډيره وچوبه وه ـ مايو ليکانې واخيست چې ښه کار کوي ـ کار ښه دي چې نيکمرغي راوړي ـ پنځه کتابه مې واخيستل چې زما په کاروو ۰۰۰۰۰

په دي ډول پښتو له آره هم دا يو (چې) هم د اړيك ويکی په توگه كاروي او هم يو، د اړيكـــــــــنومځري په توگه او د پورتنيو پو ښتنو مځرو (څوك ـ كله ـ چيري ٠٠٠٠) ملگري كول ورسره بې ځايه دي په تيره په آره غونډه له اړيانه د اسې ځرمه كې چې تر آري وروسته راځی ٠ البته څوك ـ كله چيري اونور پوښتنو مځري چې له (چې) سره ملگري كيږي يواځی د اړيكو ييکو (ارتباطي ادات) چار څرگندوي نه د اړيکو مځرو ؛ لكه ! څه چې کړي هغه به ريبـــــــي ـ ځنگه غرهس يې كړيوړي ـ هله به خبرشې چې تارو جبې له ورشې ـ چيري دي بښـــــــه هلته دي شپـــه ! څومره چې گوره اچوي هومره خوږيږي ٠٠٠٠٠

٨ـ غبرگون نومځري يا انعكاس ضيرونه :

هغه نومځري دي چې ډيره چار هم كرند اوس او هم كړي په پښتو كې د اراز نومځرينومونو يا ځانگرنو مځروسره د ((ځان)) په ملگري كولو لاسته راځی چې زياتره په همدې يوه يوگړي (مفرده) بڼه هرځاي را تلاي شی لكه : ځلمی ځان ژوبل کړ ـ ځلمی او زمري ځان (ځانونه) ژوبل كړل هغهځان ژوبل کړ ـ هغوي ځان (ځانونه) ژوبل كړل ٠ دپوره څرگندتيـــــــا لپاره له ځان سره (خپل) هم ملتيا كوي لكه هغوي خپل ځان ږغوره ٠

٩ـ ناټيكمنو مځري (ابهامی ضميرونه) : چې ډيوه ناجوت (نامعين) وگړي ياشيز لپاره راځی او دبيلا بيلو دندو له مخی په لاندي ډولو دي :

ـ هر ؛ چې زياتره په يوگړي اړه لري او دنوزي او پير له مخی لږو ډيراوړون لري ؛ لكه هر ځلمی ـ هره پيغله ـ هرخت (كميس) ـ هره گنډ ۍ (كرتی) ـ هري پيغلی ٠ په اونستی ډيرگړي کی لكه هرو پنځوشاگردانو ته يو يو ليكی ورسيد ٠ يا ژره په هرو دوو اونيوكی سينمـــــا ته ځم ٠

ـ بـــــــل : يواځی د شميريد ونکی يوگړي نوېرځاي راځی اويا ورسره دنځوتنر مځري غوند ې ملگرتيا كوي ٠ لكه : بل ځلمی ـ بله پيغله ـ د بل ځلمی د بلی پيغلی ٠٠٠٠

ــ نو ر : یزاخی د ډیرګړي یانوز نوم(جنس‌اسم)ښکارندوین اوملګري کوي

اوځه ناځه اوړون لري لکه نور هلکان ــ نوری پیغلی ــ نورغنم ــ نوره وسپنه ــ نوره خاوره ــ

نورې اوبه ــ دنورو هلکانو ــ دنورو پیغلو ــ د نورو غنمو ــ دنورې وسپنې ــ دنورې خاورې ــ

دنورو خاورو ــ دنورو اوبو ۰۰۰۰۰۰

ــ ټول : دنورغوندې په ډیر ګړي او نوز نوم اړه لري اوله لوېدیزي پښتو

پرته هماغس اوړون موس لکه ټول هلکان ــ ټولی نجونی ــ ټول تیل ــ ټوله خاوره ــ

ټولی خاورې ــ ټولو هلکانو ــ د ټولو هلکانو ــ ټولو نجونو ــ د ټولو نجونو ــ د ټولو تیلو ــ

د ټولی خاورې ــ د ټولو خاورو ۰۰۰۰۰۰

ــ واړ ه : د ټول همانیزدي خوبواځی د نوزي او پیرله مخی اوړون او اوښتون

موس ــ لکه واړه هلکان ــ واړي نجونی ــ واړو هلکانو ــ واړو نجونو ــ واړه خاوره ــ

واړي خاوري ــ دواړي خاوري ــ دواړو خاورو ۰۰۰۰۰۰

ــ دوا ړه : تل دوګړي (تثنیــه) دي او د (واړه)غوندې په نوزي (جنس) اوپیر

اړه نلري لکه : دواړه هلکان ــ دواړي نجونی ــ دواړو هلکانو ــ دواړو نجونو ۰۰

ــ څه : پرته له بوښتنو مخري سربیره یو ناوړیدونی ناټیك نومخري هم دي لکه :

څه می ولیدل څه نشته ــ چس نه کار هلته څه کار ۰ څه له نورو ناټیك نو مخرو او ځینو ستاینو

مونو سره ترښتی ناټیك نومخري جوړوي لکه : بل څه ــ نور څه ــ هرڅه ــ هیڅه (هیڅ څه)

لږ څه ــ ډیر څه ۰۰ همدا رنګه له پیژند (یو) سره لکه یو څـــه ۰

ــ څــو : هم پر بوښتنو مخري سربیره یو ناوړیدونی ناټیك نومخري دي لکه :

څو پیسی می په کار دي ــ څو میاشتی په کار دي چی زه کتاب ولیکم ۰ څو له پیژند او ځینو

ناټیك نومخروسره ترښتی ناټیك نومخري جوړوي لکه : یو څو ــ هر څو ــ هیڅو(هیڅ څه)۰۰

ــ ځینی : د ډیرګړي او نوز نوم ښکارندوین کوي لکه ځینی شاګردان ځینی شاګردانی

ځینو شاګردانو ۰۰۰۰

ـ هیڅ : دیوه ناټاکلی څیزیا څیزونو نشتوالی ښیی او کوم اوړون نلري ٠ لکه :
هیڅ هلك ، هیڅ هلکان ، هیڅ نجلۍ ، هیڅ نجونې ـ هیڅ هلکانو ـ هیڅ نجونو
هیڅ غنم ـ هیڅ غنمو ٠٠٠٠٠ له پیژندلیو) او زیاترو ناټیك نومځرو سره دلومړي ټوك
په توګه ترښتی (ترکیبی) ناټیك نومځري منځ ته راوړي لکه : هیڅ یو ـ هیڅه ـ هیڅو ـ
هیڅو مره ـ هیڅ کوم ـ هیڅ بل ـ هیڅ نور ـ هیڅوك ـ هیڅکله ـ هیچیري (هیڅ چیري)
هیڅ دواړه یا په دري ټوکیز ترنګ (دري جزئي ترکیب) کی لکه : هیڅ کوم یو ـ هیڅ کوم
څوك یا په څلورو ټوکیز ترنګ کی لکه : هیڅ کوم یونیم ـ هیڅ کوم یوبل ٠٠٠٠٠

ـ څوك : هم پرېوښتو مځري (او اړیك نو مځري) سربیره یوناټیك نومځري
هم دي چی هم د څیزنوم ښکارندویی کوي او هم د پیژند (ارتیکل) لکه : نن څوك راځی ـ
څوك یو کار کوي ، څوك بل ـ چا می لیکنی واخیست ـ څوك سړي راروان دي ـ څوك ښځه
می ولیده ٠ په نورو پیرونو کی لکه : چاته می لیکی ورکړي دي خواوس می هیر دي ـ له
چانه می لیکی واخیست بیا می هیرشو ـ خپل کار په چانه کوم ـ ځلمی له چا سره پرېوځلارنه ځی
زه څوك نه وهم ـ پرچا کار نلرم ـ څوك چی بل چاته کوهی کینی ٠ پخپله پکی لویېږي ـ
له ما سره د چاځه کار دي په شپه کی چاته ورتګ ښه نه دي ٠٠٠٠٠

له پیژند (یو) او ځینو نورو ناټیك نو مځرو سره هم ترښتی (ترکیبی) ناټیـــك
نومځري جوړوي ٠ لکه : یوڅوك ـ هرڅوك ـ هیڅوك ـ بل څوك ـ نور څوك ـ څوك سړي ـ
کوم څوك ـ کوم چا یا لکه پیښنو ریان چی وایی : چا ظالم می زړه پریکړه ٠

ـ سړي : پرڅیزنوم او ستاینوم سربیره یوناټیك نومځري هم دي اوتر بلن پیره
پوري په ټولو پیرووکی راځی لکه سړی دي ځه کوي چی څوك تري ونه ځوربزي ٠ بایـد
له سړي له لاسه داسی کارونه شی چی ورووسته پري پښیمان شی ـ دلته د سړي هره هیله
نه پرځاي کیږي سړي دي سړي ته ګوري او بیا دي ورسره هماغسی چلند کوي ٠ لومړي دي
سړی سړي ته پورته ورکوي او که وربی کړ بیا دي تري ژرنه غواړي ـ وسړیه ستاله چا سره
څنـــه کار ! له پیژند (یو) او ځینی نورو ناټیك نو مځرو سره ترنګونه (ترکیبونه) هم

جوړوي لکه یو سړی د یخوات را دروي — یوه سړي ته رازویل په کار نه دي — هرسړي (خو هر سړي پیدا دي خپل خپل کار لره کنه — خوشال) — هیڅ سړي نه ښکاري — سړي سړي سم کار نه پوېږدي — له خوازك پرته بل سړي مې ونه لید — څوك سړي زموږ خواته راځي — کوم سړي چې د سړي نه خوښیږي شه په کار چې پرمخه ورځي — څه سړي غرنډي را دروي ۰ یونیم سړي خپل زوند ته پام نلري — کوم نیم سړي مې ونه لید — کوم یونیم سړي رانغي ۰۰۰۰۰

— پلانی او بیستانی هم له عربی او دري (فلان — بستان) څخه پښتوشوي ناټیك نومځوي ښکاري ۰۰۰۰۰۰

— ګډ تولنومځــــــري (اشتراکی ضمیر) ؛ پښتو دري غوندي له ((خپل)) څخه چوتوروپاړوسوییره دیوه تولنومځري (ملکی ضمیر) کار هم اخلي او داچې د دروواړ و وګړ و لپاره راځي نو ګډ تولنو مځري (مشترك ملکی ضمیر) بلل یې غوره دي ۰ لکه ؛ شپون خپلــه رمه پیایي ، رمه خپل شپانه پېژوله — هرڅوك په خپل کار کی خوښ دي — ځینی خلك خپل ځان نه پېژني — ځلمی په خپله خونه کی کار کوي — خوازك خپل کورته ناوخته ځي — خوازك له خپل ورور سره ښارته ولاړ — بزیله خپلو ملګرو څخه منه وکړه — بریالی له خپلــې خوښی څخه نه اوړي ۰ ځینی پښپله ګناه نه پرهیزي خپل ویریږي او ناټیك ستاینوم په توګه هم کارول کیږي لکه خپله لاسه کله الاسه ! چې بیا هم پکی د تړل (ملکیت) جاج (مفهوم) پروت دي ۰ په تکراري ډول لکه په مخنی بیت کی (هو هرسړي پیدا دي خپل خپل کار لره کنه) خپل د نوزي او بیا له مخې بشپړ اوږون لري ۰ خود ګنهس له مخی نه ۰ له ((ځان)) سره غبرګون نومځري جوړوي لکه خپل ځان بې زویل کړ او له دي سره سره همغه تولوالی اوپیژندوالی ۰۰۰ هم څرګندوي ۰

— تول — ځانګړي نومځري (شخصی — ملکی ضمیرونه) چې دغښتلــیوتو لنو مځرو او غښتلیو ځانګرو یا نغوتنو مځرو په یرځاي کیږ و سره جوړیږي اوپه دي توګه پریوموخت

ددوو دوونو مخرو دنده پرغاړې کوي له همدې کبله دوه اړخيزاو ړون لري او هغـــه هم دنوزي ـ گڼې ـ پيراو وگړيله (مخې) چې ځانگړي ورسره يواځې په دريم وگړي اړه لري . لکـــه :

۱ـ تول نومځري ـ يوگړي ځانگړ نومځري :

گڼه / وگړي	يوگـــړي	ډيرگـــړي
۱	هغـــه هغـــه زما دي ـ هغه (ده ـ هغه) زما دا ـ هغه (دې ـ هغې)	زموږ دي ـ هغه (ده ـ هغه) زموږ دا ـ هغه (دې ـ هغې)
۲	ستا دي ـ هغه (ده ـ هغه) ستا دا ـ هغه (دې ـ هغې)	ستاسې دي ـ هغه (ده ـ هغه) ستاسې دا ـ هغه (دې ـ هغې)
۳	دده دي ـ هغه (ده ـ هغه) دهغه دي ـ هغه (ده ـ هغه) ددې دا ـ هغه (ده ـ هغې) ددې هغه ـ هغه (ده ـ هغې)	ددوی دي ـ هغه (ده ـ هغه) ددوی دا ـ هغه (دې ـ هغې)

۲ـ تولنو مځري ـ ډيرگړي ځانگړ نومځري :

گڼه / وگړي	يوگـــړي	ډيرگـــړي
۱	زما دوي ـ هغوي	زموږ دوي ـ هغوي
۲	ستا دوي ـ هغوي	ستاسې دوي ـ هغوي
۳	دده دوي ـ هغوي دهغه دوي ـ هغوي ددې دوي ـ هغوي دهغې دوي ـ هغوي	ددوی دوي ـ هغوي

۳ـ تولنو مخري له یوګړي نغرتتو مخري :

وګړي / ګڼه	یوګـــــړي	لږیرګـــړي
۱	زما دغه — دغه — دغی	زموږ دغه — دغه — دغه — دغی
۲	ستا دغه — دغه — دغی	ستاسې دغه — دغه — دغی
۳	د ده دغه — دغه — دغی د هغه دغه — دغه — دغی د دې دغه — دغه — دغی د هغې دغه — دغه — دغی	د دوي دغه — دغه — دغی

۴ـ تولنو مخري له لږیوګړي نغوتنو مخري :

وګړي / ګڼه	یوګـــــړي	لږیرګـــړي
۱	زما هغه — هغه — هغی	زموږ هغه — هغه — هغی
۲	ستا هغه — هغه — هغی	ستاسې هغه — هغه — هغی
۳	د ده هغه — هغه — هغی د هغه هغه — هغه — هغی د دې هغه — هغه — هغی د هغې هغه — هغه — هغی	د دوي هغه — هغه — هغی

۵ـ تولنو مخري له لږیوګړي تفسرتتو مخري :

وګړي / ګڼه	یوګـــــړي	لږیرګـــړي
۱	زما هوغه — هوغه — هوغی	زموږ هوغه — هوغه — هوغی
۲	ستا هوغه — هوغه — هوغی	ستاسې هوغه — هوغه — هوغی
۳	د ده ،، ،، ،، د هغه ،، ،، ،، د دې ،، ،، ،، د هغې ،، ،، ،，	

او همداسی د دویم ټوک ټیرګړي هم اوړون مومی • دادي د ټول ـ ځانګړنومځرو د پوره ځرګندتیا لپاره څو بیلګیزي غونډ لی (جملی) وړاندي کوو :

ایمل : زما زوي ناروغ دي •

خوشال : زما هغه هم ناروغ دي •

ایمل : زما زوي ښوونځی ته ځی •

خوشال : زما دي لا کوچنی دي •

ایمل : زما وراره ښوونځی ووایه •

خوشال: زما هغه هم ووایه •

ایمل : زما ماما اس واخیست•

خوشال : زما هغه هم واخیست •

ایمل : زماورور ځلمی ته یو لیکی ورکړ •

خوشال: زما ده هم هغه ته یو لیکی ورکړ ـ زما هغه هم هغه ته یولیکی ورکړ •

ایمل : زمالیکی ځلمی واخیست•

خوشال : زما دازمري واخیست ـ زما هغه زمري واخیست ـ زما دا هم ده واخیست ـ
زما هغه هم هغه واخیست •

ایمل : زما ورځنی ګټه سل افغانی ده •

خوشال : زماد ادوه سوه افغانی ده •

ایمل : د ده کور لري دي •

خوشال: د ده دا نږدي دي ـ د ده هغه هم لري دي •

ایمل : د هغه مور ناروغه ده •

خوشال : د هغه هغه هم ناروغه ده ـ د هغی هغه هم ناروغه ده •

ایمل : د دي ورور زما ټولګیوال دي •

خوشال : ستادي بیا زما ټولګیوال دي •

ایمل : زما مور وپلار مړه دي •

خوشال : ستا هغه ژوندي دي •

ایمل : زما مور وپلار کوم رسمي کار نه کاوه •

خوشال : زما هغوي هم نه کاوه (زما دوي هم نه کاوه) •

ایمل : زموږ کلی له ښاره لرې دي •

خوشال : زموږ داهم له ښاره لرې دي •

ایمل : زموږ هغه دومره لوی نه دي •

خوشال : زموږ دا مټاښی له هغه څخه ډیر لوی دي •

ایمل : د دویم ټولګی شاګردانو کتابونه نه دي اخیستي •

خوشال : د لومړي ټولګی هغوي هم نه دي اخیستي •

ایمل : د دریم ټولګی شاګردانو خپل کتابونه بیرته ورکړي دي •

خوشال : د څلورم ټولګی هغوي خپل هغه بیرته نه دي ورکړي •

لومړي کړاوونه (تمرینونه)

۱ــ پښتو یا ګرامر د ژبپوهنې کومه څانګه ده او له څه نه غږیږي ؟

۲ــ پښتو د څه لپاره لوستل کیږي ؟

۳ــ پښتو کومې څانګې را اخلي ؟

۴ــ غږ پوهه څه ته وایي ؟

۵ــ د ژبې لومړنۍ ساده توکونه کوم دي ؟

۶ــ د پښتو ارزښتناک غږونه یا اوازونه پرڅو ډلو ویشل کیږي ؟

۷ــ نیمواک اوازونه څو دي او څنګه پیژندل کیږي ؟

۸ــ څپ څه ته وایي او پرڅو ډوله دي ؟

۹ــ ایا څپ په ماناکې ونجون (بدلون) راوړلای شي ؟

۱۰ــ دا لاندې ټوټه په غږیزه (فونیمیکه) ابیڅې ولیکئ او څپونه یې نښه کړئ :

دا څوجوته او منلې خبره ده چې پښتو د پښتونخوا یوه ډله او لرغونې ژبه ده چې د زرګونو کلونو په اوږدو کې پرې پوهول راپوهول شوي دي . ډیر پوهان او لیکوال پکې منځ ته راغلي دي که څه هم ډیري توډې سړې یې لیدلي دي ، خو بیاهم دیوې غښتلې ژبې په توګه کروړه پاتې شوې او په هر تورتم پسې یې رڼا راغلې ده . دا په ټینګه ویلای شو چې نن سبا پښتنې ټولنه راخوځیدلې ده او له دې خوځون سره به یې ژبه هم هر وسرو مخ پرورانده ي د روس .

دویم کراوونـــــه

۱ــ گړ پوهه له څه نه غزیږي ؟

۲ــ گړ پوهه لومړي پرکومو دوو څانگو ویشل کیږي ؟

۳ــ داوړیدونو گړ پوهنو څانگه کومې برخې را اخلي ؟

۴ــ نومگړ پوهه له څه نه غزیږي ؟

۵ــ دنوم اوړون (اسمي گردان) اړخونه کوم دي ؟

۶ــ نومځري (ضمیر) دڅو اړخو له مخې اوړون مومي ؟

۷ــ نوم څه ته وایي او کومې څلور لارې را اخلي ؟

۸ــ څیزنوم او ستاینوم سره څه توپیر لري ؟

۹ــ نومځري څه ته وایي او په پښتو کې پرڅو لو ویشل کیږي ؟

۱۰ــ په لاندې تړنه کې هر لول نوم ښه کړي ، او وښوولئ :

یارك له ما څخه یو لیکې وغوښت ، خو ما تري وژغوره ، ځکه چې تولگی یې را څخه بیل دي ، په ښوونځي کې د ، د ، د اد ریم کال دي او زما دادویم ، له یوه تولگیوال سره یې هم چال چلند سم نه دي ، دي خورا چغلگردي او د یوه بل خبریال ، د یوه خبره یوه ته وړي او د بل بل ته ، کله یې له یوه سره اخ ولاړ وي او کله یې له بل سره ، څوك تري آرام نه دي له هرچا سره چې یو ځل کښیني بیا یې نورونه ویاړاوید وایي ، دغله په غره کې ځای نشته ، پرید بوتې سپي هم متیازي نه کوي ، هرسړي ته په کار دي چې خپل کار ته پام ولري او د بل په کار کې ځان گډ نه کړي ، ریښتیاران وایي :

دخواري کوندې زویه ــ خپلې روټې ژویه !

دکړ ګړپوهنه یا دفعل صرف (CONJUGATION)

په کړګړپوهنه کې دکړ له ړاز ړاز بڼولونو او اوړونو (ګردانونو) څخه خبرې کیږي ．

کــــــړ ؛ دغه وی (لغت) دي چې د زمانې په چوکاټ کې دیو څه پیښیدنه څرګندوي ．

داچې دکړ جاج (مفهوم) بې د زمانې له ملګرتیا نه پوهیدل کیږي نو ځکه کړ ته مثال وې

(دزمانې لغت) هم وایي ．

کړنو مونکــــــي ؛

په پښتو کې یو کړ په مصدر (ناپای) نومول کیږي له همدې کبله مصدر ته کړنو مونکی

وایو． په عربي کې یو کړ دخپل تیر مثال (ماضي) د دریم وګړي په یو ګړي ځیل (مفرده صیغه)

یادیږي لکه ضرب – نصر． پخوا په الماني او پارسي کې کړنو مونکی پخپله دکړ ریښه وه

خو اوس په دغو دواړو ژبو کې دپښتو غوندې یو کړ دخپل مصدر په نامه نومول کیږي لکه ؛

تون – کردن – کول ．．．．．． دمصدر جوړښت او ښه ؛ په پښتو کې یو مصدر په یوه یوګړیز

(مورفیمز) روستاړي (ل) پیژندل کیږي ． دغه روستاړي په کړولیه (فعلي ریښې) پورې

سیده نښلي په دې آړ (شرط) چې کړ ساده یا په بله وینا یو ګړیز یا یو مورفیمیزوي او که

بیلښتي او ترښتي (اشتقاقي او ترکیبي) زي نو مصدري روستاړي (ل) په موندو (تي) پورې

نښلي ． سیده په کړولیه پورې لکه ؛ موندل – وهل – خوړل په موندو پورې لکه ؛ غورځول

اوبول – کښینا ستل – پرېوتل – یو ځای کول – لاسته راوستل – تود تود کیدل – نیغ نیغ کیدل

پخلا کیدل یا کول ．．．．．．

دمصدر ښه هم دا ده چې یو کړ ونوموي ، کټ مټ لکه ونه – ډبره – سړي – کندهار．

داچـــــې مصدر دیو څه کړنه او پیښیدنه څرګندوي نو دکړنې او پیښیدنې نوم دي نه پخپله کړ

ځکه په زمانې پورې اړه نلري ． داچې د ودیزو (عنعنې) ژبپوهانو مصدر له خپلې ویېزي

(لغوي) مانا سره سم دکړ دبیلا بیلو بڼو (زیږنده) او یا بنسټ بللی دي یوې سرو سره

خبره ده . د کړ ښنست هماغه کړولی (فعلی رښنه) یا کړ سونی (فعلی تنه) ده چې
پ ياسـه مصدر تري د (ل) پـه ورښتلـو لـو جوړيـږي .
که مصدر په رښتیا سره د ټولو فعلی بیلونو او ښتوښنست اوړېدونکی دی نو باید په هره ښه
کی روغ رمت پاتې دای حال دا چې موږ ګورو چې ځینې کړولی (فعلی ریښه) یا موندی (فعلی تنه)
په هره ښه کی خپل شتوالی ساتلای شی لکه وهـ په وهم ـ وهو ـ وهې ـ وهی . ـ وهې
یا ووهه ـ واهه ـ وهلی دي او داسې نورو کی له دي کبله د مصدر ریښه ای کړ نوم یا کړ نوموونکی
ویل په کار دی ځکه همغه یې ډنده ده د (ناپای) په نامه یې یادول چې دلاتیـن
(INFINITIVE) اړونه ده . هم دومره ناوړه نه ایسې ځکه یوه ناپایه او ناټاکلی
کړنه او پیښیدنه څرګندوي او ښوموي ، نه په وګړي اړه لري ، نه په زمانې او داسې نورو ګردانی
اړخونو . که د مصدر نوموونه پرکړ نوم واړوو ښایي له نورو ډیرو کړنو مونو سره یې ګډ ون راشی
لکه خوړ نه ـ خوړانه ـ خوړنګ ـ خوړونکی ـ خوړلی ـ خوړ ـ خوړ ـ خورنده ـ خورندي ـ
خوږکه او داسې نور چې د خوړل غونډي له خوړ او خور ولی (ریښې) څخه جوړ شوي دي .

پښتو مصدر د یوه نوم په توګه تل ډیرګړي نوینه دي او یواځې د ییر (حالت) له
مخې اوړ ون موی لکه ډیرو (لوستلو) ستومان ګړم یا د عبدالقادر خټک په شعر کی :

مه شه خوښ د پادشاهی پر تخت (ختلـو)
همیشـه یې غم کوه د (پریوتلـو)

دکړ اوړونې توکونه او اړخونـه :

یو اوړ ون موندلی (ګردان شوي) کړ تر ډیرو توکونو پوري په جولیز او ښکاره
ډول یا ناښکاره ډول په خپل ځان کی ځایولای شي چې څه ناڅه د هماغو له مخې رازرازینې
او اوړ ون مومی او هغه توکونه دا دي :

ا ـ مخکړ : چې د کړ یو بشپړ وونکی او پلو ټاکونکی توك (جز) ګڼل کیږي لکه
کښې ـ په کښینا ستل او کښې وتل او پري ـ په پریوتل او پریولل یا پریښودل کی .

٢ـ ولی-یا ریښه : چی دکړ رښتینی بنسټ دی لکه خوړ ـ یا خوړ ـ په خورم ـ خورو ـ خوري ـ .... او وخوړ ـ خوړای ـ خوړلی اوداسی نورو کی .

ولی پردوو ډولوده : یوه لومړی یا اوسمهال (حال) ولی لکه خور ـ اغوند ـ بله دویمه یا تیرمهال (ماضی) ولی لکه خوړ ـ اغوست ـ دواړي ولی په ګڼه دیوه رازکړ اوړون (ګردان) بشپړوي او سترمهال کړ (مستقبل فعل) کومه جلا ولی نلري بلکه هماغه اوسمهال ولی یا لومړی ولی ورسره شریکه ده . دونه ولی پردي سربیره چی ګرد تیرمهال کړونه تري جوړیزي داوسمهال او اوسترمهال بیچارکړونه(مجهول افعال) هم تري جوړښت مومی . کړنومونه بیا له دواړو ولیو څخه لزوړیرمنځ ته را ځیدکړ نوموونکی یا مصدرجوړښت زیاتره تیرمهال ولی څخه دود لري لکه خوړل ـ لیدل ـ تلل . دلته لیدل له لید ـ ولی څخه جوړ شوي چی دویمه یا تیرمهال ولی بلل کیزي او لومړی یا اوسمهال ولی یی (وین ـ) ده ددغو ولیو پارس انډولونه دید ـ او وین ـ دي .

٣ـ مونـــډ : چی دمخکړیا ولی اووګړیزي پایلی (شخصی خاتمی) ترمنځ تبل کوم توک په یو ځای کولو منځ ته راځی په بله وینا که له یوه تیرمهال ګردان شوي کړ څخه وګړیزه یا بله کومه پایله وغورځول شی . پاتی برخه یی مونډ بلل کیزي . په دي توګه مونډ زیاتره د تیرمهال کړ بنسټ جوړوي او په اوسمهال کی په ساده ډول له صفر یاولی سره برابر دي لکـــه : کښیناست ـ په کښیناستم یا کښیناستو او زبزید ـ په زبزیدم ـ زبزیدو وزبزیدم ـ وزبزدو وزبزیدای یا اغوست ـ په اغوستم ـ اغوسته ـ واغوست ـ ..... کی . داوسمهال مونډ لکه څملو په څملوم ـ څملوو ..... کی . که په ځینو ګړدودوکی کښیناستلم ـ کښیناستلـــو ـ زبزیدلم ـ زبزیدلو ـ وزبزیدلو ـ او داسی نور ویل کیزي نو مونډ یی بیا کښیناستل ـ او زبزیدل ـ راځی . البته په ځینو ګړدودونو کی دغه راز (ل) د مونډ ضروري توک ګڼل کیزي او غورځول یی مانیزه نیمګړتیا را ولی لکه ماویاله وکینله ماسندره وویله ماوزمه ورته ... مګر که وکینده اوولوسته وویل شی مونډونه یی هماغه کیند او لوست راځی .

٤ـ کرتـــر : چې زیاتره دیوه خپلواك اواز په بڼه دمونږ اووگړیزي پایلـــس ترمنځ کله کله پیښیږي لکه زورکی په کښیناستم او پرېوتم کی • مونږ پرمخکړ اوولس سرپیره دځیل (٦) لیزد (۷) مهال (۸) اولیزند چار (۱۲) ترکونه او چارونه هم را اخلی •

٥ـ دود : چې دکړ دڅرگندولو ډول ښیـــی لکه خبري او ناخبري (غو ښتنـــــ ـــ پوښتنی ـــ هیښنی ـــ امري ـــ ارمانی ـــ گومانی ـــ ټینگاري یا تاکیدي ـــ شرطی همیشنی ـــ ورزدنی یا اعتیادي) لکه : ماډوډۍ وخوړه وخوړ اي ـــ وخوړه • اوداس نور •

٦ـ ځیـــــل : چې دکړ (مسند) او کړندیاکړي (مسند الیه) ټاکه کوي •

په دې مانا چې کړ چاروال (معلوم) دي که بیچار (مجهول) اویا منځوال (انعکاس). چاروال لکه ببرك زمري وهی ـــ زمرك وهل کیږي ـــ زمرك ځان وهی • په لومړي غونډه له (جمله) کـــس کړ په کړند (ببرك) استناد کوي په دویمه کی په کړي (زمرك) او په دریمه کی هم په کړند اوهم په کړي چې دواړه همغه یو وگړي (زمرك) دي • ځیل په جولیز اوناجولیز ډول دمونږ وتوك دي •

۷ـ لیز د : په دې مانا چې کړ لیزند (متعدي) دي که نالیزند (لازمی) لکه معنډر سنډ ري وایی او سنډ ر راغی • لیز د په جولیز یا ناجولیز (غیر شکلی) ډول دمونږ یوه برخه جوړ وي •

۸ـ مهـــال : چې دکړ مهالی یازمانی اړیکي (ارتباط) څرگند وي په دې مانا چې کړ په کوم مهال کی پیښ شوي دی لکه څوکري ولاړ ـــ څوکري ځي ـــ څوکري به ولاړ شی • دپښتو کړ مهالونه په ټولیز (عمومی) ډول دري دي :

۱ـ تیرمهال : چې په بشپړ ـــ نابشپړ ـــ لنډ او لیرویشل کیږي •

۲ـ اوسمهال : چې په بشپړ اونابشپړ ویشنه مومی •

۳ـ اوسترمهال : چې داهم دوه ډوله لري بشپړ اونابشپړ •

دمهال توك په مونږ کی راځی لکه په ودریدم یا ودریدلم کی (د) یا (دل) او په ودریږم یا ودریږو کی (ږ) •

۹ــ وګړي يا شخص : چې کړنه يا کړي لومړي وګړي (متکلم) دي دويم وګړي (مخاطب) يا دريم وګړي (غايب) ... لومړي وګړي (زه ــ موږ) ــ دويم وګړي (ته ــ تاسې) او دريم وګړي (دی ــ دوی) . د وګړي ښتنه چې وګړيزه پايله بلل کيږي د کړ و روستي برخه جوړوي لکه (م) او (و) په راغلم او راغلو کې .

۱۰ــ نوزي يا جنس : چې وګړي نرينه دي که ښځينه . په پښتو کړ کې يواځې د دويمې ولي په اوړون کې دغه توپير کيږي لکه شينکي راغله ــ ژنهس راغی چې د لته (زور) اوي نوزيز توکونه دي په دې توګه نوزيز توک له وګړيزي پايلي او ګنهس سره ګډ او پای ته راځي .

۱۱ــ ګنه يا عدد (افراد وجمع) : چې وګړي يو ګړی (مفرد) دی او که ډيرګړي (جمع) . يو ګړي لکه هلک راغی ډيرګړي لکه هلکان راغلل . ګنه يواځې په لومړي او دويم وګړي کې توپيريږي نه په دريم کې لکه هلک ځي ــ هلکان ځي .

۱۲ــ ليږند چار يا صناعيت (کوزاتيف) د کړ هغه برخه يا توک دي چې په مونږ کې راځي او يو ليږند کړ دويم ځلي ليږنده (متعدي) کوي لکه د پارسي په خوراندن يا خواباندن کې (ان) پښتو سيمه لا سه د ننګرهار ګړ دود او خوشال خټک په استاد يواځې دوه ليږند چار کړونه لري لکه خورول (خوراندن) او ويول (ګوياندن) . په نورو کړونو کې دغه راز ګړ ګد ونه يواځې د ... ييکو (اداتو) په وسيله تر سره کيږي لکه ما پر ځلمي خيله خبره ومنله (من بر ځلمي سخن خود را قبولاندم) په دې توګه يو ليږند چار کړ دوه کړنده (فاعله) او دوه کړيه (مفعوله) لري .

لکه په پورتني بيلګه کې ما او ځلمي کړندونه او خبره کړی ده او په يو مثال کې بيا ځلمي او خبره دواړه کړي دي . ځينې حکمې ليږند کړونه بې له ويکو هم د ليږند چار ند ه پر ځای کوي لکه ماوژړوله ــ ماوخندوله او د اسې نور . يا د اسې هم ويل کيږي : ځلمي د ور خاني په خبرو راوسته مانا دا چې خبري يې پرې وکړي .

۱۳ــ د نفي يا نهي توک (نه) يا (مه) چې زياتره د مخکې يا ترښتي او ييلښتي توک ترمنځ راځي لکه : کښې نه نا ست . پا نه څيد . وانخيست . رانغی . مه خوره . . . .

کړاو (تمرین) :

را	پاڅ	یـــــــــد	ـ زورکی	؟
۱	۲	۶ـ۷ـ۸ـ۱۲	٤	۵ـ۹ـ۱۱
		۲		

یادونه : نوزي (۱۰) په یوه بله بیالګه (راپاڅیدله) کې مومو چې له ۹ـ۱۰ او ۱۱ سره ګډون لري . همدارنګه دنفی توك (۱۳) په (راپانه څیدله) کې راتلاي شي .

اوړونـــــــه (ګردانـــونـــــــه)

لومړي ـ تیرمهـــال : چې له دویمې یا تیرمهال ریښې څخه دنو موړو دیاړلس ګونو توکونو او اړخونو په پام کې نیولو سره جوړ ښت او اوړون مومي .

الف ـ له لیږند خوړ ـ دویمې ولې څخه .

۱ ـ خبــــري .

۱ : بشپړ تیرمهال (مطلقه ماضی)

ګنــه / وګړي	یوګـــــړي	ډیرګــــړي
۱.	ما وخوړ ـ وخوړه وخوړل ـ وخوړي	موږ وخوړ ـ وخوړه وخوړل ـ وخوړي
۲	تا وخوړ ـ وخوړه وخوړل ـ وخوړي	تاسې وخوړ ـ وخوړه وخوړل ـ وخوړي
۳	ده ـ دې وخوړ ـ وخوړه وخوړل ـ وخوړي	دوی وخوړ ـ وخوړه وخوړل ـ وخوړي

چاروال

بیچار

گڼه / وګړي	یوګړي	ډیرګړي
۱	زه وخوړل شوم	موږ وخوړل شو
۲	ته وخوړل شوې	تاسې وخوړل شوئ ـ سواست
۳	دی وخوړل شو دا وخوړل شوه	دوی وخوړل شول دوی وخوړل شوې

ښځوال

گڼه / وګړي	یوګړي	ډیرګړي
۱	ما ځان وخوړ	موږ ځان وخوړ ـ ځانونه وخوړل
۲	تا ځان وخوړ	تاسې ځان وخوړ ـ رر رر
۳	ده ـ دې ځان وخوړ	دوی ځان وخوړ ـ رر ر

یادښت : لکه څنګه چې مو پاس ولیدل په تیرمهال کې چاروال کړ دبیچارکړ غوندې دکړي (مفعول) تابع دي نه دکړند لکه ماخټکی وخوړ ـ ما خټکې وخوړل ـ ماهندوانه وخوړه ـ ما هندوانې وخوړې ... داچې ځینې بهرنی پښتوپوهان دپښتو لیزندتیرمهال کړ (متعدي ماضی فعل) تل بیچار (پاسیف) بولي . د دوکتور تزي په وینا یوه بې سروبوله خبره ده ځکه چاروال لیزندیی نه بیچار هغه سره توپیرلري او هغه داچې دکړند پخپله دکړ اینې (مسندالیه) دي . او کړند پیرهم ښیي نوباید داسې وویل شي چې دپښتو دتیرمهال چاروال لیزندکړ (ماضی متعدي معلوم فعل) پایلې له کړي (مفعول) سره سمون لري .

۲ : نابشپړ تیرمهال (همیشنی ماضی) : نابشپړ تیرمهال دبشپړوالي (مطلقیت) له (و) پرته نورد بشپړ هغه غوندې جوړښت موي بیچار یې دبیچارکړ نوم په لنډه ون (خوړل) دمرستیالکړ (کیدل) په ملګرتیا جوړیږي اووګړیزي پایلې هم په دغه مرستیال کړپورې نښلي :

چاروال

گڼه / وګړي	یوګـــړي	ډیرګـــړي
۱	ماخوړ ـ خوړه ـ خوړل ـ خوړي	موږ خوړ ـ خوړه ـ خوړل ـ خوړي
۲	تاخوړ ـ خوړه ـ خوړل ـ خوړي	تاسي ״ ״ ״
۳	ده ـ دې ״ ״ ״	دوي ״ ״ ״

بیچاروال

گڼه / وګړي	یوګـــړي	ډیرګړي
۱	زه خوړل کیدم	موږ خوړل کیـــدو
۲	ته خوړل کیدي	تاسي خوړل کیدئ ـ کیداست
۳	دي خوړل کیـــده داخوړل کیـــــده	دوي خوړل کیده ـ کیـــدل دوي خوړ کیدې ـ کیدلـــې

منځوال : ماځان خوړ ـ موږ ځان خوړ ۰۰۰۰۰۰۰۰

۳ : روږدنې (اعتیادي) تیرمهال : داهغه رازکړدي چې دهمیشه والي ترڅنګه د روږدتیا (اعتیادي) جاج (مفهوم) هم را اخلي په دې توګه داراز کړته روږدنې همیشني کړ هم وبلاي شو. له هسې عادي همیشني کړ سره ئې توپیر داچې ترکړ دمخه پړي د (به) ویکی هم زیاتیږي.

چاروال

یوګـــړي	ډیرګړي
مابه خوړ ـ خوړ ـ خوړل ـ خوړې	موږ به خوړ ـ خوړه ـ خوړل ـ خوړي
تابه ״ ״ ״ ״	تاسو به ״ ״ ״ ״
ده ـ دې به ״ ״ ״	دوي به ״ ״ ״ ״

		یوگـــړي	ډیرگـــړي
بیچار	۱	زه به خوړل کیدم	موږ به خوړل کیدو
	۲	ته به خوړل کیدې	تاسی به خوړل کیدئ – کیداست
	۳	دي به خوړل کیده	دوي به خوړل کیده – کیدل
		دا به خوړل کیده	دوي به خوړل کیدې – کیدلی

منځوال لکه دا به ځان خوړ ......

٤ ؛ لنډ تیرمهال (قریبه ماضی) : د دي مهال کړ د چار او پیښنګ له مخی کله داسی وي چي په تیرمهال کی یو څیز بشپړ شوي وي او یا دا چي تراوسمهال یی هم څه اوږدوالی موندلی وي • رغیدنګه یی دا ډول دي چي له بیچارکړ نوم (مفعولی صفت) ((خوړلی)) سره مرستیالکړ (ول) په اوسمهال کی اوړون مومی • په بیچارکی یی پردي سرپیره دویم مرستیالکړ (کیدل) یا (شول) ورسره هم اوړون کوي او د دي لپاره چي وګړیزي پایلی په دواړو مرستیالکړ ونو پوري تښتلی نو دا ملتیا لپاره د بیچار کړ نوم پایلی ته اړ تیا نه پاتیږي همداراز په لرتیرمهال بیچار کړ کی هم د بیچارکړ نوم (خوړلی) بای غورځی او د (خوړل) په بڼه پاتیږي چي ځینی د وديز پښتو پوهان (ګرامرپښیان) یی له (مصدر) سره ګډوي او اشتباه کوي •

	یوګـــړي	ډیرګړي
۱	ما خوړلی دي – خوړلی ده – خوړلی دی – خوړلی دی •	موږ خوړلی دي – خوړلی ده – خوړلی دي • خوړلی دی •
۲	تا رر رر رر رر	تاسی رر رر رر رر رر رر
۳	ده – دي رر رر رر	دوي رر رر رر رر رر

پیچار

	یوگړي	ډیرگړي
۱	زه خوړل شوي – شوې یم	موږ خوړل شوي – شوې یو
۲	ته خوړل شوي – شوې یې	تاسې خوړل شوي – شوې یې، یاست
۳	دی خوړل شوی دی دا خوړل شوې ده	دوی خوړل شوي دي دوی خوړل شوې دي

منځوال لکه ماځان خوړلی دی ....

٥ : لرتیرمهال (بعیده ماضي) : دلرتیرمهال کړ ته هغه وخت اړتیا پریوځي چې وروسته تري بشپړ تیرمهال یا لنډ تیرمهال کړ پیښ شوي وي ، یا په بله وینا : لرتیرمهال کړ یوله دغو نورو ډولو تر کارېدنې (استعمال) وروسته کارول کیږي لکه چې وایي :

ته پرلسو بجو راغلی (بشپړ) – اوزه پرنهو بجو راغلی وم (لــــر)

یا : ته پرلسو بجو راغلی یې (لنډ)

دلر تیرمهال او ړون نورد لنډ هغه غونډي دي خو دلته ورسره مرستیالکړ (ول) هم په لــره زمانه کې اوړون موو:

چاروال

	یوگړي	ډیرگړي
۱	ماخوړلی و – خوړلې وه – خوړلي وو – خوړلې وې	موږ خوړلي و – خوړلې وه – خوړلي وو خوړلې وې
۲	تا رر رر رر	تاسې رر رر رر رر رر
۳	ده – دې رر رر رر رر	دوی رر رر رر رر رر

	یوگړي	ډیرگړي
۱	زه خوړل شوي – شوې وم	موږ خوړل شوي – شوې وو
۲	ته رر رر رر	تاسې رر رر رر وي – واست
۳	دی خوړل شوی و دا خوړل شوې وه	دوی خوړل شوي وو دوی خوړل شوې وې

منحوال لکه ماځان خوړلی و ....

٦ : گومانی تیرمهال (احتمالی یا شکیه ماضی) : هغه کړ ته وایی چی کیدنگ یی گومانس او اړنگمن (مشکوک) وي . رغیدنه یی د اسی کیزي چی لمه بیچارکړ نوم (خوړلی) یا (خوړل) سره (به) ملتیا موښی او په چاروال کی یواځی د (ول) مرستیالکړیواځینی بنه (وي) او په بیچارکی ورسره (شول) او د (ول) ټولی اوسمهال بنهی اوړون کوي . او د (وي) په بنه یواځی په دریم وگړي کی (گونډي) یا (بنایی) غونډي گومانی ویکی هم ورسره ټولیز ډول مل کیدای شی .

		یوگړي	ډیرگړي
چاروال	١	ما به خوړلی – خوړلې – خوړلی – خوړلې وي	موږ به خوړلي – خوړلې – خوړلي – خوړلې وي
	٢	تا به رر رر رر	تاسی به رر رر رر رر
	٣	ده – دې به رر رر رر	دوي به رر رر رر رر

		یوگړي	ډیرگړي
بیچاړ	١	زه به خوړل شوي – شوې یم	موږ به خوړل شوي – شوې یو
	٢	ته به رر رر رر یی	تاسی به رر رر رر یئ – یاست
	٣	دی به خوړل شوی وي	دوي به خوړل شوي وي
		دا به خوړل شوې وي	دوي به خوړل شوې وي

منحوال لکه : ما به ځان خوړلی وي .....

٧ : ارماني تيرمهال (تمناي ماضي) : چې ديوه ارمان څرګندونه کوي او د دود له مخې په بشپړ تيرمهال ، نابشپړ تيرمهال ، نژدې تيرمهال او ګوماني تيرمهال پورې اړه لري :

١ـ ارماني بشپړ تيرمهال (تمناي مطلقه ماضي) چې د رغيدنې له مخې په بشپړ تيرمهال اړه‌ځاج او مرخې (مفهوم او مطلب) له مخې په اوسمهال پورې اړه لري جوړېدنه يې دبشپړتيا (مطلقيت) و ــ په ختاري کواو او دچاروال لپاره دبيچارکړ نوم (مفعولي صفت) په اوږدولو او دبيچار لپاره دپای په غوږ څولو او دمرستيالکړ (شول) دبيچارکړ نوم په اوږدولو ترسره کيږي ، دغه رازيې دزياتې څرګندتيا لپاره تر اينسـ (مسنداليه) دمخه يا وروسته د (کاشکې) ويیکي ديوه نحوي توک په توګه هم ملګري کيداي شي .

چاروال

	يوګړي	ډيرګړي
١	کاشکې ما وخوړاي	کاشکې موږ وخوړاي
٢	کاشکې تا وخوړاي	کاشکې تاسې وخوړاي
٣	کاشکې ده ــ دې وخوړاي	کاشکې دوي وخوړاي

بيچار

	يوګړي	ډيرګړي
١	کاشکې زه وخوړل شواي	کاشکې موږ وخوړل شواي
٢	کاشکې ته وخوړل شواي	کاشکې تاسې وخوړل شواي
٣	کاشکې دې ــ دا وخوړل شواي	کاشکې دوي وخوړل شواي

مثال لکه : کاشکې ما ځان وخوړلای ....

٢ـ ارماني نابشپړ تيرمهال : چاروال يې بې دبشپړتيا (مطلقيت) له و ــ څخه دبشپړ هغه‌غونډي جوړيږي او بيچاريې بې له دغه (و) او مرستيال کړ په بدلولو (شول پرکيدل) دبيچار بشپړ هغه غونډي راځي .

چاروال

	یوگړي	ډیرگړي
۱	کاشکې ما خوړ اي	کاشکې موږ خوړ اي
۲	کاشکې تا خوړ اي	کاشکې تاسې خوړ اي
۳	کاشکې ده ــ دې خوړ اي	کاشکې دوي خوړ اي

بیچار

	یوگړي	ډیرگړي
۱	کاشکې زه خوړل کیدا ي	کاشکې موږ خوړل کیدا ي
۲	کاشکې ته خوړل کیداي	کاشکې تاسې خوړل کیدا ي
۳	کاشکې دي ــ دا خوړل کیداي	کاشکې دوي خوړل کیدا ي

منحوال لکه: کاشکې ما ځان خوړلای ....

۳ــ ارماني لرتیرمهال (تمنای بعیده ماضي) چاروال داسې جوړیږي چې په بیچارکړ نوم (مفعولي صفت) پسې د مرستیالکړ (ول) بیچارکړ نوم او ږد (واي) راشي او بیچار یې د بیچارکي نوم په لنډ ولو او (شول) په زیاتو راضخ ته کیږي.

چاروال

	یوگړي	ډیرگړي
۱	کاشکې ما خوړلی ــ خوړلې ــ خوړلي ــ خوړلې واي	کاشکې موږ خوړلي ــ خوړلې ــ خوړلي ــ خوړلې ــ خوړلې واي
۲	کاشکې تا رر رر رر	کاشکې تاسې رر رر رر
۳	کاشکې ده ــ دي رر رر رر	کاشکې دوي رر رر رر

بیچار		یوګـــړي	ډیرګـــړي
	۱	کاشکې زه خوړل شوی — شوې — شوي [illegible]	کاشکې موږ خوړل شوي — شوي — شوي شوي وای
	۲	کاشکې ته رر رر رر رر	کاشکې تاسې رر رر رر رر
	۳	کاشکې دی — دا رر رر رر	کاشکې دوی رر رر رر رر

منځوال لکه: کاشکې ما خوړلی وای ...

۶ــ ارماني ګوماني تیرمهال (تمنایی احتمالی ماضی) له عادي ګوماني تیرمهال سره یوازې په (به) په نه خوړلو او کاشکې توپیریږي.

چاروال		یوګـــړي	ډیرګـــړي
	۱	کاشکې ما خوړلی — خوړلې — خوړلي — خوړلې — خوړلي وای	کاشکې موږ خوړلي — خوړلې — خوړلي وای
	۲	کاشکې ده — دې رر رر	کاشکې تاسې رر رر رر
	۳	کاشکې ده — دې رر رر رر	کاشکې دوی رر رر رر

۸: اړوتي تیرمهال (شرطیه ماضي) چې ډیوه اړوتي کړن لپاره اړ (شرط) څرګندوي په دې توګه د ارزکړ ډیوه بل کړ لپاره اړ (شرط) برابروي د ا مانا چې که دغه کړ ترسره شوی هغه بل کړ هم کیدونکی دی، اړ هم د ارزکه هغه بل کړ سوځن او مطلوب نه وي نو د اړوتي کړ څرګندونې ته کومه اړ تیا نه پیښیږي لکه (که وریځ نه وي باران نه کیږي) یا (که وریځ وي (نو) باران کیږي یا به باران وشي)۔ څنګه چې اړ (شرط) په هر کړ او کړن تړلی شي نو د اوسمهال پر مخ ورتلونکي تیرمهال کې څرګندیږي. او هغه ډیره ټولونه اړ دي، د اړ د څرګندونې نښه اوتوک (که) دی چې په ټولو کړنو راځي.

: ... یا ـــ اړوتي بشپړ تیرمهال چې له خبري بشپړ تیرمهال څخه د (که) په مخکې راتلو سره جوړیږي اوره جاج (مقدم) کې په اوسمهال پوري اړه لري لکه: که ما وخوړل ... که موږ وخوړل یا که ما وخوړل — که موږ وخوړل ...

٢ــ اړوتی نابشپړ تیرمهال (شرطیه استمراري ماضی) لکه: که ما خوړ ــ که موږ خوړ یا که ما خوړلای ــ که موږ خوړلای ....

٣ــ اړوتی لنډ تیرمهال (شرطیه قریبه ماضی) لکه: که ما خوړلی دي ــ که موږ خوړلی دي یا ــ که ما خوړلی وي که موږ خوړلی وي ....

٤ــ اړوتی لر تیرمهال (شرطیه بعیده ماضی) لکه که ما خوړلی و ــ که موږ خوړلی و یا ــ که ما خوړلی وي ــ که موږ خوړلی وي .....

په دې توګه هر اړوتی تیرمهال په څرمه (ضمنی) ډول ګومانی ــ ارمانی ــ هیښنی ...... هم کیدای شی.

٩: توانی تیرمهال (امکانی یا اقتداري ماضی): چی دیوه کړ کیدون (امکان) یانه کیدون تري څرګندیږي. په پښتو کی په ساده جولسیز ډول یواځی بشپړ تیرمهال او نابشپړ تیرمهال توانی کیدای شی او همدغه دوه ډوله تیرمهالونه په څرمه توګه نور تیرمهالونه هم را اخلــــــی. رغیدنګ یی دبیچارکړ نوم دپای غبرګغږ په اوږدولو (خوړلای یا خوړای) او ورسره دمرستیالکړ (شول یا کیدل یادواړو) په ګردانولو تر سره کیږي.

١ــ توانی بشپړ تیرمهال. لکه: ما وخوړلای شو ــ وخوړای شو ــ تاوخوړلای شو ــ وخوړای شو .....

٢ــ توانی نابشپړ تیرمهال. لکه: ما خوړلای شو ــ خوړای شو ــ تا خوړلای شو ــ خوړای شو .....

اعتیادي: لکه: ما به خوړلای شو ــ خوړای شو ــ تابه خوړلای شو ــ خوړای شو.

١٠: ټینګاري تیرمهال (تاکیدي ماضی): چی دکړ دترسره کولو یانه ترسره کولو ټینګار (تاکید) څرګندوي او یواځی په بشپړ اونابشپړ تیرمهال کی راتلای شی:

١ــ ټینګاري بشپړ تیرمهال چی له بیچارکړ نوم سره د (به)، (و) یا (وای) په ملګري کولو جوړیږي لکه: ما به خوړلی وي ما به خوړلی وای او یا خوړلی به می و. خوړلی به می وای.

٢ــ تېنګاري نابشپړ تیرمهال چې له اعتیادي سره په اهنګ کې توییږلري لکه :

مابه خوړ یا مابه خوړ لاي یاخوړ اي ٠ کله کله بویه یا (باید) هم په سرکې راتلاي شي او دپاي لیکښه یې ندائیه راځي ٠

ــ هېښنې تیرمهال (تعجبي ماضي) ٠ چې په هېښتیا (تعجب یا تحیر) سره څرګندیږي ٠ دارازکړ یواځې په اهنګ کې له خبري هغه سره توییریږي لیکښنه یې یوه بلنښنه (ندائیه) ده ٠

بیلګه لکه : ماوخوړ ! تاوخوړ ! ٠٠٠٠٠٠٠

١١ : پوښتنې تیرمهال (استفهامي ماضي) چې دیوه کړ ن پېښیدنه یا نه پېښیدنه پوښتنه هم له خبري کړ سره یواځې په اهنګ کې توییر موس په دې توګه چې دخبري کړ اهنګ له عادي څخه یا اهنګ سره اوأرپیل مومي او تیت پاي ته رسي اودپوښتنې یا له یوه زیات پیاوړي څخه یا په بله وینا له یوه هوار اهنګ سره پیل مومي او په پاي کې لوړیږي ٠ پوښتنې کړ په بشپړ تیرمهال ٠ نابشپړ تیرمهال ٠ لنډ تیرمهال لرتیرمهال اوتوانې تیرمهال کې راتلاي شي لیکښنه یې پاي ته یوه پوښتنښه (؟) ده ٠

١ــ پوښتنې بشپړ تیرمهال لکه : ما وخوړ ــ تاوخوړ ٠٠٠٠٠٠٠

٢ــ پوښتنې نابشپړ تیرمهال لکه : ما خوړ ــ تاخوړ ٠٠٠٠٠٠٠

٣ــ پوښتنې لنډ تیرمهال لکه : ماخوړلی دي ــ تاخوړلی دي ٠٠٠٠٠

٤ــ پوښتنې لرتیرمهال لکه : ما خوړلی و ــ تاخوړلی و ٠٠٠٠٠٠

٥ــ پوښتنې توانې تیرمهال لکه : ما وخوړ لاي شو ــ تا وخوړ لاي شو ٠٠٠٠٠

لکه : ماوخوړ لاي شو ــ تا وخوړ لاي شو ٠٠٠٠٠

یا : ما خوړ لاي شو ــ تاخوړ لاي شو ٠٠٠٠٠

والعلم يا ظاهر
رسیدالدین لودین کتابتون
کتاب پر لیسي شمیره

ب ـ ناليزندكړ (راتلل) له بشپړ اندو (سوبلتيفو) دويمو وليـــو راتل ـ (رات) ۰ راغل ـ (راغ) شخه راغل ـ دبشپړ (مطلق) او راتل ـ دنابشپړ (غيرمطلق) کړ ولن هم جوړيږي بلل کيـــــزي :

ا : بشپړ تيرمهال (مطلقه ماضى) :

ا ـ خبــــري : چی له راغل ـ يا راغ ـ ريښی شخه جوړ بنت او اوړ و ن مومی ۰

	يوگړي (مفرد)	ډيرگړي (جمع)
١	زه راغلم	موږ راغلو
٢	ته راغلی	تاسی راغلئ ـ راغلاست
٣	دي راغی (راغلـــئ)	دوي راغلـــل
	دا راغلــــه	راغلی (راغللـــيی)

٢ ـ لنډ تيرمهال چـــی دليزندکړ غوندي دبيچارکړ نوم له اندول (راغلی) شخه دمرستيالکړ (ي ـ) او (د ـ) په ملگرتيا جوړيزي اوگردانيزي ۰

يوگـــــړي	ډيرگـــــړي
زه راغلی ـ راغلی يم	موږ راغلی ـ راغلی يـــو
ته راغلی راغلی يـــی	تاسی راغلی راغلی يی ـ ياست
دي راغلی دي	دوي راغلی دي
دا راغلی ده	دوي راغلی دي

٣ـ لرتیرمهال (بعید ماضی) ٠ چې له لنډ تیرمهال سره په مرستیالکړ کې توپیر مومی هغه داچې دلته د (ول) ولی (و ـ) په کار لیږېږي ٠

یوګړی	ډېرګړي
زه راغلی ــ راغلی وم ٠	مرژ راغلی ــ راغلی وو ٠
ته راغلی ــ راغلی وې ٠	تاسې راغلی ــ راغلی وی ٠ ـ وامت ٠
دي [illegible] ور ٠	دوي [illegible] وو ٠
دا راغلی ـ راغلی وه ٠	دوي راغلی ــ راغلی وي ٠

٤ـ ناشپېړ تیرمهال (همیشنی یا استمراري ماضی) چې د راغلی ــ له بشپړاندي ملګري ولی (راتل ــ) یا (رات) څخه جوړ ښت او اوړ ون موږ په دي توګه چې وګرېږي پایلی په همدغی ولی پوري ښیده ښلی :

یوګړی	ډېرګړي
زه راتلم ٠	موږ راتلو ٠
ته راتلی	تاسې راتلی ٠ ـ راتلاست ٠
دي راته ــ راتلو ــ راتلی ٠	دوي راتلل ٠
دا راتله	دوي راتلی ــ راتللی

٥ـ روزنی تیرمهال (اعتیادي ماضی) چې له ناشپېړ تیرمهال څخه د (به) وییکی زیات لري لکه . زه به راتلم ــ ته به راتلی ٠٠٠٠٠٠٠٠

٦ـ ارماني تیرمهال (تمنایی ماضی) چې په بشپړ ــ ناشپېړ او لر تیرمهال پوري اړه لري او د مرخی او جاج (مفهوم) له مخی زیاتره په نارس‌مهال پوري اړه نیسی ٠ بشپړ یې له ناشپېړ سره د بشپړ تیا (مطلقیت) و ــ توپیرېږي بشپړ یې لکه (راغلی لای) یا (ولاړ ای)

اونا بشپړ يې لکه (تللاي)، لنډي دا رکړ نوم د غبرګغږ. د اوز د ولو پرځاي د مرستيالکړ (ول) هغه پرآوز د ه غبرګغږ اړ ري. د پوره څرګندتيا لپاره د دواړو ډولو په سر کې د (کاشکي) وييکي د يوه نحوي توک په توګه هم راوړل کيداي شي.

(۱) بشپړ ارمان:

	يوګړي	ډيرګړي
۱	کاشکي زه راغللاي – راغلاي	کاشکي موږ راغللاي – راغلاي
۲	کاشکي ته رر رر	کاشکي تاسو رر رر
۳	کاشکي دي – دا رر رر	کاشکي دوي رر رر

(۲) نابشپړ ارمان:

	يوګړي	ډيرګړي
۱	کاشکي زه راتللاي – راتلاي	کاشکي موږ راتللاي – راتلاي
۲	کاشکي ته رر رر	کاشکي تاسو رر رر
۳	کاشکي دي – دا رر رر	کاشکي دوي رر رر

(۳) لرارمان:

	يوګړي	ډيرګړي
۱	کاشکي زه راغلی – راغلی واي	کاشکي موږ راغلی – راغلی واي
۲	کاشکي ته رر رر رر	کاشکي تاسو رر رر
۳	کاشکي دي – دا رر رر	دوي رر رر رر

۷ــ توانی تیرمهال (امکانی ماضی) چی په (تلل)غوندی‌تانیزنده کړ کی په ساده ډول پراخی نابشپړ تیرمهال را اخلی او هغه هم په دی ډول جوړیږي چی د بیچارکړ نوم اته‌ول (تللی) پای غږګه زا او زه‌یږي او مرستیالکړ (شول) ورسره اوړونموس ٠

	یوګړی	ډیرګړی
۱	زه راتللاي — راتلای‌شوم	موږ راتللاي — راتلای شو
۲	ته رر رر شوې	تاسی رر رر شوئ — شوا ست
۳	دی رر رر شو	دوی رر رر شول
	دا رر رر شوه	دوی رر رر شولی — شوې

۸ــ ګومانی تیرمهال (شکیه یا احتمالی ماضی) چی بشپړ — نابشپړــ اند او لــر تیرمهال یی په دغو اندی ډولز جوړیږي ٠

(۱) بشپړ ګومانی چی د (لکه چی) په ماتیا د خبری هغه غوندی جوړیږي مومس

لکـــــه چی

	یوګړی	ډیرګړی
	لکه چی زه راغلم !	لکه چی موږ راغلو !
	لکه چی ته راغلی !	لکه چی تاسی راغلی — راغلاست !
	لکه چی دی راغلی !	لکه چی دوی راغلل !
	لکه چی دا راغله !	لکه چی دوی راغلی — راغلی !

(۲) نابشپړ ګومانی چی له خبری نابشپړ تیرمهال څخه د (ګوند) نښه (بنایی) یا (لکه چی) په ماتیا جوړیږي او د روزدنی لپاره یی (به) هم ملګري کیږي ٠

يوگړي	ډيرگړي
گوندي ــ ښايي يالكه چي زه راتلم	گوندي ــ ښايي يالكه چي موږ راتلو
رر رر رر رر ته راتلې	رر رر رر تاسې راتلې ــ راتلاست
رر رر رر دي راتلو ــ راته	رر رر رر دوي راتلل ــ راتله
رر رر رر دا راتله ــ راتله	رر رر رر راتللې ــ راتلې

روږدنې لكه : زه گوندي ــ ښايي يالكه چي زه به راتلم ــ ته به راتلې ٠٠٠٠٠٠٠

(٣) لنډ گومان ــ د بشپړ گومان غوندي په (لكه چي) يا (به) له خبري هغه سره تويږيــــزي ٠

يوگړي	ډيرگړي
لكه چي زه راغلى ــ راغلى يم	لكه چي موږ راغلي ــ راغلي يو
رر رر ته رر رر رر يې	رر رر تاسې رر رر يې ــ ياست
رر رر دي ــ دا رر رر وي	رر رر دوي رر رر وي

يا ــ زه به راغلى يم ٠٠٠٠٠٠

(٤) لــرگومانې چي له خبري هغه سره د (گوندي) ــ (ښايي) (لكه چي) يا (به) په سرباري كولو تويږيږي لكه گوندي زه راغلى وم ــ زه به راغلى وم ٠

٩ــ ټينگاري تيرمهال (تاكيدي ماضي) ٠ چي بشپړ ــ نابشپړ اولر راتلاي شي او د موخې اوجاج له پلوه زياتره په اوسمهال پوري اړه لري ٠ او د پوره څرگندتيا لپاره يې په سركي (بويه) يا (بايد) هم ملگري كيږي ٠

(١) بشپړ ټينگاري د به يابايد په مختاړي كولو او د (اي) په روستاړي كولو له (راغلل ــ) يا (راغل ــ) څخه جوړيږي لكه زه به راغللاي ــ راغلاي يا زه بايد راغللاي ــ راغــــــلاي ٠

(۲) نابشپړ تېنګاري چې د به یا باید په مختاړي کولو او (اي) په روستاړي کولوله (راتلل ــ) یا (راتل) څخه جوړیږي لکه:

زه به راتللاي ــ راتلاي یا زه باید راتللاي ــ راتلاي ۰۰۰۰۰۰ او یا راتلم به ــ راتلی به او داسې نور۰

(۳) لــر تېنګاري چې له خبري تیرمهال څخه د (به) په سرباري کولو توپیریږي لکه زه به راغلی وم ــ ته به راغلی وي ۰۰۰۰۰۰ که د (به) ځاي (باید یا (بویه) ونیسی نوبیا د (ول) کړ نوم پاي غبرګعز لکه ارماني هغه غوندې ورسره اوز دیږي لکه زه باید راغلی واي ــ ته بویه راغلی واي چې البته په دروارو وګړو کې یې بیا نرینه او ښځینه سره توپیرېداي شي۰ دپاي لیکښنبه یې پلننښــه (!) راځي۰

۱۰ ــ پوښتنې تیرمهال (استفهامی ماضی) په دې مانا چې که په هر ډول تیرمهال کې پوښتنه راشي ۰ نو پوښتنې تیرمهال بلل کیږي۰ بشپړ لکه زه راغلم نابشپړ لکه زه راتلم لنډ لکه زه راغلی یم لر لکه زه راغلی وم او داسې پسې نور۰

۱۱ ــ هیښنــې تیرمهال (تعجبی ماضی) چې هیښتیا تري څرګندیږي اوله پوښتنې سره یوائځې په اهنګ کې توپیر مومي لکه زه راغلم! ته راغلی! او هم داسې په نورو تیرمهالونو کې ۰

۱۲ ــ اړوتي تیرمهال (شرطیه ماضی) چې په تیرمهال کې د کوم کړ پیښیدنــه یا نه پیښیدنه په یوه اړ (شرط) پورې تړلې وي داکړ نور ترپایه پورې د خبري هغه غوندې رغیدنګ لري خو په سرکې یې یو نحوي توک اړوییکی (شرطیه ادات) ــ که ــ راوړل کیږي لکه که زه راغلم ۰ که زه راتللم ۰۰۰۰۰۰

دویم ــ داوسمهال کړ اوړون (گــردان) :

اوسمهال کړ داماناچې کړ هماغه مهال یا یوڅه وروسته پېښېږي چې یادونه یې کېږي ، چاروال یې له لومړي ولې (ریښې) څخه جوړېږي اوبیچار یې له تیرمهال یا په بله وېناله دویمې ولې څخه ، چې په دواړو بڼو کې وریوري تاکلي اوړونې (تصریفي) تاړي (وندونه) نښلول کېږي ، دغه تاړي داینې (مسندالیه) اود هغه د گڼې څرگندونه کوي نه دتوزي اومهال ، داماناچې په ناتیرمهال کې نوزي نه توپیرېږي او مهال خوزیاتره پچپلي کړ ولې سره څرگندېدنه مومي ،

الف ــ له لېږند خور ــ څخـــــه :

۱ : بشپړ اوسمهال ،

۱ــ خبري : چاروال ، چې له لومړۍ ریښې څخه زیاتره دبشپړتیا یې (مطلقیت) (و ــ) په مختاړي کولو او داړوندو نښلونو په زیاتو لو لاسته راځي :

یوگړي (مفرد)	ډیرگړي (جمع)
وخورم	وخورو
وخورې	وخورئ
وخوري	وخوري

بیچار ، چې له دویمې ولې څخه دلاسته راغلي بیچار کړ نوم په لنډون اوله هغه سره دمرستیالکړ (شول) په اوړون جوړښت مومي :

یوگــړي	ډیرگړي
وخوړل شم	وخوړل شو
وخوړل شې	وخوړل شئ
وخوړل شي	وخوړل شي

منحوال لکه : ځان وخورم ......

۲- آرزویي بشپړ اوسمهال (شرطي حال) چې له خبري بشپړ او سمهال سره توپير يې يوازې دا دی ويېل يا شرطيه ادات (که) په سرباري کولو څرګنديږي .

چاروال لکه : که وخورم — که وخوري ....

بېچار لکه : که وخوړل شم — که وخوړل شي ....

منحوال لکه : که ځان وخورم — که ځان وخوري .....

۳- آرزواني بشپړ او سمهال چې د (کاشکې) په مخکې کولو سره د خبري هغه ټوندي رغېدنګ دی :

چاروال لکه : کاشکې وخورم — کاشکې وخوري .....

بېچار لکه : کاشکې وخوړل شم — کاشکې وخوړل شي ....

منحوال لکه : کاشکې ځان وخورم — کاشکې ځان وخوري ..

۴- پوښتني بشپړ او سمهال چې په رغېدنګ کې له خبري څخه يوازې د غږ په پياوړتيا او د اهنګ په لوړتيا کې توپير لري . ليکنښه يې پوښتنښه ده :

چاروال لکه : وخورم وخوري

بېچار لکه : وخوړل شم وخوړل شي .

منحوال لکه : ځان وخورم ځان وخوري

۵- سپېنښي بشپړ او سمهال له پوښتني هغه څخه يوازې په اهنګ او د غږيدونکي په اکر (وضع) بېلتون موندلای شي او ليکښنه يې د پوښتنښي پرځای بلنښنه راځي :

چاروال لکه : وخورم ! وخوري !

بېچار لکه : وخوړل شم ! وخوړل شي !

٦ـ توانی بشپړ اوسمهال ۰ چی له دویمی ولی څخه دلاسته راغلی بیچارکړ نوم دپای غبرګغږ په اوږدو لو او ورسره د (شول) په اوړونو لو (ګردانولو) سره منځ ته راځی دچولی له مخی له بشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري ۰ په زړه پوري دا چی یی چاروال او بیچار سره یوانځی دغږیدونکی داکسر(وضعیت) ۰ چا پیریال او دریځ (موقعیت) اونومځرو له له مخی توپیرداي شی لکه : زه غم وخوړ ناړي شم ـ ماغم وخوړ لاي شی یاغم ماوخوړ لاي‌شی ۰۰۰

ګڼه وګړي	یوګړي	ډیرګړي
۱	وخوړ ناي شـــم	وخوړ لاي شــــو
۲	وخوړ لاي شی	وخوړ لاي شـــی ۰
۳	وخوړ لاي شـــی	وخوړ لاي شـــی

٧ـ امري بشپړ اوسمهال چی یوانځی ددویم وګړي لپاره راځی چاروال یی له لومړي ولی څخه ساده ډول او بیچار یی له دویمی ولی څخه دلاسته راغلی بیچارکړ نوم په لنډو ن او دمرستیالکړ (شول)په اوړون سره تر سره کیږي ۰

چاروال لکه : وخوره ! وخوري ۰ !

بیچار لکه : وخوړل شه ! وخوړل شی ۰ !

٨ـ ټینګاري یا تاکیدي بشپړ اوسمهال چی له خبري‌ځغه سره یی توپیر یوانځــی دټینګارویــکی یا تاکیدیادات(دي) په ورزیاتولو ترسره کیږي ۰

چاروال : له نومځرو سره لکه : زه دي وخورم ! ته دي وخوري ۰۰۰۰

بی نومځرو لکه : ودي خورم ! ودي خوري ۰۰۰۰

بیچـــار : له نومځرو سره لکه : زه دي وخوړل شم ! ته دي‌وخوړل شی !

بی‌نومځرو لکه : ودي خوړل شم ! ودي‌خوړل شـی !

٩ـ غوښتنی بشپړ اوسمهال چی دعایا ښیرا څرګندوي او یوازی پهناتیرمهال کی راتلای شی ٠ دتېنګاري هغه او کله کله د امري هغه غوندي جوړیږي خو پوره څرګند تیا یی په یوه غونډه له (جمله) کی له نورو توکونو سره کیدای شی لکه :

سردی وخورم یا سرمی دي وخورم ـ سردي وخوره یا په دغو متلو کی : نه اشه ښه ده نه ګله ـ دوي دي وخوري یو ترېله (میدان) ٠

نه یوه ښه ده نه بله ـ دوي دي وخوري یوترېله (د هلمند ناوه)

په پښتو کی زیاتره ارکړونه په ساده او یو ستوي توګه دغوښتنی لپاره راتلای نشی او مرستیالکړونه او توکونه ورسره ملګري کیږي ٠

ساده لکه : ومره ! ژوه ! (زنده باد) ٠

ترښتی (ترکیبی) لکه : ستړي مه شی ! خوارمه شی ! هرکله راشی ! خیریوسی ! یا له (خدای) سره : خدای دې خوار مکړه ! خدای دې وبښنه ـ خدای دي ښه درسره وکړي ٠٠٠

١٠ ١ـ ګومانی بشپړ اوسمهال چی دارنګ ویکو (شکیه اداتو) او غونډه له ییزوتوکونو په مختاړلي ګولتو له خبري هغه څخه جوړیږي ٠

چاروال لکه : ښایی چی وخورم ـ ګوندي وخورم ـ لکه چی وخورم ـ کیږي چی وخورم

بیچار لکه : ښایی چی وخوړل شم ـ ګوندي وخوړل شم ـ لکه چی وخوړل شم ـ کیږي چی وخوړل شم ! ٠

٢ : نابشپړ اوسمهال (غیرمطلق یا استمراري چال)

١ـ خبـــري :

چاروال ٠ چی بی له کوم مختاړي له لومړي کړولی سره دوګړیزو پایلو (خاتمو) په ملتیا جوړیږي لکه :

گڼه وگړي	یو گړي (مفرد)	ډیرگړي (جمع)
۱	خوړم	خوړو
۲	خوړې	خوړئ
۳	خوړي	خوړي

بیچار ۰ چې له لنډ کړ شوي بیچارکړ نوم (خوړل) سره مرستیالکړ (کیدل) په اوسمهال کې اوړون موږ لکه :

گڼه وگړي	یو گړي	ډیرگړي
۱	خوړل کیږم	خوړل کیږو
۲	خوړل کیږې	خوړل کیږئ
۳	خوړل کیږي	خوړل کیږي

منځوال لکه : ځان خوړم ......

۲ـ اړوتی نابشپړ اوسمهال چې داړوییکی یاشرطیه ادات (که) په مختاړي کولو له خبري ځخه جوړیږي :

چاروال لکه : که خورم ـ که خورې ......

بیچار لکه : که خوړل کیږم ـ که خوړل کیږي .....

منځوال لکه : که ځان خورم ـ که ځان خورې ......

۳ـ اړمانی نابشپړ اوسمهال چې دجولی له مخې له ارمانی نابشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري لکه کاشکې ما خوړلی شوای ، په دې توګه یې له نورو ارمانی (تیرمهال یااوسمهال) ډولونو سره د چاروال او بیچار توپیر د دریخ او نومځرو له مخې کیدای شي ۰

۴ـ پوښتنی نابشپړ اوسمهال له بشپړ تیا یې یا مطلقه (و ـ) پرته نور د پوښتنی بشپړ اوسمهال غوندې رغیدنګ لري لکه خورم ۰

٥ـ هیښنی بیاله پوښتنې سره یواځې په آهنګ او چاپیریال سره توپیرېدای شي او په لیک کې په ښکښته لکه: خورم !

٦ـ ګومانی نابشپړ اوسمهال له بشپړ تیاپسی (و ـ) پرته نور د بشپړ هغه غوندي رغیزي لکه ګوندي خورم یا ګوندي خپل سرخورم .....

٧ـ توانی نابشپړ اوسمهال د جولې له مخې له توانی نابشپړ تیرمهال سره ګوم توپیر نلري او یواځې د جاج او موخې (مفهوم او مقصد) له مخې تري توپیرېدای شي او همغسې یې د چاروال او بیچار بیلتون د نومځرو په اوښتون سره راځي لکه ما خوړلی شوای ـ زه خوړلی شوای ...

٨ـ امري نابشپړ اوسمهال چې کټ مټ د بشپړ هغه غوندي یواځې د دویم وګړي لپاره راځي لکه خوره ! خوري !

٩ـ ټینګاري یا تاکیدي نابشپړ اوسمهال چې د (دي) په ملتیا په دي وروستــــه پول جوړېدنګ موسی ...

چاروال • له نومځرو سره لکه زه دي خورم ـ ته دي خوري •

بی نومځرو لکه : خوړل کیږم دي ـ خوړل کیږي دي ! (١)

١٠ـ غوښتنی نابشپړ اوسمهال چې ټیرلز د ودلري او هغه هم په ځینو کړوار بیاپه یوه غونډه له (جمله) کې له نورو توکونو سره لکه :

خدای دي لره ـ خدای دي له هري بلا ساتــــه !

خدای دي مه بینه ـ خدای دي مه خواروه !

خدای دي مه کموه ! او داسې پسې نور •

(١) بیچار ـ له نومځرو سره لکه زه دي خوړل کیږم ـ ته دي خوړل کیږي

بی نومځرو لکـــه خوړل کیږم دي ـ خوړل کیږي دي •

ب ــ له نالیزتد ځ ــ ــ ولاړ ــ او تللکي یا تل ــ څخه :

۱ : بشپړ اوسمهال ، چې له دویمې ولې (ولاړ ــ) سره مرستیالکړ (شول) اوړون مومي ،

۱ ــ خبري :

گڼه / وگړي	یوگړي (مفرد)	۲ یرگړي (جمع)
۱	ولاړ شـــم	ولاړ شـــو
۲	ولاړ شـــې	ولاړ شـــئ
۳	ولاړ شـــي ولاړه شـــي	ولاړ شـــي ولاړې شـــي

۲ ــ اړوتی بشپړ اوسمهال ، چې داړ وییکي یاشرطیه ادات (که) په مختاړ يکولو دخبري هغه غوندي رغیدنه مومي لکه : که ولاړ شم ــ که ولاړ شي ......

۳ ــ ارماني بشپړ اوسمهال چې د ټولو وگړو لپاره له (ولاړ ــ) څخه دجوړ شوي کړ نوم (ولاړ لی) په اوږ د و لو جوړیږي اوډیوره څرگند تیالپاره یې د (کاشکی) وییکي هم په سرکي راځي اودجولي له مخې له ارماني بشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري لکه : کاشکي زه ولاړ لای یا ولاړای ــ کاشکي ته ولاړ لای ــ ولاړ ای ......

٤ ــ پوښتنې بشپړ اوسمهال چې له خبري هغه سره یوازې په اهنگ کې توپیرلري لکه : ولاړ شم ولاړ شي ،

٥ ــ هیښنې ، چې له خبري یا په بله وینا له پوښتنې هغه سره دغږیدونکي په یوه ځانگړي اکر (وضعیت) او اهنگ کې توپیرمومي لکه :

ولاړ شم ! ولاړ شي !

٦ ــ توانې بشپړ اوسمهال چې له (ولاړ) سره د مرستیالکړ (شول) اوږ دغبرگغږي کړ نوم (شولاي یا شواي) اوړون مومي اوپه دي توگه دجولي له مخې له توانې بشپړ تیرمهال سره سمون خوري ،

ګڼه / وګړي	يوګــړي	ډيرګــړي
۱	ولاړ شولاي – شواي	ولاړ شولاي – شواي
۲	رر رر رر	رر رر رر
۳ـ	رر رر رر ولاړه رر رر	رر رر رر ولاړي رر رر

۷ـ امري بشپړ اوسمهال چې يواځې په دويم وګړي پورې اړه لري لکه:

ولاړ شه! ولاړ شئ!

۸ـ ټينګاري بشپړ اوسمهال چې له خبري هغه سره يې تړېږي يواځې د ټينګار وييک (دې) په ورزياتولو کيږي

له نومځړو سره لکه: زه دې ولاړ شم – ته دې ولاړ شې ....

بې نومځړو لـــکه: ولاړ دې شم – ولاړ دې شي ......

۹ـ غوښتنې بشپړ اوسمهال چې له ولاړ – څخه په ميده ډول ډېر لږ دود لري لکـــه: سر دې ولاړ شه! ګورته ولاړ شې!

۱۰ـ ګومانې يا احتمالي بشپړ اوسمهال چې له ولاړ سره مربتيالکر (شول) د اړنګ وييکو (شکيه اداتو) يا په بله وينا د اړتګ توکونو په ملتيا اوړون مومي لکه:

بنايي چې ولاړ شم – ګوندې ولاړ شم – لکه چې ولاړ شم – کيږي چې ولاړ شم ....

۲: نابشپړ اوسمهال چې يواځې د ارمانې او تړانې لپاره تل – يا تلل – راځي ځکه چې د جولی له مخې له تېرمهال سره سمون لري او نورپاتې ډولونه يې د څخه له ولې څخه جوړيږي چې د تل – يا تلل – او ولاړ – سوبلاتيف (بشپړ اند) بلل کيږي ...

١ــ خبــري :

گڼه / وګړي	یوګــړي	ډیرګــړي
١	ځم	ځو
٢	ځــې	ځئ
٣	ځــي	ځي

٢ ــ اړوتی لکه : که ځم ــ که ځی ٠٠٠٠٠٠

٣ــ پوښتنی لکه : ځم ځی

٤ــ هیښنی لکه : ځم ! ځی !

٥ــ امري لکه :ځه ! ځی !

٦ــ ټینګاري لکه : ځم دي ځی دي (له دویم وګړي پرته) ٠

٧ــ ګوماني چې د (ګوندي) او (لکه چې) په ملګرتیا دخبرۍهغه غوندي جوړیږي

لکه : ګوندي ځم ــ لکه چې ځم

٨ــ غوښتني چې د ودنلري ٠

٩ــ ارماني چې د تل یا په بله وینا تلل ــ د څارنوم (تللی) په اوز د ولو سره جوړیږي

لکه : زه تللاي ــ ته تللاي ٠٠٠٠٠٠

١٠ــ تواني چې د تل یا تلل ــ له څارنوم تلی یا تللی سره د مرستیالکړ (شول)

داوز ده څارنوم (شولاي یا شواي) په ملتیا جوړ ښت موس اود ټولو وګړ و لپاره په همدي یوه بڼــه

راځی لکه : زه تللی شواي ــ ته تللی شواي ٠٠٠٠٠٠

دريم ــ داوسترمهال کر اوړون (گردان) :

اوسترمهال يا مستقبل کر چې په گانده (ابنده) کې ديوه چارپيښيدل څرگندوي ٠ دجولی او مانا له مخې له اوسمهال سره کوم ستر توپير نلري دا دواړه مهالونه په يوه نامه ناتيرمهال هم نومول کيداي شي لکه څنگه چې دوکتور تـــزي دغه نومونه کاروي ٠ خو بيايې هم د (به) وييکی په زياتولو لــــه اوسمهال سره بيلتون راتلاي شي اويه دې توگه په پرتليز ډول د غزيدونکی دغز يدا له مهال نه يوځه وروسته مهال ښيـــی ٠

الف ــ له ليزند خور ــ اوخوړ ــ څخه :

بشپړلکه : وبه خورم ــ وبه خوري

يا ــ وبه خوړل شم ــ وبه خوړل شی

نابشپړلکه : خورم به ــ خوري به

يا : خوړل کيږم به ــ خوړل کيږي به ٠٠٠٠٠

ب ــ له ناليزند ځ ــ اوولاړ ــ څخه :

بشپړلکه : ولاړ به شم ــ ولاړ به شی ٠

نابشپړلکه : ځم به ــ ځی به ٠٠٠٠٠

دکړ رغاونې (ساختمان) ډولونه

دکړ تر بيلا بيلو ګرامري ډولونو او اوړونو (ګردانو) وروسته غواړو د وېيې رغاونې (لغوي ساختمان) له مخې د هغه رغاونه او جوړښت ترکتي لاندې ونيسو. په دې توګه له څلورو ډولو کړونو سره مخامخيږو: ساده – بيلښتي (اشتقاقي) – شاپشاڅ (ياخواپرخوا) – تړښتي (ترکيبي).

۱– ساده يا يوستوې کړ چې ستنه يا بنسټ يې له يو ګړيزې (يومورفيميزې) ولې څخه جوړوي. او اوړونې (تصريفي) مختاړي او روستاړي وروړې سېده نښلول کيږي لکه خور – چې خورم – خورو – خوري – خوري – خوري .... او داسې نورې جوړونې ترې کيږي.

۲– بيلښتي يا اشتقاقي کړ. چې ستنه يا بنسټ يې له يو ګړيزې ولې او کوم تاړي (افيکس) څخه جوړوي. په دې مانا چې دکړ ولې جاج (مفهوم) ديوه تاړي په ملتيا بشپړيږي او څرګنديږي. يا په بله وينا د غسې يو تاړي د جاج او مانا له مخې دکړ ولې نه بيليدونکې توک ګڼل کيږي. په دې توګه له ولې څخه لرې کړو تاکلی جاج يې اوړي او يا يې کوړتې له لاسه ورکوي لکه: راغلل – درغلل – ورغلل – راتلل – درتلل – ورتلل – راکول – درکول – ورکول. کښيوتل – کښيناستل. کښې ايستل. کښينول – پوري وتل – پورې وهل – پورې ايستل – پورې کول ... دغه راز ډير ستاينومونه او څيزنومونه هم د روستاړو په نښلونه د اوسمهال کړ ولې ګرځي لکه: لوييدل – غټيدل – تيريدل – کاريدل – اوبيدل – دوديدل – لاسيدل ... يا لويول – غټول – تيرول – کارول – اوبول – دودول – لاسول .....

د بيلښتي يا اشتقاقي او يا مشتق کړ رغاونه دا شي لنډه ونومو:

۱– کړ ولې + مختاړي = راتلل. درتلل. ورتلل. ...

۲– ستاينوم ولې + روستاړي = لوييدل – لويول يا غټيدل – غټول ...

۳– څيزنوم ولې + روستاړي = اوبيدل – اوبول – يا دوديدل – دودول ...

زموږ د ودېيزو پوهانو دغې ډولې کړونو ته ((يدل والا مصدرونه)) وايي چې يوه ناپوهنيزه نومونه ده.

۳ــ خواپرخوا یا سمت ترښتی (ترکیبی) کړ . هغه راز کړ ته وایی چی د کړ ستم یا بنسټ له دوو یا ډېرو خپلواکو ګړونو (مورفیمونو) څخه هسی سرسري او ښایزیو ځایوالی موندلی وي . په بله وینا یو پوخ ترنګ (ترکیب) یی بللای نشو . داسی چی سره یوځای شوي توکونه نه خج له لاسه ورکوي او نه پایلی اوړه دي . توګه یی پایلی سره جلا جلا خپله اوړونی (تصریفی) لوښه (خاصه) ترسره کوي حال دا چی په یوه پوخ پارښتینی ترنګ کی د رغنده توکونو (اجزاوو) خجونه او (تصریفی) پایلی پروروستنی توک باندي پنډېدنه او یوکیدنه (تجمع او توحید) مومی . د خواپرخوا کړ رغاونه په دي لاندي ګړنو (اصطلاحاتو) کی ښوول کیږي :

۱) ځیزنوم + مرستیالکړ = زمری کیدل ــ کول ؛ زمری کیدل ــ کول ــ زمري کیدل ــ کول . زمری یا زمریان کیدل ــ کول ....

۲) ستاینوم + مرستیالکړ = مړ کیدل ــ کول ؛ مړه کیدل ــ کول ؛ مړه کیدل ــ کول . مړي کیدل ــ کول ...

۳) چاروال کړ نوم + مرستیالکړ = سرخوږ ونکی کیدل ــ کول . سرخوږ ونکي کیدل ــ کول . سرخوږ ونکي کیدل ــ کول . سرخوږ ونکي کیدل ــ کول .....

٤) بیچار کړ نوم + مرستیالکړ = سرخوږلی کیدل ــ کول . سرخوږلي کیدل ــ کول . سرخوږلي کیدل ــ کول ــ سرخوږلي کیدل ــ کول ....

۵) شمیرنوم + مرستیالکړ = دوه کیدل ــ کول ؛ دوي کیدل ــ کول ...

٦) بیاځلی ستاینوم + مرستیالکړ = تود تود کیدل ــ کول ؛ توده توده کیدل ــ کول . تاوده تاوده کیدل ــ کول ؛ تودي تودي کیدل ــ کول ....

۷) سربل + ځیزنوم مرستیالکړ = ترلاسه کیدل ــ کول ....

۸) سربل + ځیزنوم + اوستربل + ارکړ = له سرنه نیول ــ له پښو څخه غورځیدل ــ غورځول . تریایه پوري رسیدل ــ رسول ....

٩) ځیزنوم + او ستربل + مرستیالکړ = مخ ته کېدل ــ کول ، شاته کېدل ــ کول ...

١٠) ځیزنوم + اوستربل + ارکړ = پاې‌ته رسیدل ــ رسول ، سرته ختل ــ خیژول ....

١١) ځیزنوم + او ستربل + بیلښتی کړ = لاس‌ته راوړل ــ لاس‌ته راوستل ....

٤ــ ترښتی (ترکیبی) کړ ، چی له خواپرخوا کړ سرمی په رغاونه کی توپیر دادی چی دلته مله یا یو ځای شوي‌توکونه سره یو نه جلا کېدونکی یووالی منځ ته راوړي په دي مانا چی‌مخنی توکسونه‌یی خپل خج او اوړونی‌تاړي اوله دي سره مانیزه او ګرامري‌خپلواکی له لاسه ورکوي او یوازی وروستنی هغه‌یی دګرد ترنګ په ښکارندویی یوغښتلی خج او اوړونی‌نښانی‌ځان ته اخلی . البته مخنی توکونه‌یی یا له آره ناوړیدونی وي (لکه کړ ولونه) اویایی په همدغه ترنګ کی خپله اوړونی اوګرامري جوله اوچاروما‌نا له لاسه ورکړي وي . ترښتی کړ هم لکه د (خواپرخوا) کړ غوندي په کړنو (ایدیمونو) اړه لري لکه‌په دي بیلګوکی:

زیاتره

ځیزنوم + مرستیالکړ = زړه کېدل (میل درلودل) یا ښکاره کېدل ــ کول . غلاکېدل ــ کول

(خج پرمرستیالکړ) کښخواپرخوا کړ بدلیږي .

ځیزنوم + مرستیالکړ = زړه کول (جرئت کول)

ځیزنوم + مرستیالکړ = توره کول (غیرت یا میړانه کول) .

ترښتی ځیزنوم + مرستیالکړ = زړه نازړه کېدل (ټکنی یا مترددکېدل).

بیاځلی ځیزنوم + مرستیالکړ = سترګی سترګی کېدل (انتظار ایستل) برخه برخه ــ

ټوټوټوټه ــ ونډې ونډې ــ لوټې لوټې کېدل یا کول ....

ستاینوم + مرستیالکړ = لوده ــ شوده ــ بدمرغه ... کېدل یاکول .

بیاځلی ستاینوم + مرستیالکړ = لوده لوده ــ شوده شوده .... کېدل یا کول .

بیاځلی کړ ول + مرستیالکړ = پورته پورته ــ کښته کښته ــ وروسته‌وروسته ... کېدل یا کول .

ځیزنوم + ارکړ = پښه نیول ــ لاس‌اخیستل ــ سرخوړیدل ــ ځان پړسول ــ ځان وهل ــ ځان وژل ــ ځان‌ژوبلول اوداسی نور منځوال کړ ونه له اره ترښتی کړونه بریښی .

دویمه برخــــه :

ناوړيدونی ګړونه (INDECLINABLE MORPHEMES)

دګړپوهنی (مور فولوژي) په تيره برخه کی موله نومونو او کړونو څخه خبري وکړې او په هغه ترڅ کی مو د هغوړولونه او اوړونو نه (ګردانونه) وښوول په دي برخه کی غواړو د ګړونو (مورفيمونو) يوه بله (دويمه) ډله ترکتنی لاندي ونيسو ، د دي ډلی ځانګړتيا (خاصه) دا ده چی د تيري ډلی (نومونو او کړونو) په توپيرځانته کوم ازاده ويېزه (لغوي) مانا نلري بلکی له خپلواکو ګړونو (نومونو او کړونو) سره يې چار او مانا جوتيږي او له کړولونو (قيدونو) پرته دغونډلی (جملی) له مرستيالو توکونو څخه ګڼل کيږي • کړولونه بيا له نومونو او کړونوسره دارويا ازاد ګړونـــو (مور فيمونو) ډله جوړ وي •

ناوړيدونی ګړونه په دي وروسته توګه بيلابيلی ټولی (کټګوري) او ډولونه جوړ وي :

لومړي ـ کړولونه ياقيدونه (ADVERBS) :

کړولونه هغه ژبنی توکونه دي چی د يوه کړ د پيښيدنی څرنګوالی ښيی د اخرنګوالی دکړ د پيښيدلوځاي يا مهال ټاکی اوپايی څرګند تيا ټينګار او داسی نوري ځانګړتياوي (خصوصيات) ښکاره کوي • په پښتو کی او کړولونه ناوړيدونی دي ، نا ارلکه څيزنومونه او ستاينومونه چی په څـرمه ډول دکړولونو په توګه کارول کيږي البته ناوړيدونی نه بلل کيږي ، په ټوليز ډول کړولونه دا وروسته ويشنه لري :

ا ـ مهالی کړول : چی د مهال له مخی د يوه کړ پيښيدنه اغيز منوي لکه :

اوس ـ وروسته ـ ځکی ـ دمخه ـ پخوا ـ وړاندې ـ همدلاسه ـ سملاسی په سرکی ـ په پيل کی ـ په پاي کی ـ پاي ته ـ بېرته ـ سرته ـ ژر ـ ورو ـ ګړندي ـ ځنډ يا په ځنډ ـ بی ځنډه ـ په بيړه ـ په تلوار ـ په چټکی ـ په چابکی ـ ووړمه ورځ ـ ووړمه شپه ـ پرون ـ پرون ورځ ـ پرون شپه ـ نن ـ نن ورځ ـ نن شپه ـ نن ګهيځ ـ نن غرمه ـ نن ماښام ... ـ سبا ـ سباته ـ بل سبا ـ بل سباته ـ ګهيځ ـ سهار ـ غرمه ـ ماسپښين ـ ماز يګر ،

(مازيګر چيري وي لويي مه شــــــــی ماپښنګی کی شنه باد رنګ راوړي وونه) •

دوخته — ناوخته — لمر خاته — لمر پریواته — سز کال — پروسز کار — وړم کال — لاووړم کال (ته) — کال ته — بل کال ته — لابل کال ته — ترڅو یاخو — په څخاسته — په منډه — دمنډې له مخې — دولاې له مخې .

اوداسې نور ار اونا ار کړولونه . بیا ځلی (تکراري) لکه : ژر ژر — اوس اوس ...

لنډ پرلنډ یا لنډ پرلنډه — لاس پرلاس ...

۲— ځای (مکانی) کړول : چې دیوه کړ پیښیدنه دځای او چاپیریال له مخې اغیزمنه کوي لکـــــه :

دلته — هلته — دلی — هلی — دوري — هوري — مخکی — وروسته — شاته — مخ ته — بیرته وړاندې — لري — نژدې ... (دغه راز کړولونه زیاتره مهالی اوځای دواړه کاره وړکوي په بله وینا هم مهالی او هم ځای دي) — کښته — ورته — لاندې — باندې — دننه — دباندې — اخوا — دیخوا — له لري — له نژدې — له ورایا له ورایه — مخامخ — پش شا — مخپورته — مخکښته — مخ پر وړاندې — پرمخ — پرشا — ستونی ستغ یا ستونی ستاخ — سرپرځنې ... ځای پرځای — لور دلوره — لورا لور — کوراکور ...... اوداسې نور ار اونا اریا ساده او ترښتی ځای کړولونه .

۳— څرګندنې او ټینګاري کړولونه : چې دیوه کړ دپیښیدنې څرګند تیا ، حالت څرنګتیا یا ټینګار ښیي لکه : په څخرده — په ډاګ یاپه ډاګه — ډانګ پیــلی (ویل) — په ښکاره — په پټه — په څرګنده — په غلا — په زیار — په خواري — په بیړانه — په ویره خوله — په زور یاپه زوره — په خوښه — ورویاپه ورو (اواز) — په نره — په مړو سترګو — په ټیټو سترګو — په ځګوسترګو — په هسکه غاړه — په کلکه — په ټینګه — زړه نازړه (کول — ویل ...) — په ناسته — په ولاړه — په منډه — په ملاسته — هرومرو — زازو — په هره ډول — په هره توګه — هیڅ په هیڅ یا هیڅ په هیڅه — خوښی په خوښی — په اوږدو — په لنډه یاپه سار ه څه ناڅه — زړه نازړه — لږ و ډیر ...

یا داوږدو کړنو په بڼــه لکه : وابنه پرخوله رسی پرغاړه (ورتلل) ....

دویم ــ وییکی (ادوات PARTICLES) :

د اهم دناوړیدونیو یا آزاد و ګړ ونو (مورفیمونو) یوه غوره برخه د ه او بیلګیې په دې وروسته ډول دي :

۱ــ اړیکوییکی (ارتباطی ادات CONJUNCTIONS) : چې څومره والی او څرنګوالی یاورته والی له مخې سره اړي او څرمه غونډلی (جملې) نښلوي اوپه دې توګه دوه دوه سره غاړه کیږي چې له لومړي سره یې زیاتره (چې) هم ملګري کیږي که څه هم (چې) پخپله ځانته یو اړیکوییکی هم دي . او په ګډه د دوو توټو یا غونډ لو اړیکی ټینګوي لکه څومره او هومره دې غبرګه غونډه له کی . څومره دیګ هومره تبیر . نوري د اسې جوړي لکه : څنګه چې ــ هسې . که څه هم ــ بیا هم . څومره چې ــ هومره یا هماغومره . چیري ــ هلته (چیري دي نه هلته دي شپه) هسې ــ داسې ــ همداسې ــ همدا رنګه ــ همدا راز ــ هغسې ــ هماغسې یا همغسې ــ خو ــ مګر همدومره ــ په همدې ډول ــ په همدې راز . چې ــ نو .... په کندهاري ګړدود کې ځکه هم د څنګه پاره پرځای کوي لکه چې وایی ځکه چې ناروغ وم نو درمل می وخوړل . (که)) بیاپه اړ ویکو کې یو اړوییکی دې چې د دووغونډ لو ترمنځ یواړ (شرط) ټینګوي لکه که ته راشې نوزه به هم راشم .

۲ــ ورتنې یا تشبیهي وییکی چې په دودیز ګرامر او ادبي فنو نو کې یې (حروف تشبیه) بولی هغه وییکی دي چې د دوو یا زیاتو شیزونو یا پدیدو ورته والی او مشابهت ښیي لکه :

لکه ــ غوندې ــ په څیر ــ په رنګ ــ په شان ــ په دود ــ په توګه ــ په ډول ــ په راز ....

۳ــ تړوییکی (عطف توري) چې دوه توکونه (وییې) یاغونډ لی سره ملګري کوي لکه او ــ و ــ که ــ یا ــ سره په دې بیلګوکی : باغ وایډ ګلونو ډکی ناست وای زه او ته ــ (و) او (او) سره همغانیزدي اوپواځې غږیز (فونو لوژیکی) توپیر سره لري همدغه (او) دې چې په زیاته کاریدنه پر(و) اوړي لکه موروپلار ــ خور و ورور مګرکه له خپلواکپای ویې سره بل وییې تړل کیږي نو په اره بنهــ راځي لکه کاکا او ماما ....

بل داچی زیاتره (او) یو نحوي ترون ښیي او(و) یو لغوي‌ترون ..... همدارنگه (که) او(یا) هم همـمانیز ترویکی بلل کیږي لکه ښه که بد ښه‌یابد — (سره) له نورو ترویکوسره داتوپیر لري‌چي دملگرو توکونو (ویبو یا غونډ لو) ترمنځ نه بلکی تریوروسته راځی او هغه سره تري یاملگري‌کوي.

٤— تولوییکی (اضافت توري) چی څیزونه‌یاپدیدي‌سره یو له بله اړوندوي یا یودبل تړل او ملکیت کوي‌په جولیز ډول پښتو یواځی یوتولوییکی (د) لري لکه: دهلك خولی — دپښتو ټانگه داسمان ستوري ...... داچی پښتو ټانگه یا دري ټانگه — ادب پوهنځی یا کابل پوهنتون بی (د) ویل کیږي دلیل داديچی په لومړیو دوو ساریو (مثالو)کی پښتو اودري دنورو ژبنی نومونو غونډي د ستاینومو ښهی غوره کوي‌او ستاینوم په پښتو کی په خپل څیز نوم پوري سیده نښلی نور ساري یی لکه: افغان اولس — باختر اژانس — پښتون ټلمی اوداسی نور. او ادب پوهنځی یاکابل پوهنـتون دنومونو او تړگونو (ترکیبونو) په توگه د (د) غونډي یونحوي توك ته‌نوره اړه‌نلري: نور ساري یی لکه: طب پوهنځی — پلان وزارت — دفاع‌وزارت اوداسی نور. (د) دتولوالی‌ترځنگه‌لږ و ډیره ځالی پاره هم ترسره کوي لکه دشپی — دورځی... مگر د سربل په توگه د (د) کارونه دلیکنی معیاري پښتو له ښستو څخه چپه بریښی لکه دټلمی‌سره دکدهار څخه راغلم. همداراز له تشبیهی ویبکو (غونډي — په څیر — په رنگ ...) د یوه (سربل) په‌توگه هم‌غاړه کیږي لکه دزمري غونډي.... له (— پاره) سره‌نن سبا دومره نه مل کیږي بلکی پر (له) اوښتی دي.

٥— سربلونه(PREPOSITIONEN)او اوستربلونه(POSTPOSITIONEN):

سربل یا پیشینه هغه ویبکی دي‌چی تریوه نوم دمخه راځی اویه‌یوه‌غونډ (فقره) یا غونډ له کی دهغه‌نوم پیر اودریځ ښیي. لکه (په) په (په‌کورکی) — (له) په (له ښوونځی څخه) یا (له ټلمی سره) (تر) په (ترکوره پوري) — (په) په (په تاپوري) اوداسی نورو بیلگو کی. په دي‌توگه موږ گورو چی یو سربل دیوه‌بل ویبکی په‌ملگرتیا چی ترنوم څخه وروسته راځی. نوم په تون — وتون اوداسی

نورو پیوړ کې اچوي دغه ترنامه وروسته ملګري ویکي یې (اوستربل) یا پسینه بلل کیږي ° سره له دي چې سربلونه او اوستربلونه دغونډل (جملې) یا په بله وینا په ناخپلواکو او مرستیالو توکونو کې راځي او مانا اویازه یې د همغو نومونو یا کړنو او کړولونو په ګاونډیتوب کې څرګندیدای شي ° خو دا چې پردغو ار یا خپلواکو توکونو یو ډول اغیز لري او د همغو د ریځونو او پیرونــــه (حالتونه) څرګندوي نو اداره کوونکي ـــ چلوونکي یا واکمن توکونه هم بلل کیږي (په نحوي تجزیه کې به پرې پوره خبري وشي) ° د دغه پورتنیو پازو اوډندو له پلوه سربلونه او اوستربلونه په دي وروستیو ډولو ویشنه مومي:

ا ـ په ـ چې له (کې) اوستربل سره د اړوند (مربوط) نوم تون پیر یا ظرفي حالت څرګندوي لکه (په تږلګې کې) ـ له (پوري) اوستربل سره یو بل ډول تون پیر یا په بله وینا یوپیو ستون ښیي لکه په ځان پوري ـ په تاپوري ـ ستا په خبري پوري (بارتباط ګپ شما) ـ له (سره) او ستربل سره یو لوښتپیر (آلي حالت) را ښیي لکه په بیاتي سره ـ په چړي سره ـ په وینا سره ـ په زور سره ـ په خوښي سره ـ له (پسې) او ستربل سره یو بل راز تونپیر یا پرله پسي والـــي څرګندوي لکه: په تا پسې ـ په سختي پسې اساني راځي ـ په ژمي پسې پسرلی دي لکه په پورتنیو بیالګو کې چې لیدل کیږي کله کله تري ملګري اوستربل لویدای هم شي لکــــه: په خوښه که په زوروي له مظلوم به د ظالم لاس لنډیږي په تا اړه نلري (په تاپوري اړه نلري) ـ په لیکانې لیک کیږي (په لیکانې سره لیک کیږي) ° مګر (په کور) له (په کورکې) سره یوراز نه دي ځکـــــــــــــــــــــــه (پـــه کــــــــــــــــور) له اره (پرکور) دي چې ظرفي نه بلکې استعلایي مانا ښندي ° همداراز په وخت ـ په کال ـ په مازیګر ـ په بجو ° ° ° ° ° د پروخت ـ پرکال ـ پرمازیګر ـ پربجو ° ° ° ° ناسم یا ناکره ښیي دي ° همدا خبره ده چې موز (پـه پښتو لیکل) او (پرپښتو لیکل) سره توپیروو °

۲ ـ پر ـ یو باندېنی (استعلایي) ویکی دي چې یو اړوند اوستربل (باندي) یې زیاتره غوږ ځیږي لکه پرمیز باندي یا پرمیز ـ پرځمکه باندي یا پرځمکه ـ پرزړه باندي یا پرزړه ـ

پرسرباندي یاپرسر — پرزړه یو څه پرخوله بل څه — پروخت — پرکور — پرکابل — پرلمسو بجو — پر۱۳۵۶ کال اود اسې نور ۰ پرهم د (په) غوندې زورپاي‌نوموړه پراونستس‌پیړنه اړ زي ۰ له کندهاري اوتاریخي ادبي پښتو پرته نور زیاتره کړ دودونه (په) او(پر) سره ګډ وي پریوه وخت یادواړه په الي — ارتباطي اوتسلسلي مانا کاروي‌په بله وینا دواړه د(په) پاره پرځاي کوي او یادواړه په استعلایي مانا یاپه بله ژبه دواړه د(پر) دنده ترسره کوي ۰ لکه د (په پښتو لیکل) او(پرپښتو لیکل) بیالګي چې د(په) په برخه کې راوړل شوي ۰ په یوه کره لیکنی‌پښتو کی ددغه دواړو سربلونو توپیر ضروري دي ۰ یوژبنی ارهم دادي چې دوه توکونه یا دودونه په تاریخي اواتمولوژیک‌ډول هیڅکله همانیزاو همپازیزنه وي د همدغه ارپه ترځ کی سیمایی ارهم سمبالیزي که په ګړنی ژبه کی دغه ارونه دومره پرځاي‌هم نشي مګرپه لیکنی ژبه کی څو اړخیز ګټور نقش لري ۰ توپیریانه ګډون — کاروېش او سیمانا دنړۍ دهري ژبې‌بنسټ‌جوړوي ۰ په دې توګه په کاردي (په پښتو لیکل) داسې مانا کړو چې یو څه په پښتو ژبه لیکل کیږي‌نه په بله ژبه ا (پرپښتو لیکل) دامانا چې دپښتو په باره کی څه لیکل کیږي نه دبلی ژبې یابلی موضوع په باب همدارازپرکابل اوسیږم دامانا چې دکابل‌ښارپه شاوخواکی اوسیږم ا په کابل کی اوسیږم دا چې دننه په‌کابل یا کابل ښارکی ۰ په پارسي کی هم د (به) او(بر) توپیرپه زړه ادب اواوسنی ایرانی ادب اولیکنه کی پوره څرګند دي ۰ د(پر) بل اوستریل (سرپیره) دي‌چې ناکره ډول یې (پرسیره) هم لیږو ډیر دود لري ۰ دغه اوستریل هیڅکله نه غورځول کیږي‌که نه مانایې له (باندې) سره ګډ یږي او یوکیږي ۰ پردو یبکو مخري (اداتی ضمیر) — پري — پرځاي‌کارول چې کندهاري ګړدودواړه لري هم دیاد شوو ژبنیو ارونو له مخې په تولیزه لیکنی پښتو کی دمننې وړنه بریښي ۰ همداسې تراوسه هم درواخله چې له ترې اوس یاپري سره ګډول ګډوډوي پیښوي ۰

۳ — تر — چې د (پر) په (مقابل) سربل دي هغه دا چې ترهرڅه دمخه د پرغوندې د (باندې) نه چې د (لاندې) اند بسندي له دي کبله یې لومړي اوستربل (لاندې) دي چې هیڅکله غورځیدنه نه منی لکه (ترمیز لاندې) چې (ترمیز) بیا ګرد سره باله مانا بسندي

اوهغه تونی او مهالی پیوستون دي لکه تر ننګرهاره ــ ترمازیګره چې اوستریل (پوري) یـــې هرو مرو ملتیانکوي • د ریم اوستریل یې (وروسته) یارا وروسته کړول دي لکه تر غرمې وروستـــه یاتــرغرمې را وروسته ــ ترځلمې وروسته زما واردي •••• له څلورم اوستریل څخه (ځنې ــ نه) سره پرتلیز جاج ښندي لکه تر تا څخه زه ښه یم چې دغه اوستریل په غورځید و (ترنا) هم سم راځي • د دي پرځاي چې د نورو ژبو په پېښـــو ــ سزنې کال د پروسز کال په نسبت لویروندي (بارنده) دي ــ ووایو (سزنی کال تریروسز کال لویروندي دي) لنډ او کره راځي • (تر) په دغه پرتلیزه (نسبتي یاتدرجي) مانا له (له) سریل سره همانیز کیږي خود اچې (له ــ څخه) ترهر څـــه د مخه وتون پیر (منشایي) حالت څرګندوي •نو بیا هم له (تر ــ څخه) سره یې ګډ ول په کارنه دي ــ یالز ترلږه (تر تاځنې) وکارول شي • له تولوییکي (اضافت توري) ــ د ــ سره یې ونجول هم پې ځایه دي لکه ننګرهاریان چې وایي : د کوره په ساراخوښ یم ــ د ویشه په تالا • خود اچې په ګډه کره لیکي پښتو کي د لته د پرتلې مانا موخه (مطلوب) د ه نو (ترکوره پرسارا خوښ یم ــ تر ویشه پرتالا) تري سم بریښي او له کوره پرسارا خوښ یم ــ له ویشه پرتالا) دومره تیـــك اوغوره نه راځـــي •

دغه راز په ختیزو ګړ د ودوکې د (په) ــ (تر) ــ (له) پرځاي هم زیاتره (د) کارول کیږي چې دا هم له ژبنیو او معیاري ارونو څخه چپ بلل کیږي لکه د ځلمې پس ــ د ننګرها ر پوري ــ د میزلاندې ــ د ننګرهار نه ــ د ځلمې سره د کند هاره راغلم ــ د پښتو ټولنې د لغاتو د خانګي د خوا ــ د تانه یا ستانه زه ښه یم •••• کره لول یې : په ځلمې پس ــ ترننګرهار پوري ــ ترمیز لاندې ــ له ننګرهاره له ځلمې سره له کند هاره راغلم ــ د پښتو ټولنې د لغاتو د خانګي له خوا ــ ترتا (څخه) زه ښه یم •••••

٤ــ له ــ چې له (څخه ــ نه یا ځنې) اوستریل سره له اره د یوه نوم (وتون پیر) منشایي حالت څرګندوي لکه له سیستانه یا له سیستان څخه یا له سیستان نه او یا له سیستان ځنې • په د یمه (نسبتي) د انایې کارول یې دومره کره نه بریښي لکه پاس چې ورته ګوته ونیول شوه •

(له) له دویم اوستربل (سره سره د ملګرتیا (معیت) جاج ښندي لکه له ځلمي سره تر هرات پورې ملګري وم او داسې نور . په دغه مانا یې اوستربل (سره) پر (څخه یا څه) اړول لهګه ي کره لیکې پښتو څخه چپ بریښي په بله وینا باید (له ځلمي سره) او (له ځلمي څخه) په یوه مانا ونه کارول شي . دریم اوستربل یې (وروسته) دي چې مهالي او تونۍ کړول (قید) ورسره جوړ وي او له (تر) سره یې پاره یو کیږي لکه لرغرمې وروسته کورته ځم چې البته (ترغرمې وروسته ترې) زیات غوره بریښي په بله وینا (وروسته) د (له) نه بلکې د (تر) معیاري وسرتربل دي . څلورم اوستربل یې (راهیسې) دي چې یو مهالي کړول ورسره جوړ وي لکه له پروسږ کال راهسې ـ له ډیرو کلو راهیسې ـ له پخوا راهیسې .... ناکره یې ؛ د پروسږ کال راهیسې ـ د ډیرو کلو راهیسې ـ د پخوا راهیسې ...... په دې توګه (راهیسې) د یوه اوستربل په توګه باید په (نوم) سیده ونښلول شي او یل کوم زیاتی اوستربل یا بل ژبنی توک ترې د مخه نشي په بله وینا (له ډیرو کلو څخه راهیسې) نه بلکې (له ډېرو کلو راهیسې) وویل شي (د ډیروکلو را په دېخوا) هم ماڼيز اندول دي خود پارسي (ازسالهابایندطرف) ټکي پرتکي اړونه د ه او د ومره رواني اولنډون هم نلري . د (له) پنځم اوستربل (پرته) دي چې د (سره) به او مقابل جاج ښندي د امانا چې د اړوند نوم ملګرتیا نه چې بیلتیا اونښتوالي څرګند وي لکه له بللیو پرته نابللي هم راغلي وو .

٥ـ بې ـ چې زیاتره د (نا) غوندي یوستاینومیز (صفتي) مختاړي دي لکـــه بې کوره . خولز وډیره سربلي ځانګړتیا هم لري او هغه هم زیاتره د (له) په ملګرتیا او د یوالحینی اوستربل (څخه ـ نه یا ځنې) په درلودلو ، لکه بې له تا څخه ـ بې له هغه څخه چــــې له تا او بې له هغه هم ویل کیږي مګر (بې تا) ویل کیږي او (بې هغه) نه .

ـــــــــــــــــــــــــــــ(بې) تل یو ځېلواك سربل نه دي .

٦ـ و ـ یو پخواني سربل دي چې له (ته) او ستربل سره ورتلون پیر (مفعول له حالت) څرګندوي چې پخواني څرك یې په لویدیزو (کندهاري) ګړ دود وکې پاتې دي اونورو تولو ګړ دودوله لا سه ورکړي او د هغه اوستربل (ته) یوستري کاروي لکه ؛ وتاته وایم ـ ونسوونځی ته ځم ...

د منځنی دوري شاعرانو هم ډېر کارولی اوله کله یې د دیم ځلی ترنوم وروسته هم راوړي او اوستربل (ته) سره بیا هم پتلیز (جرخت) نښلولی لکه رحمان بابا چې وایي : خدای ومه ته ښکاره کړ هغه لمریه [illegible] دي لکه : پیر محمد کاکړ چې ویلی دي : سوزګداز د محبت هسې وماړا [illegible] په هره تړګه د ویو نکو د ډېر ښت په لا سوند تر (و ــ ته)، (ــ ته) زیات معیاري ارزښت لري ۰

۷ــ د ــ که څه هم په تړلیز ډول یو تولوییکی دیخوله (غوندي) اړداسې نورو تشبیهې اوتونی وییکو سره د سربل په توګه هم راځي خوبیا هم د تولوالی ځانګړتیا ښیي لکه د علمي غوندي په رنګ ــ پرځیر ــ په ډول ــ په راز ــ په توګه ــ لپاره د کوردننه ــ د کورد باندي ۰۰۰۰۰ چې ترکوردننه ــ ترکور د باندي باید دانا ورکړي ۰ چاپیر ــ چارچاپیر باګرد چاپیر ــ تاوراتاو ــ کښته ــ پورته ــ پاسې ۰۰۰ هم د تر اوستربلونه دي ۰ پرپوړتیو وییکو سربیره ۰ ځینې نور راز راز وییکی هم شته چې په غونډه له کی بیلا بیلی پاڼي لري په دوي کی د ځینو پاڼي صرفي بلل کیږي او ځینو نحوي او ځینو د واړه ډوله ۰ صرفي لکه (به) چې د نا بشپړ اونا خبري (لکه ګوماني) اړواو ستر مهال کړ یږونک جوړوي یا (نه) اړ (مه) چې کړ نفي یانهې کوي ۰ یا (که) چې اړوییکی دي ۰ غونډه له پوښیزیا نحوي لکه (نه) و منفي ځواب په توګه ــ (هو) د مثبت ځواب په توګه. چک (ولی نه) هم ځواب په توګه ــ (سره) په صرفي ډول لکه سره تلل ــ په نحوي ډول یا په بله وینا د اوستربل په توګه لکه له ځلمی سره ولاړ ــ (بیا) د کړ ول او هم اړیکوییکی په توګه ــ (مګر) یا (خو) د اړیکوییکی په توګه ــ کورټ ــ بیخي ــ چوړ ــ هډو ــ سوچ ــ چوړلټ ــ ورټ ــ بیخپوره ــ لا ــ ان ــ هن ــ ایله ــ په مټې یا مټې ۰۰۰ د مرستیالوکړ لونو په توګه ــ و ــ یه ــ یا ــ آ ــ او ــ ای د بلن وییکو په توګه ــ (ایا) د پوښتوییکی په توګه ۰ باروییکی لکه اخ ــ ارخ ــ اوش ــ اوه ــ آه ۰۰۰۰ چې د ناڅاپي خوښی یاویري اوداسې نورو هیجانونو (پاریدنو) څرګندونه کوي چې تر اړو او مرستیالوتوکونو وروسته د غونډلی د توکونو د ریمه ډله جوړوي او پرخپل ځای ځیرل کیږي ۰

وینا وانښتی یا تکیه کلامونه لکه ما سکه – غوله یا غولی – مړه – یامړې – غوچی – چې دي ... کاکا گوري – ماما گوري ... هم لـږو ډیرپه یوستوو او ترښتی وییکوکی راځی . چی د یا ریلن وییکو یا پارو‌ییکو غوندې نومونی پازه نه پرځای‌کوي بلکې راز راز ننگیرنی (احساسات) څرگندوي .

۳ـ کـــــــراوونـــــــــه

۱ـ کړ څه راز گړ دي؟ څه او څنگه څرگندونه کوي ؟

۲ـ مصدر له کړ سره څه اړیکی لري اودغه نومونه (اصطلاح) د څه لپاره کارول کیده او کارول کیږي ؟

۳ـ دیوه کړ بنسټ او اساس څه څیز دي اوپه څه نامه یادیږي ؟

۴ـ یو اوړ ون موندلی کړ څومره توکونه اوچارونه درلوداي شي ؟

۵ـ مهال پرخو ډوله دي ؟

۶ـ کړ نوزي څه ته وایی اوپرخو ډوله دي ؟

۷ـ وگړي‌او گنهـه سره څه توپیر لري ؟

۸ـ چاروال ـ بیچار او منځوال کړ په یو یو ساري (مثال) راوبیژنی . !

۹ـ کړ نوم یا حاصل مصدر څه ته وایی او څو ډوله جوړیداي شي ؟

۱۰ـ توانی کړ څنگه جوړیږي ؟

۱۱ـ بشپړ (مطلق) او نابشپړ (غیر مطلق) کړ سره څه توپیرلري ؟

۱۲ـ لراولنډ کړ په یو یو ساري‌وښیاست !

۱۳ـ کوزاتیف یا لیزند چار کړ څه ته وایی ؟ له یوه ساري سره یې وښیاست !

۱۴ـ کړول څه ته وایی ؟

۱۵ــ د اورووسته غونډ ونه یا عبارتونه کوم کوم ډول کړولونه دي او په غونډ لو کښ څه پازي پرځاي کوي ؟

په سیر انه ــ په ځغرده ــ په ډاګه ــ ډانګ پیلی ــ هرو مرو ــ هیڅکله ــ ژر ــ ژرژر ــ ورو ــ په ورو ــ په زور ــ په خوښه ــ په ناخوښه ــ ورورو ــ دلته یا دلی ــ هلته یا هلی یاهله ــ دننه ــ دباندي ــ دلاندي ــ شاوخوا ــ گرد چاپیر ــ دپاسه ــ کښته ــ له کښته ــ پورته ــ له پورته ــ په لوي لاس ــ په غلا ــ په پټه ــ په ښکاره ــ په څرگنده ــ په غوړ اوږ یاپه غوړ مالی ــ په ټیټو سترگو ۰۰۰۰ نن ــ پرون ــ وورمه ورځ ــ سږ کال ــ پروسږ کال ــ کال ته ــ بل کال ته ــ پسرلی ته ــ دشپی ــ دورځی ــ غرمه ــ ماښگر ۰۰۰۰

٤ــ کړاوونه (تمرینونـــــــــــه)

۱ــ سریل څه ته وایی او ستریل څه مانا ؟

۲ــ پښتو ټول څو ستر بلونه او اوستر بلونه لري او هغه کوم دي ؟

د دي لاندي غونډ لو تشځایونه په سمو سربلونو او اوستربلونو ډك كړي !

۳ــ ۰۰۰ کابل کی دژمی ساړه وي ــ ۰۰۰ زړه به دي یوه وي ــ دریښه په شی بله ــ زه ۰۰۰ لیکانی سره لیکل کوم ــ زه ۰۰۰ انگلیس ۰۰۰ روس ښه غږ یداي شم ــ کوچیان داوړي ۰۰۰ کابل وي او دژمی ۰۰۰ ننگرهار ۰۰۰ اوس ــ زما په کالیو ۰۰۰۰ مه خانده ! ببیین ۰۰۰ تور اوښتل یابدلیدل ــ اوبه ۰۰۰ ډانګ بیلول ــ ۰۰۰ زده کړې پس ملا وتره ! په تا ۰۰۰ اړه نلري ــ زه کور ۰۰۰ پنځو بجوځم ــ ۰۰۰ غره باندي واوره اوري ــ ۰۰۰ ډیوي لاندي تیاره ده ــ ځلمی سریږه زمري هم راغی ــ ۰۰۰ ځلمی پرته نور ټول ولاړ ل ــ ۰۰۰ ټولگی دننه ــ ۰۰۰ ټولگی دباندي ــ سپوږمی ۰۰۰۰ منځ داسمان راغله ــ یاخوخوب نشته یا خوما ۰۰۰ نه راځینه ــ که غم ۰۰۰ غمه شرمیدلاي ــ ۰۰۰ مابه نه راتلاي ځولی ځولی غمونه ــ ۰۰۰ تور ټوپك ویشتلی راشی ــ

دبې ننګې اوازدې مه را ځه مېنــه ! د يار ۰۰۰ پاره د رمســـال جاروکومـــــه ۰۰۰

ګودر سور سالو بنــــــــکاره شـــو ـ اشنامې سر۰۰۰۰۰ وطن کېښود ـ ۰۰۰۰۰

تار دزلفو به کېن ورته ګنډ مه ـ که زما عمر ۰۰۰۰ ضرور وي تير به شينه ۰۰۰۰ لويو غرودخداي

نظردي ۰۰۰ لمن ۰۰۰۰ يې زېر ګلونه ـ که ولاړ شې ۰۰۰ بلخه د رسره د ه ځپله

برخه ـ ګلاب ۰۰۰ اصله شاهزاده دي ـ رامبيل چامبيل يې اردليان ورسره ځينه ـ ۰۰۰۰

ګودر څه کانه راوشوه ـ چې کشره خور يې ورسره ګودر ۰۰۰ ځينه ـ ما ۰۰۰۰ په سرو زرومنظور

دی ـ که دجانان ۰۰۰ لاسه تورې خاورې وينه ـ خپه پرې نه يم ۰۰۰ جانان سره به يمـه ـ

۰۰۰۰ خدارو سترګودي جارشم ـ چې ۰۰۰ ژړ اشې مرغلرې توبوينه ـ ۰۰۰ وچه ږ اګـــه

دلونګو بوي راځينه ـ زما ۰۰۰ تشه خند استه ـ مابه جانان ۰۰۰ لاس نيولى ګرځوونـــه

که شينکې خال مې دچړو ۰۰۰ څوکو ځينه ـ چې ۰۰۰ سنګره پورې زه د رسره ځمـــه

سپوږمې ۰۰۰ دي څه احسان دي ـ زما جانان ۰۰۰ ديواله سيورې ته ځينه ۰

دپښتو ګړونو (مور فيمزنو) د ډلبندۍ انځور ليـــــــــــــک



دریمه برخه

غونډ له پوهه (نحو SYNTAX)

لکه څنګه چې دغږ پوهې د وېښې یوون (د بحث واحد) غږ دی او د ګړ پوهې هغه ګړ دی. نو د غونډ له پوهې د وېښې یوون غونډ له (جمله) ده. په بله وینا غونډ له پوهه د غونډ لو — دغه راز دغونډ ونو (فقرو) او ګڼ ټو (ایډیمونو) جوړښت او ډولونه ترکیبي او وېښي لاندې نیسي.

غونډ له (جمله):

غونډ له د ګړ ونو او پېژنو یوډاسې او ږد لړ غونډ (کل) دی چې یو بشپړ جاج (مفهوم) او نرخه (مطلب) ترې پوهېدل کېږي. په بله پلوه داچې خبرې یا وینا په غونډ لو کېږي او د غونډ لو خبرې او وینا ته ترسره کېږي. نو ډاسې یې هم پېژندلای شو:

غونډ له دخبرې — وینا یا ګړ هغه بشپړه خپلواکه ناشوني رغاونه ده چې تر یو بلې ستره رغاونه نشته. په بله وینا غونډ له د خبرې او وینا تر ټولو لوی یوون (واحد) دی.

دغونډ لو جوړښت:

غونډ له لوړي پړاوو برخو یا غونډ ونو (فقرو یا ګروپونو) وېشل کېږي چې یوه ته نومواله (اسمي) او بل ته ګړ واله (فعلي) غونډ وایي. دپاڅي له مخې نومواله غونډ ته اینې (مسندالیه) او مبتدا — او ګړ واله غونډ ته اینوس (مسند) یاخبر هم ویل کېږي.

په اینې کې یا ګړنده له خپلواړ وند و سره راځي (که په چاروال ګړ اړه ولري) او یا ګړي له خپلو اړ وند و سره (که په بېچار ګړ اړه ولري). په اینوس کې ګړ او ګړي د واړه له خپلو اړ وند و سره راځي. په دې اړ چې ګړ چاروال لېږندوي که نه یوازې ګړ له خپلو اړ وند و سره راځي. د ګړنده او ګړي اړ وند ونه ستاینوم — شمیرنوم — تولنوم (مضاف الیه) — تولوییکس — پېژندوییکې او داسې نور ضروري وییکې کیداې شي اړ دګړ هغه ګړ ولونه (قیدونه). په دې

توګه‌تول لوي اووار ه یا خپلواك (ازاد) اوناخپلواك یا ناوریدونی ګروند اوتوکونه په یوه غونډله کی راغونډیدای شی اود هغوتوکونو په کتوالی اوزیاتوالی سره زړي یا لوي غونډلی منځ ته راځی ۰

دیوې غونډلی د شتوالی لزه کی اړ یا بنیادي توك ګردان شوي‌کړ دي ۰ که هرڅه مره ژبنی توکونه سره لږ ځ شی اوکړونه لري ۰ غونډ له جوړ والاي نشی اوه سرچپه ډول پخپله ګردان شوي‌کړ دیوي‌غونډ لی لزه کی اندازه ده لکه خوږم ـ څښم ـ ځم اوداسی‌نور ۰ ځینی ناد وده یا غیرعادي غونډ لی چی کړ ین غوړ ئی اوبیا هم غونډ لی بلل کیږي هغه بلن غونډ لی یا ندائیه غونډ لی دي لکه : یه پښتیانا ! یه ځلمیه ! دغه راز ـ هو ـ نه ـ ښه ـ ښه ـ ښنګه ـ ولی اوداسی نور ... نتنو مخري هم نیمګړي یا انډ ي کړ شوي‌غونډ لی دي هغه هم دخبرو اترو اودیالوګ په ډ رل لکه چی یوووایی : ته ناروغ یی ـ بل داسی‌ځواب وایی : هو ـ نه ـ ولی ـ څنګه اوداسی نور ۰

اوس دیوي پوره ساده غونډ لی څو بیلګی وړ اندي کوو :

۱ـ	ځلمی ایښی	راغی ایښوئی
۲ـ	د ځلمی وروړ ایښی	راغی ایښوئی
۳ـ	د ځلمی مشرورور ایښی	نن کابل ته راغی ایښوئی
٤ـ	د ځلمی یووروړ ایښی	نن له کندهار څخه کابل ته راغی ایښوئی
٥ـ	ځلمی ایښی	لیك کاږي ایښوئی
٦ـ	یوهلك	یو لیك کاږي
۷ـ	یولیك ایښی	کښل کیږي ایښوئی

په لومړي غونډ له کې هم اینبس (مسند الیه) له یوه ساده کړند څخه جوړ وي او هم اینبونی له یوه ساده کړ څخه . په دویمه غونډ له کې اینبس له داسې کړند (وررو ر) څخه جوړ دي چې (محلمی) ورسره د تولنوم (مضاف الیه) او (د) ورسره د تولو ییکی په توګه اړوند (متعلق) بلل کیږي خو اینبونی لا همالسی یو یو ستوي کړ (راغی) دي . د دریمی غونډ لی د اینبس کړند (وررور) یو ستاینوم (مشر) ــ یو تولنوم (محلمی) او یو تولوییکی (د) د خپلواړوندونو په توګه له ځان سره ملګري کړي او په اینبونی کې کړ (راغی) له ځان سره یو مهالسی کړ ول (نن) او یو تونی کړ ول یا په بله ژبه مفعول له (کابل ته) د خپلو اړوندونو په توګه ملګري کړي دي .

د څلورمې غونډ لی په اینبس کې کړند (وررور) له ځان سره یو پیژند (یو) د (حرف تعریف) ــ محلمی د تولنوم او (د) د تولو ییکی په توګه ملګري کړي او په اینبونی کې یې کړ (راغی) یو مهالی کړ ول (نن) او د وه تونی کړ ولونه (له کندهار څخه) او (کابل ته) په خپلی اړوندی کې لري . د لومړي تونی کړ ول په د رو تو کونو کې (کندهار) د سربل او اوستربل (له ــ څخه) په ملتیا وتونپیر (مفعول منه حالت) موندلی دي او په دویم تونی کړ ول کې (کابل) د اوستربل (ته) په ملتیا ورتلونپیر (مفعول له حالت) .

سر له پنځمې څخه د پورتنیو څلورو غونډ لو پرخلاف د نالیزند (لازمی) کړ ځای لیزند (متعدي) کړ نیسي او په دې توګه یې کړي (مفعول) ته هم اړتیا پیداشویده . د پنځمې په اینبس کې کړند (محلمی) بیوبیتوي راغلی او په اینبونی کې یې کړ (کاري) له کړي (مفعول) سره ملګري شوی او په شپږمه کې اینبس د تولنوم (عام اسم) په توګه له هلك سره د پیژندنی او تپاکس لپاره ورسره پیژند (یو) هم ملګري کړي دي او همداراز د اینبونی له کړي (لیک) سره هم یو پیژند . د لومړي پیژند پرځای بل نوول پیژند (څوك یا کوم) او د دویم پیژند پرځای بــل پیژند (کوم) هم راتلای شی په بله وینا (یوهلك یو لیك کاږي) (څوك یا کوم هلك کوم لیك کاږي) سره څومره پیږ او څرنګیز (کمی او کیفی) توپیر نلري .

اوومه غونډ له بیا دینځمی او شپږمی غونډ لی غونډې چارواڵ لیږندکړنه بلکې بیچار لیږندکړ لري په دې توګه ین کړي (لیک) له خپل پیژند (یو) سره ایښی جوړ وي او (کښل کیږي) دیوه ترښتی کړ په توګه ایښونی ۰ دغه راز کړي (لیک) چې دکړندخای نیسی او کړ وزیوري اړه (اسناد) پیداکوي ۰ نوره دودیزه نومونه ین (نائب فاعل) بولی ۰ دادي دپوره څرګند تیاپاره دخو بیلګو غونډ لو انځور لیک (ګراف) وړاندي کوو :

۱ـ نالیږنده غونډله :



۲ـ چارواله لیږنده غونډ له :



۳ـ بیچاره لیزند، غونډ لـــه :



دغونډ لی رغنده توکونــــه :

پاس‌مو پردوو برخو (اینبی او اینبونن ؟) دغونډ لی ویشنه وکړه دلته غواړو په تولیزډول یې تول رغنده توکونه (گړونه) ترکتنی لاندي ونیسو او ډهغو دخومره والی لمخی دغونډلي چولیز (شکلی) ډولونه ونوموو. دغه توکونه یول ازاد یا خپلواك گړونه اولـه ناخپلواکو یا تړلیو گړونو څخه یوائی وییکی را اخلی . البته تاړي دازادوگړونو دنه جلا کیدونکو توکونو (اجزاوو) په توگه دغونډ لی سیده توکونه (عناصر) نه بلل کیږي په دې توگـه یې که ازاد توکونه او ړون موندلی ــ بیلینـــتی (اشتقاقی) او تړښتی (ترکیبی) هم وي دغونډ له پوهی (نحوي) له پلوه بیاهم دشننی وړ نه دي بلکی هر یو دغونډ لی یو یواځینی تـــــوك (جزء) یا توك (عنصر) او یا یوون (واحد) گنــل کیږي لکه : خورم ــ خورو ــ خوړلـــی ــ خوړونکی ــ خوړل ــ ورکوم ــ ورکوو ــ ورکړي ــ ورکوونکی ــ ورکول ... زمري‌کیدل ــ کـــول ــ لاسته راوړل او داسی نور . دساري په ډول (زه خپلو شاگردانو ته په درنه سترگه گورم).

غونډ له په نحوي ډول اته توکیزه بلل کیږي چې څلورېې (زه – ته – په – سترګه) ساده توکونه (ګړونه یا وییونه) دي او څلورېې (خپلو – شاګردانو – درنه – ګورم) داوړونې (تصریفي) تاړوپه درلودلو سره اوړونې توکونه (ګړونه یا وییونه) دي. یا (څلمې یو کتاب ترلاسه کړي دي) په غونډ له پوهیږ ډول یوه پنځه توکیزه غونډ له ده چې یې (څلمې – یو – کتاب – دي) ساده توکونه (ګړونه یا وییونه) دي او (ترلاسه کړي) یو ترښتې توک یا ګړاو یا ویې. ځکه له ښنې سره یې اوسنی یواځینی مانا له منځه تللې او ترښتې چاج له لاسه ورکوي.

دغونډ لې توکونه په لاندې ډول ډلبندي کیږي:

۱– ار یا خپلواك توکونه چې تول ازاد ګړونه را اخلي. نومونه (څیزنیومونه – ستاینومونه – شمېرنومونه – نومځري) – ګړونه (ار – مرستیال یا ساده – بیلښتي – خواپرخوا – ترښتې) او کړولونه (ار او نا ار) دي.

۲– مرستیال توکونه. چې په دوي کې ناوړېدونې ګړونه (وییکي) راځي لکه اریکوییکي – تروییکي – سرلونه – او سترېلونه او داسې نور.

۳– په دریمه ډله کې انګیوییکي – پارویکي – بلن وییکي او داسې نور راځي.

لومړي ډله (ارتوکونه یا خپلواك توکونه) دموضوع څرنګوالي – خومره والي – چاروالي (فعالیت) او داسې نور جاجونه (مفهومونه) نوموي او یا ورته نغوته کوي یا په بله وینا هم وییزه (لغوي) مانا ښندي هم پښوییزه دغه ډله ار و کړولونه پرته تول او ړیدونې ګړونه را اخلي.

دویمه ډله (مرستیال توکونه دنومونې او نغوتې پازه نه بلکې یواځې پښوییزه مانا او چارلري. مرستیال ورته په دي وایې چې دغونډ لې دارو توکونو – غونډ ونو او غونډ لو ترمنځ اړیکې ټینګوي.

په دریمه ډله (پارویکي – بلن وییکي ...) دنومونې پازه نلري او دبیلا بیلو ځانګړو ننګیرنو څرګندونه کوي پارویکي لکه دخونې (واخ – وخ – اوخ ...) یا

دځپګان اندېښنې ارادې (واي ــ ری ــ اه ــ اوه ــ ینننن ــ وش ــ الا یاهله ــ آه ۰ ۰ ۰)

اودا سې نورې هیجاني چغې سورې او آوازونه ۰ بلن رپېکي لکه د ښاروېو ــ ځناورو او مرغانو

غږونه او هغوی یارتې ــ اوشرني لپاره لکه اوښه ! اته ! کښې ! ټښه ! ... ځ !

کیچ کیچ ! کوري ! ورکیش ! پیش پیش ــ خخخخه ... خې ! ځنګګک ! کورکور ! (خروته) ...

نخه ... دګر انګېرې پیکي بیا د نوموني پاره تر سره کړي لکه بغ ــ بم ــ بوبرغو ... ګر

او دا سې نور بې مانا اوازونه چې د طبیعي پېښو په بنه له خولې راوځي ۰ په دوي کې ځینو

داوړونیمو ترکیبونو (څیز نوموني) ارزښت هم پیدا کړی وي لکه د رزرغړیږي (دغورځېدو اوازونه) ــ

... ــ ... ــ ... ۰ ۰ ۰ ۰ (دوهمې اوازونه) او دا سې نور (د څیز نوم د ولونو ــ

دوي هم وګڼل شي)

اوه ون (ترتیب)

اوه ون د امانا چې په یوه غونډ له کې بېلا بېل یادښوي وغند ۰ توکونه سره څنګه

اوړه ا (ترتیب) دومي ۰ ... دو وويل چې په لومړي د وه برخېز ... د یږي غونډلې نږوال

غونډې (اینبس یا نپیل او ...) دغه ارکړ وال غونډه (اینبوس یا پای او یا خبر) وروستــــه

راځي ... په ... هر یوه غونډ ... کې د بېلا بېلو توکونو ... اوازه نه د هري ژبې یوه بېلوونکــــي

ځانګړ تیا بلل کېږي ۰ ... چې په څو تیرو بېلګه غونډ لرنې څه ناڅه ولیدل چې په لومړي

برخه (اینبس) کې که یونالیز ندیا چاروال لیزند. کړ والا غونډه له ري ۰ کړند (فاعل) ځانته یا

له خپلو اړ وند و توکونو سره راځي او که یو بېیجار کړ والا غونډه له ري ۰ کړي ځانته یا له خپلو

اړ وند و توکونو سره راځي او په اینبوس کې کړ که نالیزند او یا بېیجار لیزند وي اړ وند اړ وند وند

... وليږه ــ پیوند ونه ــ تړاني مونه ــ ... اواز راډې کې . په ... کې کړ نده تر تړاننو

اړ ونډ ... راځي . به ... کړ ند ... کړند ... ... ستاینوم یا ...

او یا ... ترمخه ... راځي ... په ... بېلګو کې ...

۱ــ یو سړی ــ راغی یا : یوه سړي ــ ډوډۍ وخوړه ·

۲ــ یوغټ سړی ــ راغی یا : یوه غټ سړي ــ ډوډۍ وخوړه ·

۳ــ دغلمی مشرورور ــ ولاړ یا : دغلمی مشرورور ــ وینا وکړه ·

٤ــ دغلمی دوه ورونه ــ ولاړل یا : دغلمی دوو ورونو ــ وینا وي وکړي

٥ــ دغلمی دوه مشران ورونه ــ ولاړل یا : دغلمی دوومشرانو ورونو ــ وینا وي وکړي ·

٦ــ زما یو کشرورور ــ کورته ولاړ یا : زما یوه کشرورور ــ واده وکړ ·

په اینبونی کی کړ (آریا مرستیال) ترنورو توکونو وروسته راځی که دغه کړ له دوغبرگو (آر او ناآر) کړ څخه جوړ وي نو آر ترمخه او نا آر (مرستیال) وروستی بیخی پای ته راځی · ترکړ (اریا مرستیال) دمخه کړي (که کړ چاروال لیزندوي) او کړي بیا لهخپلو اړوندونو وروسته ځای نیسی · کړول (که چیريوي) زیاتره ترکړي دمخه راځی خو که دوه کړولونه په یوه اینبونی کی راغلی وي او یو مهالی اوبل تونی یا بل ډول وي نوزیاتره مهالی له تونی یا بل کړول اوکړي څخه مخکی کیږي · تونی یا بل کړول بیا کیداي شی ترکړي وروسته ځای ونیسی لکه په دي لاندي غونډ لو کی :

۱ــ زمري ــ نن ازمونه ورکړه ·

۲ــ زمري ــ (نن) (په بریالیتوب سره) ازمونه ورکړه ·

۳ــ زمري ــ (نن) (له خپل ورور سره) (له کندهاره) (کابل ته) راغی ·

په پاسنیو غونډ لو کی (نن) مهالی کړول دي (په بریالیتوب سره) او (له خپل ورور سره) څرگندنی او (له کندهاره) او (کابل ته) تونی کړولونه دي · همداراز (ازمونه) او (خپله ازمونه) کړي (مفعولــــونه) بلل کیږي ·

دغونډ لی بشپړ اند توکونه :

سریزه

یوه غونډ له پریورتیو نومول شویو توکونو ځینی بشپړ اند (متمم) توکونه هم لري لکه اخج ــ اهنگ ــ بیلتون اوپیوستون اودغونډ لو د پای غاړه (لحن) · دغزپوهی له مخــــ

دغه ځانګړ تیاوي(خصوصیات) دویمنی اوازونه(فونیمونه) بلل کیږي چې دلومړیو یا ارواوازونو (لکه ا ــ ب ــ پ ــ ت ــ ټ ۰۰۰ ي) غوندې دګړ هار په بهیر کې دپرله پسیوالی یاتسلسل (لینیال)لونه نلري او دغونډ له پوهې له مخې هماغسې مانیز او چاریز (تعاملي یافنکشنال) نقش او اغیز لري لکه ارتو کونه (ګړ ونه) ځکه دغونډ لو مانیز اوپښوییز ډولونه سره توپیروي ۰ نوله دي کبله خج ــ اهنګ ــ بیلتون او پیوستون اودغونډ لو دپای غاړ ه (لحن) دغونډ لی بشپړ اند توکونه بلل کیږي ۰

ا ــ اهنــــــګ :

دغونډ لو اهنګ څلور ډوله دي : خبري اهنګ ــ پوښتنې اهنګ ــ هیښنې اوبلنې (تعجبی اوندایی) اهنګ او امري اهنګ ۰ په بله وینا خبري ــ پوښتنې ــ هیښنې اوبلنې اوامري غونډ لی سره دځپلو ځانګړ و اهنګنــو په مرسته توپیریږي ۰(۱)

ا ــ دخبري غونډ لی اهنګ اوار پیل کیږي اوبیا غورځیدلی پروت پای ته رسي لکــه : زمري ــ راغی ۰

۲ــ دپوښتنې غونډ لی اهنګ ټیټ پیل مومي او بیا نیغ شوي پروت پای ته رسي

لکـــه : زمري ــ راغی ؟

که په سرکې یې پوښتنو مخري یا پوښتوییکې راشي بیانو اهنګ په سرکې لوړیږي ۰

۳ــ دهیښنې ــ بلنې ــ ګومانې اوداسې نورو غونډ لو اهنګ کابو یوراز راځــــي اوهغه داچې ټیټ پیلیږي بیا پورته ځي اوپه پای کې ریب پای ته رسیږي لکه :

زمري ــ راغــــی !

۲ــ خـــــج :

لکه څنګه چې په غږ پوهه کې ورته نغوته وشوه ۰ غونډ له یې خج هماغه پیاوړي خج دي چې دنورو توکونو په ترڅ کې یې پریوه راشي اوهماغه خجن توک تر نورو توکونو زیات موخن

ا ــ دلته له پوهاند الهام څخه الهام اخیستل شوي (روش جدید درتحقیق دستور زبان دري ۱٤۲ ــ ۱٤٤ مخونه ــ همداراز دزبار دژپوهنې بنسټونه هم دپاملرنې وړ دي ۰

(مطلوب) نښیی • نور ټوکونه یا هیڅ خج نلري اویا د هماغه یوه پیاوړي خج تراغیز لاندي کمزوري ویل کیږي • په دي ډول د ري رازه غونډه لهٔ پیز خجونه سره توپیرو و • پیاوړي – لز پیاوړي او کمزوري لکه د اولمیر په دي سندره کی (ستاد سترگو بلا واخلم بیا دي سترگی ولی سري دي) پر (ولی) پیاوړي – پر (واخلم) لز پیاوړي او پر (سترگو) کمزوري خج اوریدل کیږي •

۳ـ بیلتون او پیوستــــون :

بیلتون او پیوستون د امانا چی د غونډه و یا غونډه لو د پای ویونه سره پیوست اوبی لارغه (بی‌مکثه) وویل شی او یا سره ناپیوست په لارغه (مکث) • په دي توگه که کله د هماغو یوراز غونډه و یا غونډه لو ترمنځ بیلتون پرپیوستون بدل شی او یا سرچپه • نو هغه جاج او مانا یی سره نه توپیریږي چی د ویونکی موخه او مطلب وي • داچی دغه بیلتو ن او پیوستون یوا ځی د نحوي یوونو (واحدونو) ترمنځ نه بلکی دغږ پوهیزو هغو ترمنځ هم نقش او اغیز لري نود خج آهنگ او غاړي (لحن) غونډي بیلتون او پیوستون له اره د ویمی اوازونه (فونیمونه) دي • بیلتون او پیوستون د لیکونکی په دي کرښ (بیت) کی ښه تراجوتیږي : کړي که بخشش د وصل را زیاره – زړه سوزول پرما ملنگ ښــــــــه د ي •

دلته که (ز) له مخنی وبیی یا په بله وینا له مخنی اواز (الف) سره پیوست وویل شـی مانا یی دا نن زاځی چی (یه یاره !) که ماته (د وصل راز) را بخشش کړي او که نه (ز) له (یاره) سره پتلیزه وویل شی یا په بله ژبه د (الف) او (ز) ترمنځ بیلتون او – لارغه راوړل شی بیا د امانا ښندي چی (یه زیاره) که ماته (د وصل بخشش) راکړي په د ي توگه که د مخنی مانا موخه وي • په کار دي د (راز) او (یاره) وییونو یا په بله وینا د (ز) او (ي) ترمنځ په وینگ (تلفظ) کی لارغه او بیلتون او له بله پلوه د (الف) او (ز) ترمنځ پیوستون راشــی • او که وروستی مانا موخه وي نو په کار دي د (را) او (زیاره) یا په بله وینا د (الف) او (ز) ترمنځ لارغه او بیلتون او له بله پلوه د (ز) او (ي) ترمنځ پیوستون راشی •

اوکه وروستی مانا موخه وینو په کار دي د (را) او (زباره) یا په بله وینا د (الف) او (ز) ترمنځ لاړغه او بیلتو او له بله پلوه د (ز) او (ي) ترمنځ پیوستون راشي . په دي ډول ترموري نیم بیتي یا غونډۍ له دوه رازه کاږو :

دلومړي مانا له مخې : کړي که بخشش دوصل راز ـــ یاره !

ددویمې مانا له مخې : کړي که بخشش دوصل را ـ زباره !

همدا رنګه دراډیو افغانستان دخبرلو ځانګړي څپایه بیلتون او پیوستون په دې وروسته غونډلو کې څومره مانیز بدلون پیښوي : دجنوبي افریقا صدر اعظم جان ـ فورسترووبل ـ دنیپال پاچا دیوانن ـ خپل هیواد ته ستون شو . په دې توګه (جان) دصدراعظم توک ګرځي نه دفورستر او (نن) د (دیوا) توک ګرځي نه پر ځبلاوي (کړول) .لیکښي د نورو غونډي د همدا راز دوینیو تړکونو (څپ ـ اهنګ ـ لحن بیلتون او پیوستن ....) سمبولونه بلل ګیږي .

دایني او اینیونې سمون :

دایني او اینیونې ترمنځ هماغه سمون مطلب دې چې دګنې ـ نوزي او وګړي له مخې دکړند یا کړي او کړ ترمنځ راځي . دګنې له پلوه سمون داچې که کړند یو ګړي وي نو کړ ورسره یو ګړي راځي او که کړند ډېر ګړي یا ډېر ګړي راټول (لکه جنس) وي . کړ ورسره ډېرګړي راځي دنوزي له پلوه داچې که کړند ښځینه وي کړ ورسره ښځینه کارول کیږي او که کړند نرینه وي کړ ورسره نرینه کارول کیږي او د وګړي له مخې سمون داچې کړ باید له هر یوه وګړي (لومړي ـ دویم ـ دریم) سره سم وکارول شي ته داسې چې دلومړي وګړي کړ د دویم وګړي لپاره په کار واچول شي او داسې نور . لکه په ګړ پوهه کې موچې ولیدل دغه دود (قاعده) بیدودي (استثناء) لري لکه په چاروال لیږند تیرمهال کې چې کړ دکړند نه بلکې دکړي (مفعول) اړوند (تابع) دي په بله ژبه دګنې ـ نوزي او وګړي له مخې کړ له کړي سره سمون خوري نه له کړند سره . همدا راز دغه سمون په اوس مهال کې یوازې دګنې او وګړي له پلوه څه ناڅه ړښتینوالي لري مګر دنوزي له پلوه هیڅ نه . په دې وروسته غونډو لو کې د ایني او اینیونې ترمنځ سمون له ټولو استثناګانو سره لیدای شو :

۱ـ نالیزند تیرمهال :

۱) زه ــــ راغلم

۲) ته ــــ راغلی

۳) دي ــــ راغی

۳) دا ــــ راغله

٤) موز ــــ راغلو

٥) تاسی ــــ راغلاست

٦) دوي ــــ راغلل

٦) دوي ــــ راغلي

۲ـ لیزند تیرمهال (چاروال) :

۱) ما ــــ ختکی وخوړ

ما ــــ ختکي وخوړل

ما ــــ هندوانه وخوړه

ما ــــ هندوانی وخوړي

۲) تا ــــ ختکی وخوړ

تا ــــ ختکي وخوړل

تا ــــ هندوانه وخوړه

تا ــــ هندوانی وخوړي

او همداسی د دریم وګړي لپاره ٠

۳ـ لیزنــد تیرمهال (بیچار) :

۱) زه ــــ وخوړل شوم

۲) ته ــــ وخوړل شوې

٠٠٠٠٠ همداسی ترپایه ٠

٤ـ نالیزند اوسهـال :

۱) زه —— ځم

۲) ته —— ځې

۳) دي ـــ —— راځي

۰۰۰۰۰۰ همداس ترپایه ۰

٥ـ لیزنداوسهال (چاروال) :

۱) زه —— ډوډۍ خورم

۲) ته —— ډوډۍ خورې

۳) دي ـ دا —— ډوډۍ خوري

۰۰۰۰۰۰ همداس ترپایه ۰

٦ـ لیزنداوسهال (بیچار) :

۱) زه —— خوړل کیــــږم

۲) ته —— خوړل کیږې

۳) دي ـ دا —— خوړل کیږي

۰۰۰۰۰۰ همداس ترپایه ۰

نوموالـه اوکړ واله غونډ لـــــه :

که دیوي غونډ لی په اینبونی کی دآریا مرستیالکړ (لکه خوړل ـ کیدل ـ شول) پرځاي یوازې (دي) آریا ددغه مرستیالکړ نوري بڼی اوډولونه راشي ۰ هغه غونډ لـــه (نوموالـه) غونډ له پلل کیږي که نه کړ واله غونډ له لکه زرین ـ روغ دي یا و ـ یا : هلکا ن ـ ناروغه دي یاو ۰ زرینــــه ـ ناروغه ده یاوه یا : نجونی ـ ناروغی دي یاوې ۰

دغونډ لی مانیز ډولونـــه :

غونډ لــی دکړ دودله مخی په خبري یا بیانیی اوناخبري یا انشایی او یا التزامی غونډ لو ویشل کیږي .

۱ـ خبـــــري :

۱ـ ببرك ـــــ ولاړ

۲ـ ببرك ـــــ تللی دی

۳ـ ببرك ـــــ تللی و

٤ـ ببرك ـــــ تـــه

۵ـ ببرك ـــــ ځــی

٦ـ ببرك ـــــ به ولاړ شـــی

.... او داســـی نور .

۲ـ ناخبـــــــري :

۱ـ ببرك ـــــ ولاړ ؟ (پوښتنی)

۲ـ ببرك ـــــ ولاړ ! (هیښنــی)

۳ـ ببرك ـــــ به تللی وي ! (گومانی)

٤ـ (کاشکی) ببرك ـــــ به تللی وای ! (ارمانی)

۵ـ ببرك ـــــ د ي تللی وای ! (ټینگاري)

٦ـ (که) ببرك ـــــ تللی وي (اړوتی)

۷ـ ببرکـه ـــــ ځـه ! (امري)

۸ـ ببرك ـــــ به ولاړ شی (گمانی او ټینگاري)

...... او داسی نور .

دغونډ لی‌جولیز ډولونه :

دجولی او شومره والی له مخی غونډ له یو ستوي‌وي یاغبرګه ـ یاګډه اویاګډ لی ٠

۱ـ یوستوي‌غونډ له هغه رازغونډ له د ه چی له دووغونډ ونو (اینس او اینونی)

شخه جوړه وي لکه :

څلمی ــــ یپوه کوي

یوغښتلی سړي ــــ په څفاسته راغی

دکندهار انار ــــ خوازه دي

بوره ــــ نشتــه

٠٠٠ اوداسی نوري ٠ یوستوي غونډ له دنورو درو ډولو پښت بلل کېږي ٠

۱) ایه‌یو ستوي‌غونډ له‌چی یی اینس له‌یوه (کړند) یا کړي او اینونی له یوه (کړ) ـ او ډلیز ند په ترڅ کی ـ له یوه (کړ) څخه جوړوي اودودله مخی ددغو درو واړو توکو(کړ ـ کړند ـ کړ) اړوندونه له دوو توکسو څخه تیري ونکړي لکه :

زمرک ــــ څــښ

زرک ــــ اویه څښــی ٠

یوه نجلی ــــ یو لیکی لولی ٠

یوه ښکلی نجلی ــــ یــوپنډ لیکی لولی

زما یو ملګري ــــ هیڅکله خپل کورنی کار نه هیروي

۲) ارته یو ستوي‌غونډ له چی په اینس یا اینونی یا دواړو کی دکړ ـ کړند یاکړي یا دروواړ و اړوندونه له دوودوو تړ کونو څخه تیري وکړي اویه دي توګه پکـــــی زیات ارتوالی راشی لکه : دعراق دعربی جمهوریت رئیس‌حسن البکر ــــ په بله میاشت د افغانستان دجمهوري دولت پایتخت مرکز کابل ته راشی ٠

یا : دافغانستان دجمهوري دولت یوه کلتوري ډله ـ دشوروي اتحاد دپوهنو داکادمی په بلنه هغه هیوادته سفرکوي ٠٠٠ اوداسی نور٠

۲ـ غبرگغونډ لـــــه :

غبرگغونډ له هغه ده چې دیوه اینې او یوه اینوتې پرځای دوه دوه اینې او اینونې ولري یا په بله وینا که دیوې پوهونې او مطلب دبشپړتیا د دوو اړوند و مطلبو دڅرگندونې لپاره سره دوې غونډ لې په کوم اړیکوییکې یا لارغه (مکث) غبرگې اوملگري شې یوه غبرگغونډ له منځ ته راوړي • داړیکوییکو دډولونو له مخې سره ډول ډول غبرگغونډ لې توپیرولای شو دغبرگغونډ لې په دواړ و بیلا بیلو غونډ لوکې یوه اره یا خپلواکه اوبله څرمه (فرعي) یـا بیواکه غونډ له بلل کیږي • اره یا خپلواکه په دې مانا چې ار مطلب او موخه پکې څرگندیږي اوځانته په خپلو پښو ریداي شي • څرمـه یا بیواکه په دې مانا چې ار مطلب اوموخه پکې نه څرگندیږي اوځانته پخپلو پښو دریداي نشي په دې توگه په یوه غبرگغونډ له کې بیواکه یا څرمه له خپلواکې یا اري سره دیوه مطلب په څرگندونه کې مرستیاله او بشپړوونکې اوسي • داړیکویکو له مخې د غبرگغونډ لې ډولونه په لاندې توگه ښوول کیږي :

۱ـ تړ غبرگغونډ له : چې دواړه یوستوي غونډ لې پکې په یوه تړوییکې (او) یا لارغې سره یو ځاي شوي وي لکه :

زما زوي اووه کلن (دي) او لورمې شپږ کلنه ده •

یا : زما زوي لس کلن دي او ستا لور دولس کلنه (ده) •

۲ـ اړوتي غبرگغونډ له : چې یې یوه (زیاتره لومړۍ) یوستوي غونډ له بیواکـه او بله (زیاتره دویمه) خپلواکه وي • په دې تـوگه دلته بیواکه غونډ له آر (شرط) بلل کیږي او خپلواکه اړوتي ، لکه :

که ته راشې ــ زه به راشم •

که وریځ سپینه شي ــ باران کیږي •

که شمال نه وي ــ ونه نه ښــوري •

دکه په وړاندې داړوتی غونډ لی په سرکی د (نو) اړیکوییکی هم راتلای شی لکه : که شمال نه وي ــ نو ونه نه ښوري .

۳ــ توسنی (علتی)غبرگغونډ له : چی یی دواړه یوستوي غونډ لی سره په یوه یاغبرگو توسنو ییکو(ځکه ــ ځکه چی ــ چی ــ داچی ــ په دي چی ــ نو ۰۰۰) غبرگی شوي وي . په دي ډول خپلواکه توسنی (معلوله) اوبیواکه توسن (علت)غونډ له نومیداي شی لکــه :

زه راغلم ــ ځکه تابللی وم یا : زه راغلم ــ پــه دي چی تابللی وم .

تابللی وم ــ ځکه راغلم یا : تابللی وم ــ نو ځکه راغلم .

ځکه راغلم ــ چی تابللی وم یا :ځکه راغلم ــ په دي چی تابللی وم .

داچی تاویلی ووــ نوراغلم یا : ځنگه چی تاویلی وو ــ نو ځکه راغلم ۰۰۰

٤ــ ځرگندنی (بیانــی)غبرگغونډ له : چی دویمه مله غونډ له دلومړۍ هغــی دزیاتی ځرگند تیا لپاره وي اوڅیوي پوښتنی ځواب وایی : د دغــی ځرگند تیا دځرنگوالی له مخی دالاندې کوچنی ډولونه دیاد ولو دي :

۱) موخنه یامراسی ځرگندنی غبرگغونډ له : چی په خپلواکه غونډ له کی د راغلی مطلب یا پیښــی موخه په بله ځرمه غونډ له کي ځرگند ه شی لکه :

سنډك ایران ته ولاړ ــ چی ځانته کار مزدوري پیداکړي .

زه راغلم چی تاووینم ۰۰۰۰۰

۲) مهالی ځرگندنی غبرگغونډ له : چی لومړۍ (بیواکه)غونډ له د دویمی (خپلواکی) غونډ لی ځرگندکړي چار اوپیښی مهال اووخت تاکی لکه :

چی ته راغلی ــ زه به ولاړ شم یا : چی ته راغلی ــ نو زه به ولاړ شم

کله چی ته راغلی ــ زه به ولاړ شم یا :کله چی ته راغلی ــ نو زه به ولاړ شم

سم چی ماووبرانیست ــ پرهغی می سترگی ولگیدي .

زه به هله درشم ــ چی ته می وغواړي .

یا : زه به هله د رشم — هرکله چې تا وغوښتم
هومره به دي مړ نکړم — څو دي رنګ دمړي نکړم
هله به خبرشې — چې تاروجبې له ورشې !
هله به دي په یادشي — چې دي یوډېوال ته مخ بل ته دي شاشي !

٣) تونی څرګندنی غبرګغونډوله : چې څرمه غونډه له یې داري لپاره تون(ځای) وټاکي لکه : چیري دې بنه نه هلته دي شپه !
چې‌نه کار — هلته څه کاریـا : چې دي نه کار — هلته څه کار !
چې له کومې راغلې يې — هـ پرهماغه ځه !
چیري چې اوسې — په خوي به د هغوي اوسې یا : چیري چې اوسې — په خوي به دهغـوي اوسې !
یاد پردې یو ژبو په بې ځایه پیښو لکه :
د هند جمهوررئیس‌شوروي ته ولاړ — (چیري) چې له‌شوروي مشرانو سره‌خبري‌کوي
دلته (چیري) یو زیاتی توک دي • البته له (چې) سره (کوي) نه بلکې (وکړي) راځی •
(تون) دزیاتی څرګندتیا لپاره له (چې) سره (هلته) هم بلګري کیداي شي لکه :
د هند جمهور رئیس شوروي ته ولاړ چې هلته‌له شوروي‌مشرانو سره‌خبري‌کوي •

٤) وګړیزه څرګندنی غبرګغونډه له : چې په دواړو ملوغونډو لوکی راغلی کړندیاکړي یو (وګړي) وي لکه :
څوك چې خوبکړي — نړ کتی به زیږوي •
یا : د‌نورو ژبو په پیښو په نا سم ډول :
ځی هغو خوارو ته جنت وګټو — (څوك) چې له موره دوزخیان پیدا دي
دلته دا‌پایله اخیستلای شو چې (څوك) د (چیري) — (کوم) — (څه) — (کله) اوداسی‌نورو څرګندنی اړیکو ییکړغونډي یواځی دهماغی څرمه‌غونډه لی په سرکی له (چې) سره راتلای شي چې تر اري دمخه وي دغه توپیر په تیرو دواړو ساریو(مثالو) کی ښه ترا لیدای شو •

۵) څیزواله څرګندنې غبرګغونډه‌له : چې په دواړو ملوغونډه لوکي راغلې کړندونه یا کړي یو(څیز) وي لکه :

څه چې کړي — هغه به ړیبي

څه چې وي — هغه به وي

۶) کړولې (قیدي) څرګندنې غبرګغونډه له :چې د دواړو غونډه لواړیکو ییکـ‌‌ـ‌ـ کړو لونه وي لکه :

اسري څـه — ژوژاجـــــــــه

یاد دي لنډه‌ې دویمه برخه : پراویو غرو دخدای‌نظر دي — پرسرېي واوري— پرلمن یې زیرګلونه

۷) پرتلیزه څرګندنې غبرګغونډه‌له : چې د دواړو ملوغونډه لو اینښ سره داړیکو ییکو په وسیله اندول — پرتله یا همځېر شوي وي لکه :

څنګه دیګ — هسې تیپـ‌ـریا : هسې یې تیپــــر (کړپرینبوول شوي)

څنګه غر — هسې یې کریوړي (کړ پرینبوول شوي)

یوړې ګنې — سل یې څټې

سل دې ومره — یوندي مه مره

یا : سل دي ومره — د سلو سر دي مه مره

سل پښګان سرخې — دیوي شمې ژړا سره

۸) اړپیچـ‌ـه (متضاده) څرګندنې غبرګغونډه‌له : چې داري اوخرې څرګدونې یا اینښ سره اړ پیچ یابه والې (تضاد یا تقابل)ولري لکه :

که څه هم بازیار ایستلی نه و — (خو) بیاهم بریالی شوم

سره له دې چې ناروغ وم — پوهنځی ته راغلم

یا :سره له دې چې ناروغ وم — خوبیاهم پوهنځی ته راغلـــم

یا دیوی‌یارتی یوستوی غونډ لی په بېنـــه :

له ناروغی سره سره پوهنځی ته راغلم •

له‌ولسه وو ځـــــه — له نرخه مه ووځـــــه

که غر لوی دی — پرسری لارده

خپل خپل دی — پردی په ډیرو نارو خپل‌دی

دښمن به دی وخندوی — دوست به دی وژړوی

شمه که سوزېږی رنـا هم لری (گوره په خندا کی ژړا هم لری)

۹) سرغاړی (منصرفه) څرګندنی غبرګغونډ له : چی دویمه (څرمه)غونډ له یی دلومړۍ (اري) له څرګندونی څخه سرړنړوی او نور زیات څه څرګند کړی لکه :

ځلمی گرم نه دی — بلکی زمری‌گرم دی

یا :ځلمی گرم نه دی— چی زمری‌گرم دی

۱۰) بشپړانده څرګندنی غبرګغونډ له : چی دویمه (څرمه) یی ددویمی (اري) دجاج (مفهوم) په بشپړو لو یا پراخولو کی مرستیاله اوس لکه :

خوشال ختـک‌نه یوازی شاعرو — چی تورزن هم و یا :بلکی تورزن هم و •

یا :خوشال ختک یوازی شاعرنه و — چی تورزن هم و یا :بلکی تورزن هم و •

یا :خوشال ختک لوی شاعرو — چی لا اتل هم و•

دلته گورو چی(نه یوازی) د(چی هم)یا (چی لاهم) اویا (بلکی هم) په ملگرتیا ددواړو غونډ لو اړیکی ټینگوی یاپه بله وینا (نه یوازی) او(چی هم)یا (نه یوازی) او(چی‌لاهم) یا(نه‌یوازی) او(بلکی هم) ددواړو ملوغونډ لو ترمنځ دبشپړتیا اړیکی څرګندوی •

همدومره خبره ده چی که د پورتنی (بلکه یابلکی) له کارونی څخه ډېره وشی نودپټـــــو (جبران)لپاره یی په‌هماغه څرمه‌غونډ له کی دلیتی پراړ توک باندی یو پیاوړی خج راوړل په کاردی‌چی له همدغه خج سره اهنگ هم پټلیز (جوخت) لوړ ولاړ شی•

۲ـ ګډه غونډه لــــه :

ګډه غونډه له هغې ته وایي چې په هغه کې له دوو نه زیاتې غونډې لې پرله پسې راغلې وي او څرګندونې یې سره یو له بله کوم ډول اړیکې او اړوندې ولري . او داســـې همغه یوه یواځینی مطلب د بیلا بیلو غونډو له مخې په بیلا بیل ډول څرګندیدنه موندلې وي . نو زیاتره یې یوه غونډه له خپلواکه یا اره وي او نورې تړلې ملې ورسره بیواکه یا څرمه وي . په ګړتې (محاوروي) پښتو کې ګډې غونډې لې زیاتره له دوو غبرګغونډو څــــخه جوړې وي چې په دې ډول په دواړو یو ځای شوو غبرګغونډو کې دارو او څرمو غونډو شمیر یو برابر وي لکه په لاندې بېلګو کې :

بنه دې چې سترګې دې وړې دي ــ که چیرې نه وای خوړ لاي به دې ومه

یار مې د کوټې زه د تیرا یــــــم ــ خدایه کوټ وران کړې چې جوړه تیرا له ځونه

په لومړۍ لندۍ کې لومړۍ برخه (مسره) یوه غبرګغونډه له ده چې اره غونډه له پکې وړانــــــدې او څرمه وریسې ده . دویمه برخه (مسره) یوه بله غبرګغونډه له ده چې څرمه غونډه له له اړې غونډه لې ترمخه راغلې ده . داچې په لومړۍ مسره کې دویمه (څرمه) غونډه له په څرګندنې ویيکــــې (چې) پیل شوې نو تړله لومړۍ مسره یوه څرګندنې غبرګغونډه له بلل کیږي او داچې په دویمه مسره کې لومړۍ (څرمه) غونډه له په اړوییکو (که چیرې) پیل شوې نو تړله دویمه مسره یوه اړوتې غبرګغونډه له ده . دواړې مسرې (غبرګغونډه لې) سره بیا په یوه توسنې اړیکې ــ چې په لارغه څرګندیږي ــ یوه ګډه غونډه له جوړوي . نو له دې پلوه زموږ یاد شوې لومړۍ لندۍ یوه توسنې ګډه غونډه له ده چې یې د غړیو غونډه لو شمیر څلورو ته رسیږي . او لومړۍ یې (بنه دي) اره غونډه له بلل کیږي او که دغې لندۍ ته د دوو غبرګغونډو له په سترګه وګورو نو لومړۍ غبرګغونډه له (لومړۍ مسره) اره او دویمه غبرګغونډه له (دویمه مسره) څرمه ده . د دویمې غبرګغونډه لې بیا دویمه ملغونډه له د (خوړ لاي به دې ومه) اره یا اړوتې او لومړۍ هغه یې (که چیرې نه وای) څرمه (اړ) بلل کیږي .

اوداهم دلومړۍ لنډۍ (ګډي غونډه‌لی) لښتیلیک (جدول):

۰۰۰ | اینونی اړیکوییکی اینس | اینونی لارغه ۰۰۰ | اینونی اړیکوییکی اینس | اینونی

له پټ اینس سره اره — خرمه — لهٔ پټ اینس سره خرمه — اره

———————— لارغه ————————

لومړی خرګندنی غبرګغونډه‌له — دویمه اړوتی غبرګغونډه لـــه

توښنی ګډه غونډه لـــه

همدارازدویمه لنډۍ دیوي ګډي غونډه‌لی په توګه جوتولای شو او هغه داچی داهم یوه توښنی ګډه غونډه‌له ده مګر په همدومره توپیرچی دلته توښنی غبرګ غونډه له تړلی (تړغبرګغونډه‌لی) دمخه شوي ده. اویل داچی تړتولو وروستی غونډه له‌ یی اره ده او په دي توګه تړله دویمه غبرګغونډه‌له (مسره) دلومړۍ غبرګغونډه‌لی (مسري) په وړاندي اره پلل کیږي په دي ګډه غونډه له (لنډۍ) کی دلومړي ملې غونډه لی (یارمی — دکوټ) اینونی د (د) په غورځونه چی‌یوه شعري اړتیاده نیمګړي دي. دغه راز دخلورمی (اري) — اینس خپلواکه جوله نلري اوداچی دلومړۍ غبرګغونډه‌لی دواړي ملې سره په یوي لارغی تړل شوي یاعطف شوي دي نو یوه تړ غبرګغونډه‌له بلل کیږي.

داهم ددغی دویمی ګډي غونډه‌لی (لنډۍ) لښتیلیک:

اینس | اینونی (بی‌کره) لارغه اینس | اینونی لارغه اینس | اینونی اړیکوییکی ۰۰۰ | اینونی

خرمه — خرمه — خرمه — بی اینس اره

———————— لارغه ————————

لومړۍ خرمه تړ (عطف) غبرګغونډه‌له — دویمه اره توښنی غبرګغونډه لـــه

توښنی ګډه غونډه لـــه

یادښت: پرتوښنی ګډي غونډه‌لی سربیره نوري رازرازګډي غونډه لی هم پیداکیداي شی تشبیهی لکه دښکارندوي په دې کرۍ کی:

هریلودګلووزم دي لونلـــی — ته وارغله له ختـــه کاروانـــونـــه

یا د حمید دغه لندۍ :

سینه مې دیګ زړګی مې غوښې — اوښکې اوبه دي بیلتون اوربل کوینـــه

٤ـ ګډې (مختلطه) غونډ له :

ګډې غونډ له هغه ده چې دیوې پوستوې غونډ لې په منځ کې یوه یا زیاتې څرمه غونډ لې ورننوتې وي ۰ دغه راز څرمه غونډ لو ته منځپیښې (معترضه) غونډ لې ویل کیږي ۰ جوړښت یې داچې داري غونډ لې تر اینښې (مسنداليه) یا د هغه ترکومې برخې وروسته دهماغه اینښې یا برخې په اړیکې (ارتباط) یوه یا زیاتې غونډ لې په څرمه ډول راشي او بیا داري غونډ لې پاتې برخه ترټولو پاي ته راورځي ۰ په ګړنې پښتو کې ګډ لې غونډ لې ډیرې لږې کارول کیږي اوهغه هم په دومره پیچلې بڼه نه ۰ داماناچې نه اره غونډ له پکې دومره ارته وي اونه پکې منځپیښې تریوې زیاتې وي او هغه یوه هم دومره ارته نه وي که نه په غبرګو او ګډو غونډ لو اړول کیږي ۰ دلته لومړي ګړنې اوبیا له لیکنې پښتو څخه دګډ لو غونډ لو بیلګې را اخلو :

۱) زه چې کورته ځم — رخصت اخلم ۰

۲) ځلمی چې پرون راغلی و — ما ونه لید ۰

۳) ما پروفیسور مورګن سیترنې — چې د اوروستی ځل کابل ته راغلی و — ونه لید

یا دغبرګې غونډ لې په ډول : ما داوروستی ځل پروفیسور مورګن سیتـرنې ونه لید — چې کابل ته راغلـــــی و ۰

٤) خوشال ختک — پخوا تردې چې په ګوالیارکې بندي شي — له اورنګ زیب سره په داسې میړانه — چې ساری یې نه درلود — جنګ وکړ ۰

دایوه دوه اړخیزه ګډ لې غونډ له ده په دې توګه چې دلومړۍ اري غونډ لې (خوشال ختک له اورنګ زیب سره په میړانه جنګ وکړ) دوه منځپیښې غونډ لې راغلې دي چې لومړۍ یې (په ګوالیارکې بندي شي) داینښې (خوشال ختک) په ګوالیارکې بندي کیدل څرګندوي اودویمه یې

(ساريیس نه درلود) د اېښوني (جنګ وکړ) دیوه کړ ول (په میړ انه) څرګندړي اوبیاوړیکوي •
(پښواتري – چې) او(داس – چې) د دروواړو ملوغونډلو ترمنځ داړیکويیکو دند ه
پرځای کوي لومړي زماني اړیکي او دویم څرنګیز اړیکي •

دلته وینو چې داري غونډ لی ایښی (خوشال خټك) له خپل ایښوني (جنګ وکړ) یوناد ود ه
لرېوالی لري نو په دي لاندي ډول دغه لرېوالی له منځه وړلاي شو :

خوشال خټك – پښواتردې چې په ګواليارکي بنديشی – له اورنګ زيب سره
په داسي میړ انه جنګ وکړ – چې ساري یي نه درلود •

دننی کاتسیري نړ ئ په غونډتبو او اغیزو سره دغه راز غونډ لی په ((لیکنی)) پښتو
کي مخ پرزياتیدو او ورپېچلی کېدو دیلکه :

٥) دیونان نومیالی فیلسوف اپلاتون – چې په اسلامی نړ ئ کی دلوي نامه
خاوند شو – دلویدیزې نړ ئ لومړي پوهاند دي – چې دژبی دبنسټ او څرنګوالی په باب یي
فلسفی څیړنه کړيده – اوله دي لامله دلویدیزئ نړ ئ دژېپوهنی پرانیستونی اودپرله غښتی
ګرامر برسیروني ګڼل شويدي •

٦) دیونان ستري جنګی بوللی یا حماسی ((ایلیاد او اوديسی)) چې سپیڅلی
ګڼل کیدي په خورا لرغونو زمانو کی په داسی یوه ژبه او سبك کښل شوي وې چې کابو نابومه
(ناما نوسه) شوې(الهام : وزمه – ٦ ګڼه ۱۳٥) •

په پنځمه ګډلی غونډ له کی یوازي (دیونان نومیالی فیلسوف اپلاتـــــــــــــون
ـــــــــــــــــــــــــه اسلامی نړ ئ کی دلوي نامه خاوند شو – دلویدیزي
نړ ئ لومړي پوهانددي) رښتینی ګډلی غونډ له جوړه کړې – ځکه دیوي اړي ترمنځ یوي
منځپیښی غونډ لی ځاي نیولی دي – او ورپسي نوري دوي ورسره په څرګندني اړتوښنـــــــی
بڼــه دزیاتی څرګندونی لپاره ملګري شوي دي •

گړ نـــــــــي یا اصطلاحـــــــات (IDEOMS)

په‌غونډ له پوهه کې موتر او سه د وینا بشپړ یوونونه (واحدونه) یاپه بله ژبــــه غونډ لی وشیرلی اویه ترخ کی مو واړه واړه وی غونډونه‌یا لغوي گروپونه (فقري) چی دگړنو (ایدیمونو) په نامه بلل کیږي •

پیژندون (تعریــــــف) :

یوه گړنه‌یوداسی وی غونډ دي‌چی دراز راز مانا لرونکو (دوویا ډیرو) ویــــو ای وییکو څخه منځ ته راغلی وي اوپه‌ژبه کی یونا اټکل کیدونکی لرغونتوب لري • یوه گړنه تل په‌جولیز ډول یوناشنونی او ټینگ یووالی نه وي خوپه مانیز ډول یوناشنونی غونډ (مجموع) گڼل کیږي • په بله وینا یوه گړنه د داسی وییوغونډ دي چی په یوه غونډ له ییز یاپه بله وینا غونډلموییز (نحوي) چاپیریال کی ځانته بیلا بیله‌جولیزه‌څپلواکی ساتلای شی • د ساري په ډول له هر راز اوښتی راوښتی سره مخامخیدای شی خوپه گډه چی کومه یوه یواځینـــی مانا منځ ته راوړي نه شنل کیدونکی مانا بلل کیږي دغسی یوه منځ ته راغلی گډه مانا کله داسی وي چی د ټوکونو (اجزاوو) له بیلا بیلو مانا وو سره څه ناڅه ورته والی اواړیکی لري اود شنلو (تجزیه کیدلو) پروخت‌یی گډه‌مانا کوټ‌ټه له منځه نه ځی — د چاخبره یو ځرک هومره‌یی لاالگیږي لکه برخه اخیستل — سربرښنی کیدل مقصد ته رسیدل — وروسته پاتیدل خوله پرخوله کیدل — پرمخ تلل — لاسته راوړل یاراوستل — له منځه وړل ۰۰۰ اونور •

په دویم ډول گړنوکي گډه مانا داسی وي‌چی دبیلا بیلو ټوکونو ماناوي یی ښکارندوي نه شی‌کولای او له ټوټــه ټوټه کیدو سره هر ټوک‌څپلی گونی اړي مانا ته ورگرځی کټ مټ لکه دیوه کیمیایی ترنگ ټوکونه (د ســاري په ډول هایدروجن او اکسیجن چی یوی هم ځانته دڅپل ترنگ ((اوبو)) ښکارندوي نه شی کولای) بیلگی یی لکه: غوږ ربول — زړه مړیدل — زړه خوړل زړه ماتیدل — زړه پخیدل— سپینی ښوییدل — ښنښیدل یا غوټه کیدل — پـــزي ته رسیدل سترگی ربیدل — لاس ترزنی کیناستل — لاس پرسرکیدل — لاس اخیستل او داسی نوري کنایی او مجازي مانا ښندونکی گړنی •

دریم — هغه گړنی دي چې دمتلو او بولنو (مقولو) په ډول وي یا په بله وینا یوه غوره وینا وجیزه ډوله یامقوله ډوله وینا وي او یا متلونه وي د اما نا چې کومې کیسې ته گوته نیسي او هره یوه دگړنا ر په بهرکې دیوه ناشنونکي وېې غونډ (لغوي گروپ) په توگه لکه یوه گړنه کارول کیږي کټ مټ دشاعرانه ارسال المثل غوندي لکه : دگبرجام نسکور دي — پلانی او بیستانی سره نوک اواوري دي — پلانی او بیستانی دیوې سوړې ماران دي یا دیوې باغچې گلان دي — په یوه گل نه پسرلی کیږي — داهم په انارو — خوند یې باران وړي دي — دکوهې ختـــه پرکوهې لگي — وروري خوري په کړو حساب ترمنځه — یوه بلابلې ته واین چې بو — بنه بنه د ي بدبد دي — خپل عمل دلاري مل — دجولامنډ ه ترموزي پوري وي — لري خه — ژرراخــــــــــه — مه کوه پرچا چې رابه شې پرتا — لاس چې مات شې دغاړې بارشي یا غاړې ته ورځي — دچا پرتوگابن تښتیدل (خجالت کیدل) — پرپچه سپریدل او کشمیر لیدل — لورپه لوټه تیره کول — اوبه له ورخه تیریدل — اوبه په ډانگ ویلول — چې په نازلوییږي په زبار زړیږي ۰ (لکه پدې کړي کــــس : چې په نازلوي شي په زبارزړیږي — زه په زبارلوي شوم په نازژړیـــږم او داسې نور ۰ له هسې عادي بولنو او متلونو سره دغه رازگړ نوتوییر همدومره دي چـــې دلته بولنې او متلونه په جلا او خپلواک ډول دوینا له بهیره بهر — دیوې کړي یاشوې وینا د تینگار پخلي او جوتتیا لپاره په خرمه او سرباري (اضافي) ډول نه بلکې پخپله داري وینا یا یوه وینا ییزیوو ن (غونډ لی) دیوه نه جلا کیدونکي توک اوبرخې په توگه کارول کیږي له دې کبله د داسې تضمین شوي یااستخدا م شوي متل یا بولنې ار بنـــه تل خوندي نه پاتیږي ۰ (لکه په پاسنی شعرکې) خوبه هرډول دیوې گړنی غوندي دوینا یا غونډلي دننه دمانــــا او جولې له مخې بونه شنل کیدونکي وېې غونډ اوبرخه جوړ وي لکه بخرزي — لاس ترزنې کیناست په دې غونډ له کې (لاس ترزنې کیناست) گړنیز غونډ (کل) دي چې دیوې غونډلې اپښونې یې جوړ کړي دي ۰ نورساري (مثالونه) یې لکه :

د رخو ــ گوته پرغابن ونیوله

ځلمی ــ اوبه په ډانگ بیلوي

ځلمی ــ له زانځونه کتوري غواړي

یا دیوه غونډ (اینس یا اینونی) یوه برخه جوړوي لکه :

تور ــ (اوبه په ډانگ بیلول) غواړي ·

اویا دواړه غونډه یاپه بله وینا یو متل توله غونډ له جوړوي لکه :

نوك او اوري ــ سره نه بیلیږي ·

د پښتو ییز چار له مخی دوه رازه گړنی سره تویږیږي نو پوهاله گړنه لکه دبوډۍ ټال (قوس‌قزح) یا دگیدړ واده (افتاب باراندك) دویمه کړواله غونډ له لکه غوز ربول ــ په ډنډ کی خوله کیدل · په دي توگه یوه نوموالگړنه کیدای شي دکړ په ملگرتیا کړواله شي لکه لاس ترزنی کیدل او داسی نور ·

غونډ له پوهیزه (نحوي) شننه یا تجزیه :

د دي لپاره چی دغونډ له پوهیزو یوونونو (غونډ لو او غونډ ونو) پرمانیزو اوجولیزو جوړښتونو، او ډون اوخپلمنځی اړیکو موښه ترا رڼا اچولی وي ، دلته غواړو ځینی بیلگی یی ترشننی (تجزیی) اوسپړنی (تشریح) لاندي ونیسو · په دي ترڅ کی به راته داهم په ښه توگه څرگنده شي چی دغه راز شننه له غزپوهیزي اوگړ پوهیزي له شننو سره څه توپیرلري ·

۱ ــ زما ورور نن له کندهار څخه کابل ته راغی

داغونډ له وینو چی له نهو کوچنیو ټوکونو (زما ــ ورور ــ نن ــ له ــ کندهار ــ څخه ــ کابل ــ ته ــ راغی) څخه جوړه ده او دغونډ له پوهی له پلوه تر دغی زیاته نه شنل کیږي · که څه هم ځینی ټوکونه لکه (زما) ساده ویی نه بلل کیږي او پردوو ټوکونو یاټوکونو ټوټی کیږي مگر دغه راز ټوټه کیدنه یاشننه په گړ پوهی پوري اړه لري نه په غونډ له پوهی پوري او داسی نور · دلته یوازی په نهو ټوکونو شننه ــ دهغوي اوډون اوخپل منځی اړیکی ښو ول د غونډ له پوهی‌وینه ده · د دي ټوکونو په ډله کی ځینی بیاداسی دي چی دځینواړیکو له مخی سره غونډ غونډ یاجوړه جوړه کیدای شي لکـه :

زماورور – نن – له کندهار څخه – کابل ته – راغی ۰

دلته بیا گورو چې په دغو پنځو غونډونو (کړند – کړول – کړول – کړول – کړ) کې څینی سره دبل ډول اړیکو له مخې پردوو سترو غونډونو یا برخو ډله ډله کیږي چې یوي برخی ته کړوال غونډه یا اینښی (مسندالیه) اوبلی ته نوموال غونډه یا اینښونی (مسند) وایی لکه:

زماورور – نن له کندهار څخه کابل ته راغـــــــی

داوډون له پلوه گورو چې لومړي نوموال غونډه راغلی اوبیا کړوال غونډه ۰ په نوموال کې د دپښتو غونډه له پوهی له دود اودوی (قاعده اوقانون) سره سم لومړي تولنومځري (زما) اوبیایې اړوند څیزنوم (ورور) اوپه کړوال غونډه کې لومړي دکړ اړوندتوکونه اوبیا پخپله کړ راغلی دي ۰

داچې غونډه له څبري په نوا هنگ یې اوار پیل کیږي او وروورو کښته لویدلی پای ته رسیږي ۰ نوله غونډه له یو پیاوړي خج لري چې ویونکی یې له ځپلی موخی سره سم پریوه ویی باندې راوړي داماناڅ پرهرویی او ځپـه چې ویونکی ورته زیات ارزښت ورکوي که نه په عادي او منطقي ډول یې پولوستونکي پرکابل اوبیا د (بل) پرځپه راوړي له دي کبله موږ یو غونډه له بیزخج دوه ډوله پیژنو یوعادي یا منطقي خج لکه پر (کابل) اوبل ځانگړي یا فوق العاده خج چې ویونکی یې دیوي ځانی خوښی یا فوق العاده موخې له مخې پریوه بل کوم ویی یاځپه راځی ۰ د ساري په ډول که دویونکي موخه (زما) ارزښت او اوچتوالی وي نو پر (زما) باندې زور اچوي بیانو دویونکي موخه داسی پوهیدل کیږي چې دبل چاورورنی نه بلکې خپل یې مطلب دي اوکه پر (ورور) خج راوړي داماناتري اخلو چې ویونکی له نورو اړوند وکسانو (خپلوانو یاملگرو) څخه خپل (ورور) جلا کول اونومیرل (مشخصول) غواړي اوداسی پرنورو پاتی ویینو باندې دخج راوړل دروا خله ۰

کوم اړیکی چې په دغه غونډه له کې داینښی او اینښونی ترمنځ لیدل کیږي هغـه یې سره دوگړي نوزي اوگنی له مخې برابرښت او سمښت دي ۰ په بله وینا (زما ورور) چې یو اینښی دی داینښونی له ارتوک (راغی) سره دپورتنیو د رواړ خوله مخی سمون لري داسی نه لکـــــه

دوګړي له پاره (راغلم یا راغلی) روول شي یادونوژي له پاره (راغله) او یادګښس له پاره (راغلل) نامسم ورول شي او داتنګه چې د تیرمهال نالیزند کړپه دریم وګړي کې دغه دریار ځیزه سره پیوند دي ، د اجي نن سبا د پوهنتاني کولتوري نړۍ په پښتو دنمانځنې له کبله د یوګړي لپاره دیرګړي کې او نومځري کاروول کیږي (لکه زرك زمرك ته وایي ((تاسې له کندهاره کله راغلاست)) پوښتنه یې دوه نه بلکي تولنیزه ونښل کیږي . الماتیان دغه راز نمانځنه په یوه بل سره ځرګندوي او هغه داچې د مخاطب یوګړي وګړي لپاره د دریم دیرګړي وګړي (جمع غایب) نومځري کاروي اونور لویدیځیان د مخاطب یوګړي وګړي لپاره د همدغه مخاطب وګړي دیرګړي نومځري کاروي . غیځیان بیا زیاتره د دریار و یوګړو د نمانځنې له کبله د دیرګړي کاروي لکه متاسې پلار چیرې ولاړل . په کندهاري ګړدود کې د دریم وګړي پښتینه یوګړي تیرمهال نالیزندکړ دیرګړي کارول کیږي (وزمه راغلل) چې تولنیزه یا دوناوزه پیوسته ورته وبلاي نشو بلکې یوه سپیره پیزه ګړدولتي ځانګړتیا او له تولنیزي (معیاري) پښتو څخه یو مړ غړ اوي بلل کیږي .

زمزز تر څیړنې لاندې غونډه لې په اینسرنی (نن له کندهار څخه کابل ته راغلې) کې (نن) د (راغلې) مهال ناکې په بله وینا یو مهالي کړول دي . (له کندهار څخه) یو تونی کړول او (کابل ته) یو بل تونی کړول بلل کیږي . له بله پلوه (نن) یو ساده کړول دي او دا نور دواړه تر ښتي کړولونه یا په بله ژبه کړولی غونډونه . په لومړي کړولی غونډه (له کندهار څخه) کې (له) سرپل او (څخه) اوسترېل (کندهار) وتون پیر (ABLATIVE) کې اچړي د ممد غـــه وتون پیر له کبله (کندهار) پر (کندهاره) اوړي خو په معیاري پښتوکې یې پایله (هٔ) غورځیږي . په دې ترکه (کندهار) د سرپل او اوسترېل تر راکړې لاندې دي او دا تړل کړولی غونډه (له کندهار څخه) بیلګي یا ندې واکمنی لري دې راز کړولونه (نن ـ له کندهار څخه ـ کابل ته) د کړ اړوندونه ګڼې او په یوه مهال کې پرکړ (راغلې) واکمنان .

د اړیکو ون له پلوه د غونډه لی ګرد توکونه پر خپل خپل ځاي راغلی دي . یا ځنـــې (نن) کوالای شو تر (له کندهار څخه) وروسته ځاي ونیسو بې له دې چې پکې بدلون راوانيزونجون پیښ شــــي .

۲ـ خدایه ته په زړه کی اچوې دامینې ــــ چې په ښکاردې مبتلاکړم ته می وینی (دخوشال ختټك دبازنامې د سربیـــت) دغه بیت یوه گډه غونډ له ده چی که (خدایه !) جلا بانې (ندائیه) غونډ له ونه گڼو نو لومړي نیم بیتی یې یوه یوستوي غونډ له ده او دویم نیم بیتی یې دوه یوستوي یاپه بله وینا یوه غبرگغونډ له ده خود مطلب له مخې لومړی نیم بیتی غونډ له د دویم نیم بیتی له لومړی غونډ لی سره یو پرله غښتې (منسجم) یووالی یاغبرگغونډ له جوړ وي او دریمه (ته می وینې) ورپورې هسی یوه سرباريغوندي غونډ له ملگري شوي او دمخنیوډ وغونډ لو دخرگندونې یو. بشپړ وونکی او پخوونکی غوندې پایځوړ بلل کیږي ۰ دادي لومړی یوستوي غونډ له په خپلورغنده ټوکونو ویشو :

خدایه ــ ته ــ په ــ زړه ــ کی ــ اچوې ــ دا ــ مینې

دغه اته ټوکونه سره دخپلو گرامري اړیکو له مخې دوروستیو خلورو غونډ ونو په بڼه ډله ډله کوو :

خدایه ته ــ په زړه کی ــ اچوې ــ دامینـــې

لومړي کړند غونډ (فاعلی گروپ) دی دویم کړولی ــ دریم کړ دي او خلورم کړي غونـډ (مفعولی گروپ) ۰ ددغو غونډ ونو شعیر بیا دوسترو غونډ ونو (اینې او اینبونې) ته راټیټــوو :

خدایه ته ــــــــــ په زړه کی اچوي دامینې

داوډون له پلوه په اینبونې کړي غونډ (دامینې) دشعري اړتیا له کبله خپل ځای پري اینې دي که نه رښتینی ځای یې هم داینبونې په سرکی له کړول غونډ (په زړه کی) دمخه اوهم تري وروسته ټاکل کیږي ۰ داغونډ له که څه هم یوه خبري غونډ له ده اوپه کاروو چی اهنگ یې ډیرتیــت پایته رسیدلی وای خو داچی شعري اړتیا اوډون ویجاړ کړي او کړیغونډ (دامینې) ترکړ (اچوي) وروستـــه راغلی نو اهنگ تر خوړید ووروسته یوځل بیالوړ شوي پایته رسی ۰ خج پر (ته) ــ (اچوي) او (مینې) دروواړ و وییو باندي راځی مگر وروستی دزیات پیاوړ توب له کبله دغونډ لی یوالخینې بیا وړ ي خج بلل کیږي ۰

د اګرد ه غونډله (یا مسره) دمانا او موخې له مخې یو بېیخې بشپړ یووالی نه بریښی بلکې (دا) د یوه اړیکوییکی په توګه دیوي بلې څرګندنې څرمه غونډه لې غوښتنه کوي له همدې کبله دا یله څرګندنې غونډه له ورسره په بل مقابل اړیکوییکي یا څرګندنې ویکی (چې) پیل کیږي اردا ري غونډه لې د اړیکوییکی (دا) ځواب وایي چې څه ډول او کومه مینه • په دې توګه د دواړو غونډه لو له ملګرتیا منځ ته راغلې غونډه له یوه غبرګغونډله بولو او هغه بیا یو څرګندنې غبرګغونډله • اوداهم دلومړۍ څرمه غونډه لې شننه :

چې — په — ښکار — دي — مبتلا — کړم

ټوله څرمه غونډه له شپږ ټوکه لري • لومړي ټوک (چې) یو څرګندنې اړیکوییکی دي • دویم (په) یو ستابل دي چې بې اوستریله (سره) لوښنه (الی) پازه تر سره کوي او (ښکار) ترخپل واك لاندې راولي او په لوښن پییر (الی حالت) کې یې اچوي • (دي) د دویم یوګړي وګړي (مفرد مخاطب شخص) کمزوري نومځري دي او بیا یو کړند چې دګردي غونډه لې ایښې جوړوي • (مبتلا) له (کړم) سره یو کړوال غونډه یا په بله وینا یو تړښتن کړ ا منځ ته کوي • د پورتنیو ښنوییزو اړیکو له پلوه ګرد ټوکونه داسې غونډه غونډه کوو : چې — په ښکار — دي — مبتلا کړم •

(چې) خولګه چې وویل شو له تیري غونډه لې سره دیوه څرګندنې اړیکې چارپرغاړه لري •
(په ښکار) یوتوسنې غونډه دي په بله وینا توسنې سربل (په) د (ښکار) څیز نوم ته توسنپیر ورکړي او په دې توګه پرې واکمنې لري او بیا د ا ټول غونډه (په ښکار) په (مبتلا کړم) باندې خپله واکمنې چلوي کټ مټ لکه د یوه کړ ول غونډي • (دي) د یوه یوګړي وګړي کمزوري وګړنومځري (دمفرد مخاطب شخص شخصي متصل ضمیر) په بڼه دغونډه لې کړند ؛ یا په بله ژبه (ایښی) جوړوي • (مبتلا کړم) یو کړ غونډه یا تړښتن کړ دي چې له (په ښکار) سره دغونډه لې ایښونې جوړوي په دې ډول ګرد ه غونډه له پردوو بنیادي برخو (ایښی او ایښونې) وشلاي شو :

دي ————— په ښکار مبتلا کړم

داوړو ن له مخې کومه نیمګړتیا نلري ، د اېښې (دې) له پښتو ببیز د ود سره سم د ایښودنې په منځ کې ورتلوتې ځکه دیره کمزوري نومخري په توګه یې په سرکې راتلل د ود نه دي ، که ایښودنې منځنی برخه (په بڼه کار) نه د رلودای نو هرو رو بیا د کړ غونډ په منځ کې ورتلونه (لکه مبتلا دې کړم) ، او که د دغه تربښتې کړ (مبتلا کړم) پرځای کوم بړستوي کړ (لکه وخوړم) وای ، نو بیا (دې) بیخي پای ته وته (لکه وخوړم دې) بل ځینو چیرې په دې غونډ له کې د بیان ولو د یغه دکړي (زه) نه راوړل دي او پرځای یې یو اخړې په وګړیزي پایان (م) پیښ راوړل دي چې له همدې کبله یې د ود یز پښتو پیوهان (متصل ضمیر) یا (کمزوري متصل ضمیر) او (فعلی ضمیر) بولي ،

د ویمه څرومه غونډ له (ته ن وینې) د منځنی غبرګغونډ لی په بشپړ تیا کې نیند ه برخه نه اخلي او یواځې یو ټګرارې بنسه لرې نو که بیایې هم ماه ویواړ ، زموږ غبرګغونډ له پړګاډي غونډ لو اوړي چې د غونډ او ضمیري د روته ریښي ، ورو بې اړه — د ویمه څرګند نی څرمه او وروستني تړ (عطف) او بیا اړه غونډ ته بلل کیږي دغه وروستني تړ اړغونډ له لوړی یې په الفدي د رو توکونو شنل کیږي :

ته — ن — وینې

(ته) یو کړ نده او بیا د تړلی غونډ لی (اېښې) دي ، (ن) یو کړي دي او (وینې) د دریم یوګړي وګړي یوستري او سمهال کړ دي ، د اچې کړي (ن) د کړ (وینې) له او وند وڅخه ګڼل کیږي نو اېښې (ته) په وړاندې په ګډه یو ایښودنې جوړوي یا په بله ژبه تړله غونډ له پر د وو بنیادي برخو ویشو :

ته ————— ن وینې

۳ — د پښتو د فعلی اصطلاح ګانو واجدونه چې د جوړښت له مخې به په دغې مقالې کې په صنف بند یوو ویشل شي ، مخې او د بیان ولو یې ته ډیر یې شاید ي (د دولت لوډین له لیکنې څخه) ، دا غونډ له له د وو ملو غونډ لو جوړه شوې ګډا لی غونډ له د ، په دې ډول چې د اړتې غونډ لی د اېښې او ایښودنې ترمنځ یوه څرګندنی څرمه غونډ له اچول شوې ده ، څه چې د لته نا بره سه

(نامانوسه) آوناد ونه بریښی هغه داري غوندي لي بيا بيښی (تکرار) دي اوداپیاپیښی اوناد ودي هله را څرګندیدای شي چې منځپیښی تري وایستل شي لکه: دپښتو د فعلي اصطلاح ګانو واحدونه مهمي اوياد ولو وړ ښښي يې دادي، ښاغلي لردين کولاي شول چې دا تول ګډلي غوندي له داسي وکاږي:

دپښتو د فعلي اصطلاح ګانو د واحدونو مهمي اوديادولو وړ ښښي چې دجوړښت له مخې به په دغه مقاله کې ډلبندي (صنف بندي) شي دادي ۰ خو دا ډول دمحکمه نه غوښتل چې منځنې څرګندښي څرمي بيا داري غوندي لي موخن توك يا مطلوب عنصر (واحدونه) پوري نه بلکې په ټنا غوښتلي توك (ښښي) اړه پيداکوله ۰ که توله ګډلي غوندي له يې، په غبرګغوندي لي اړولي راي لکه: دپښتو د فعلي اصطلاحاتو ګانو د واحدونو مهمي اوديادولو وړ ښښي دادي چې دجوړښت له مخې به په دغه مقاله کې ډلبندي (صنف بندي) شي ۰ په دي ډول کې بياهم دمخنې ډول ګانه کيدنه او دارغوندي لي ايښوني خبر (دادي) هم بې ځايه ښکاريده ۰ خو پواځيني کره شمرنه يې داسې کيدنه چې داريغوندي لي دايښوني برخه يې له (نسوموالي) يا په بله وينا له تړلوالي يا ملکيت څخه ژغورلي واي لکه په دي ډول: (دپښتو د فعلي اصطلاح ګانو واحدونه — چې دجوړښت له مخې به په دغه مقاله کې ډلبندي (صنف بندي) شي — دامهمي اوياد ولو وړ ښښي لري:) په نسکه پښتو لکه: (دپښتو کړ الوګ نو يوونونه — چې دجوړښت له مخې به په دغه ليکنه کې ډلبندي شي — داغوري ښښي لري:) — په صنف بنديو ويشل شي يوه دخنداوړ تيروتنه ده (صنف بندي) پخپله د (ويشنې) مانا لري ويشنه بيا څنګه ويشل کيږي ۰

که څه هم ځينې ليکوال چې په پښتو کې له ګډلو غوندي لو سره کورت نا باندي (مخالف) دي ۰ پاسنې ګډلي غوندي لي په دوو دري بيلا بيلو پرله پسې يوستوو غوندي لو تړلي کوي خوداکار دژبې له سپما يې ار (اقتصادي اصل) څخه تيري دي ۰ په دي مانا چې په هره ژبه کې داهڅه کيږي چې تروسه وسه پوري چې په لږو اوپرله غښتو (منسجمو) جوليزوتوکونو سره ډيره مانا اوجاج (مفهوم) څرګند کړ شي نه داچې په سرچپه ډول په ډيرو نا پرله غښتو جوليزوتوکونو سره

لنږ ماناآوجاج • نوکه يو بشپړ اوناشنونی مانیز يوون(واحد)په ځو جوليزو يوونو (لفظی واحدونو) کی څرګندشی له ژبنی دوي او سول (منطق) څخه ښکاره سرغړاوي دي •
اوس بیرته را ځو خپلی ګړه لی غونډه لی ته چی بیلا بیل رغنده توکونه يی څه راز خپل منځی اړیکی او اوډون لري :

د ارغونډه لی اینبنی له پښتو دود سره سم اوډل شوي • د کړ ند (واحدونه) اړوند توکونه د مخه اوپه خپله کړ ند وروسته راغلی دي • دويم تولوييکی ((د)) کیداي شو چی وسپمـسيزي ځکه پښتو د ستاينوم په توګه هم کارول کيږي • د دي ارغونډه لی بله برخه(اینبنونی) د اوډون له مخی هم کومه نیمګړ تيا نلري •يوازی د (يی) زياتوالی پکی دګوتنيونی (انتقاد) ټکی د ي چی د مخه موږي رڼا واچوله • نغه توله ارغونډه له دواړو خواووته د څو اړوندو توکونو يه د رلودلو سره يوه ارته يو ستوي_ د اينبنونی د ارتوك په ډول د (دي) په لرلو سره يوه نوموالـه اويه مانیز ډول يوه خبري غونډه له بللاي شو • دابله منځپيښی څرمه غونډه له د اوډون له پلوه سمه ده خود تونپیر په غونډه (په دغی مقالی کی)(دغه) او (مقاله) هسی بیځایه په اوښتی بڼـه کښـل شوي دي ځکه په (ليکنی معياري)پښتو کی د ويونکو د ډيرښت په لاسوند (پـه ــ کی) دخپل اړوند څيز نوم نيايلی ونجون دود نه دي لکه (په اسره کی) ــ (پـه کوټـه کی) لکه دحميد مومند په يوه درست شعر کی (خط پرمخ دصنم راغی که سپوږ می شوه په هاله کی ــــــــ
دا يی غانښ په خوله کی زيب کا که ژاله شوه په لاله کی ۰۰۰)•

کړاوونه

۱ــ غونډ له پوهه څه ته وایي اوله څه نه غزیږي ؟

۲ــ دغونډ لې پېژندونې (تعریف) څنګه کیږي ؟

۳ــ یوه غونډ له په کومو دوو سترو برخو ویشل کیږي ؟

٤ــ دغونډ لې لویر بنسټیز توک کوم دي ؟

٥ــ نیمګړي غونډ له څه ته وایي ؟

٦ــ غونډ څه ته وایي ؟

۷ــ دغونډ لې رغنده توکونه (متشکله اجزاء) کوم دي ؟

۸ــ د پښتو غونډ لې اووه ون څه ډول دي ؟

۹ــ دګرامري چاراومانا له مخې دغونډ لې ډولونه وښیاست !

۱۰ــ غونډ له دجوړښت له مخې پرڅو ډوله ده ؟

۱۱ــ پوښتوي غونډ له پرڅو ډوله ده بېلګې یې وښیاست !

۱۲ــ یو اړه پوښتوي غونډ له په انځورلیک کې وښیاست !

لاندې ترلیکه دجوړښت له مخې دهوی لندې غونډ له ییزډول راوپېژنئ :

۱۳ــ که په میوند کې شهید نه شوې — ګرانه لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

۱٤ــ په تور توپک ویشتلی راشه — دبې ننګۍ اواز د مه را څه میینه

۱۵ــ اشنامې ستر پروطن کېښېږد — په تار دزلفو به کفن ورته ګنډ مه

۱٦ــ مخ دې څراغ خوله دې غنچه ده — زه ترې حیران یم چې پتنګ که بورا شمه

۱۷ــ والړه به زه وریښمین نه منسټرم — چې مورته شاکړي ماته شنه له خنداشینه

۱۸ــ توري کوه بزي به هو به شي — که بریښه ویځوانان تل پروطن مرینه

۱۹ــ اخر به وران شي پیښوره — دننګرهار پیغلې بنیراد رته ګوینه

۲۰ــ له خدارو سترګو دې جارشم — چه په زړا شي مرغلري توینه

په دي لاندي لنډ يو کی اري (خپلواکی) او څرمه (بيواکی) غونډه لی سره توپيرکړ ي :

۲۱ــ که زه خبر وای چې بيلتون دي ــ ما به مې يار ترلاس نيولی گرځونه

۲۲ــ که راته گوري د زړه گـــورم ــ که راته نه گوري پروا دي نلرمــه

۲۳ــ بيلتون پرتنگه کوځه راغــــی ــ ماويل ملا دي ده ويل گور دې ورانومه

۲٤ــ ماته وعده د خولگی راکـــړه ــ څه که د تورو پرسرلاروي دزړه شمه

۲۵ــ مينه يم منکـــره نه يــــم ــ که شينکی خال مې د چړ و په څوکو ځينه

۲٦ــ له لري مړم له نژدي ســــوزم ــ زه ليونی طاقت د دواړو نلرمــه

۲۷ــ دخوشالی ياران مې لا يـــر وو ــ چې شادي ولاړه ټولو پورته کړل لاسونه

۲۸ــ ياري خوتاکړه ماخو نکـــړه ــ چې تومت راغی اوس پرماکړ ي ٠ منـه

۲۹ــ سپوږمۍ پرماد ي څه احســان دي ــ زما اشنا د ديواله سيوري ته ځينــه

۳۰ــ سپوږميه سروهه راخيـــژه ــ زما اشنا د تورو شپو مــنزل کوينه

داوروسته شعرونه له سم اوډون سره په نثرو ليکی :

۳۱ــ د مسلمان زړگی آزار چې اخلـــی ــ څه شول پردي چې کليساته د رومـــی

۳۲ــ مري د زيار خود أيوسوال کړ محراب ــ چې له مادرومی وايه چاته د رومـــی

۳۳ــ د سپيڅلو گروهو گچه مې له پاکوگاهو ــ اود هيلو پيمانه مې نهيلـــونه وويشته

۳٤ــ پرژوند پينبو که د زيار په رښتيا خبريدل ــ پرهرژلی نارام ژوند يې له شعرونه وويشته
غواړي

۳۵ــ که ستن شپوي زياره مينه کی ديـــار ــ ديادخلی په دي جوړ شی له ايـــروا!!

۳٦ــ گرنه څه ته وايی اوپه د رياولاتينی يی څه بولـــی؟

۳۷ــ گرنی دمانا اورغاونی له مخې څو ډوله دي؟

۳۸ــ دگرامري چار له مخې دگرنی ډولونه وښياست!

۳۹ــ (له سره تيريدل) دپورتنيو ډولونو له مخې څه رازگرنه ده؟

٤۰ــ يوکايی اوميجازي مانا لرونکی وی اوگرنه سره څه توپيرلري؟

نوي نومونـــــــــن

اټکل	گومان ـ حدس ـ تخمیـــن
ـ شمیر	تخمینی یاغیر معیین عدد
اخځ	مأخذ
اخځلیـــك	د مأخذونو فهرست
اړ	اصل ـ اصیل ـ اصلي ـ پرنسیپ
اړپیر	اصلي حالت
ارته یوستوي‌غونډ له	منکشفه ساده جمله
اړ شمیر	اصلي عدد
ارغونډ له یا اره غونډ له	اصلي جمله
ارماني	تمنایي
اره	اصل ـ منشأ ـ نسب
اره یوستوي‌غونډ له	اصلي ساده جمله
اړ	شرط ـ مانع
اړوتي	شرطي ـ مشروط
اړوند	تابع ـ متعلق ـ مربوط
اړوندي	تابعیت ـ تعلق ـ ارتباط ـ مربوطیت
اړیکپیر	ارتباطي حالت
اړیکومخري	ارتباطي ضمیر
اړیکوییکي	ارتباطي کلمه (حرف ربط)
اړین	ضروري ـ حتمي
انځورلیك	گراف ـ دیاگرام

اند	فکر ـ مفکوره
ـ پوهه	ایدیولوژي
ـ دود	طرز فکر
انګازه	انعکاس ـ عکس العمل
انګینوم	صوتی نوم ـ نام اوا
انګینومیز	نام اوایی
اواز	فونیم ـ واج
اواز پوهه	فونیمیکس ـ فونیمشناسی ـ واجشناسی
اوډل	ترتیبول ـ تنظیمول
اوډون	ترتیب ـ تنظیم
اوریز	سمعی ـ سماعی ـ شنوایی
اوړین	ګردان ـ تصریف
اوړونی	ګردانی ـ تصریفی
اوړېدونی	ګردانیدونکی ـ متصرفه
ـ ژبه	متصرفه ژبه
ـ ګړ	ګردانیدونکی مورفیم
اوستربل	پسبینه ـ پوستپوزیشن
اوستر مهال	استقبال ـ مستقبل
اوښتون	تغییر ـ تحول ـ انقلاب
اوښتی پیر	مغییره حالت
اینښونی	مسند ـ خبر ـ گذاره

ایښی	مسند الیه ـ مبتدا ـ نهاد
بشپړ	مطلق ـ مکمل
ـ کړ	مطلق فعل
ـ تیرمهال	مطلقه ماضي
ـ اوسمهال	مطلق حال
ـ اوسترمهال	مطلق استقبال
بشپړ اند	بشپړ وونکی
ـ کړ	سوباشیف یا ناقص فعل
ـ ترك یا توك	بشپړ وونکی عنصر یا جزء
بیاییښی	تکرار
بیچار	بیکار ـ بی فعالیته ـ مجهول (فعل)
ـ کړ	مجهول فعل
ـ کړ نوم	مفعولی صفت
بیدوده	بیقاعده
بیدودي	بیقاعدگی
بیلتون	فصل
بیلښت	اشتقاق
بیلښتي	اشتقاقی ـ مشتق
بیږاك (غږ)	کنسونت ـ صامت
پایخوړ	ضمیمه ـ تعلیق
پایلیتوي	نتیجه گیري ـ استنتاج
پایله	(فعلی) خاتمه ـ نتیجه
پایلیزه	(د کتاب) خاتمه

رفیع الدین لودین کتابتون
کتاب پر لیکې شمیره

پرتله	مقایسه ــ مناسبه ــ نسبت
پرتلیز	مقایسوي ــ نسبي
پاسرم	ذات اسم
پڅي	بدني ــ جسمي ــ ذاتي
پڅي	بدن ــ جسم ــ ذات ــ وجود
پښو پیوهاند	گرامریستان
پښویه	گرامر ــ دستور ــ صرف ونحو
پښو پیز	گرامري
پلوي	طرفدار ــ سمتي ــ توجیهي
ــ نومځري	سمتي ضمیر
پورغز	واج قرضي
پوروېس	مستعار لغت ــ واژه ي قرضي
پوړ شمیر	رتبي یا وصفي عدد
پوښتغونډ له	استفهامي جمله
پوښتنښه	د سوالیي علامه
پوښتیلیک	پرسشنامه
پوښتنومځري	استفهامي ضمیر
پوښتني	استفهامي
پیر	مرحله ــ دور ــ دوره ــ حالت
پیژند	ارتیکل ــ حرف تعریف

ـ پانــه	استعلامیه ورقه
پیوستون	وصل
تاړي	وند ـ افیکس
تړغبرگغونډ له	عطفیه مضاعفه جمله
تړ وییکی	حرف‌عطف ـ دعطف توري
تړانی	امکانی ـ اقتداري
ـ کړ	ـ فعل
توري	حرف ـ گرافیم
توسن	سبب ـ علت
ـ پیر	الی حالت
ـ غونډ له یا توسنی‌غونډ له	علتیه جمله
ـ وییکی	دعلت توري
توسنی	الی ـ علتی ـ علتیه ـ معلول
توك یاتوکی	عنصر ـ ماده
تول	مال ـ ملکیت
ـ نوم	مضاف
ـ نومځري	ملکی یا اضافی ضمیر
ـ تون	ځاي ـ ظرفیت
ـ پیر	ظرفی حالت ـ لوکاتیف
تونی	ظرفی ـ مکانی
ـ کـړول	مکانی قید

تیرمهال	ماضی ــ تیره زمانه
ــ کړ	ماضی فعل
ټوک	جزء ــ جلد
ټوکړ	پاراګراف
ټولنوم	عام اسم
ټولی	کتیګوري
ټولیز یا ټولوال	کلی ــ عمومی ــ عامه ــ مجموعی ــ جمعی
جاج	مفهوم
جوت	معلوم ــ ثابت ــ مشخص
جوله	بڼه ــ شکل ــ لفظ
جولیز	شکلی ــ ظاهري ــ لفظی
چار	عمل ــ عملیه ــ فعالیت ــ فنکشن
ــ وال	فعال ــ معلوم
ــ ــ کړ	معلوم فعل
ــ ــ ــ نوم	فاعلی صفت
ــ انګ	عکس العمل ــ بازتاب
ځانګړتیا یا ځانګړنه	خصوصیت ــ خاصه
ځانګړ نومځري	شخصی ضمیر
ځانګړي نوم	خاص اسم ــ علم
څپه	هجاء ــ سیلاب
څپیز	هجایی ــ سیلابی
څرګندنی	تشریحی ــ توضیحی

ـــ غونډله	بیانی یا توضیحی غونډله
څرګندوینکی	بیانیه ادات
څرمه	فرعی ـــ ضمنی ـــ الحاقی
ـــ غونډله	فرعی جمله
څرنګوالی	کیفیت
څرنګیز	کیفی
څومره والی	کمیت
څومره ییز	کمی ـــ کمیتی
څیز نوم	اسم ـــ سوبستانتیف
څیز نومیز	اسمی
څیزپال	غیرشخصی
خبر	خبر ـــ مسند ـــ ګذاره
خبري	خبري ـــ بیانی ـــ بیانیه
ـــ غونډله	خبري جمله ـــ بیانیه جمله
ـــ کړ	خبري یا بیانیه کړ
خپلواك (غږ)	راول
خپلواکه غونډله	مستقله یا اصلی جمله
خج	فشار
خــجن	فشار لرزکی
دود	قاعده ـــ رواج ـــ مروج
دودیز	باقاعده ـــ عنعنی ـــ متداول
دوی	قانون

ډيرګړي	جمع
روزد (ي)	معتاد
روزدتيا	اعتياد
روزدنی	اعتيادي
روزدي	عادي
ـ کړ	اعتيادي فعل
روستاړي	پسوند ـ لاحقه ـ سفيكس
زورخج	ديناميك‌خج
ژبپوهاند	زبانشناس
ژبپوهنه	زبانشناس
ژبپوهنيز	لينگوستيكي •
ژبنی	لسانی
ستاينوم	صفت
سرېل	پيشينه ـ پرپوزيشن
سرغاړي	مستنكف ـ سركش ـ متمرد ـ باغي
ـ غونډله	مستنكفه جمله
سول	عقل ـ منطق
سوليز	معقول ـ منطقي
شمير تړنگ	عددي تركيبونه
شميرنوم	عدد (اسم)
شننه	تجزيه ـ تحليل ـ تفسير
ښځينه	مؤنث

غاړه	لحن ــ ترنم
غبرگغېز	ديفتونگ
غبرگغونډه له يا غبرگه غونډه له	مضاعفه جمله
غبرگون	انعکاس ــ جواب
ــ کړ	انعکاس فعل
ــ نومځري	انعکاس ضمير
غږ (زغ)	فون ــ صدا ــ سونډ
ــ پوهه	فونو لوژي
ــ پوهيز	فونولوژيکی
غوښتنی	دعائيه ــ مطلوب
ــ کړ	دعائيه فعل
غونډ	گروپ ــ فقره
غونډه له	جمله
ــ پوهــه	نحو ــ سينتکس
ــ ييز	جملوي
ــ پوهيز	نحوي
غونډ نوم	اسم جمع
کړ	فعل
ــ اوړ ون	دفعل گردان
ــ تړ	...
ــ توک	فعلی عنصر
ــ غونډ	فعلی گروپ
ــ مهال	فعلی زمانه
ــ نوږ	فعلی جنس

ـ نوم	فعلی یا مشتق نوم
کړند	فاعل
ـ پیر	فاعلی حالت ـ نوميناتيف
کړوال	فعلی
ـ غونډه	فعلی گروپ
کړواله غونډه له	فعلی جمله
ـ کړنه	فعلی اصطلاح
ـ ول	قید
ـ ولی	قیدي
کړولی	فعلی ریښه
کړولی غونډه	قیدي گروپ
کړي	مفعول
ـ غونډه	مفعولی گروپ
ـ پیر	مفعولی حالت
گډه غونډه له یا گډه غونډه له	مرکبه جمله
گډلی غونډه له	مختلطه جمله
گړ	مور فیم ـ واج
ـ پوهه	مور فیمولوژي ـ واجشناسی ـ حرف
ـ پوهیز	مور فیمولوژیک ـ صرفی
گړ دود	لهجه ـ گویش
ـ پوهه	لهجه شناسی
گړنپوهنه	اصطلاحشناسی ـ فرازیولوژي
گړنه	اصطلاح ـ محاوره ـ ایدیم ـ فراز

گړنی	اصطلاحی ــ محاوروي ــ شفاهی
گڼه	عدد ــ افراد وجمع
گومان	شکی ــ احتمالی
لالرنغوتنو مخري	لالري اشاري ضمیر
لرتیر مهال	بعیده ماضی
لرستاینوم	د مسند صفت ــ د پریدیکات صفت
لرکړی	بالواسطه مفعول ــ داتیف
ــ پیر	د بالواسطه مفعول حالت ــ داتیف
لرنغوتنو مخري	لري اشاري ضمیر
لښتیلیک	جدول
لنډ تیرمهال	قریبه ماضی
لنډ ستاینوم	د مسند الیه صفت ــ اتردي صفت
لنډ کړي	بی واسطه مفعول ــ اکوزاتیف
ــ پیر	د بی واسطه مفعول حالت ــ اکوزاتیف
لوستلیکی	کتاب قرائت ــ درس کتاب ــ تکسبوک
لوښتن یالوښین	الی ــ انسترومنتال
ــ پیر	الی حالت ــ انسترومنتاتیف
لوښی	ظرف ــ اله ــ سامان
لیږند فعل	متعدي فعل ــ ترانزیتیف فعل
ــ چارکړ	کوزاتیف فعل ــ مصدر صناعی
لیکلړ	لست ــ مینیو
لیکښنه	د تنقیط علامه ــ پنکچویشن
لیکی	تحریري

لیکس	کتاب
ــ پلور	کتابفروشی
ــ پلوري	کتابفروش
مانا	معنی ــ معنا
ــ پوهه	علم معانی ــ سیمانتیك
ــ تزك	معنوي‌توك
ــ نوم	اسم معنی
ــ ونج	معنوي تغییر
مختاړی	پیشوند ــ سابقه ــ پریفیکس
مخیکړ	فعلی سابقه ــ پریویرب
مرستیالکړ	معاون فعل
مله غونډ له	ملګرییا فرعی جمله
منځپینی غونډ له	معترضه جمله
منځتاړي	میانوند ــ انفیکس
منځوالیکړ	انعکاس فعل
موخه	هدف ــ مقصد ــ مطلب ــ مطلوب
موخن	مطلوب
نابشپړ کړ	غیر مطلق فعل ــ استمراري‌فعل
ناپاي	ناتمام ــ مصدر ــ اینفینیتیف
ناشنونی	لایتجزا ــ غیر قابل تجزیه
نالیږند کړ	لازمی فعل ــ اینترا نزیتیف‌فعل
ناوړیدونی	غیرمتصرفه ــ نه ګرځیدونکی ــ نه اوړیدونکی
نرینه	مذکر

نغوته	اشاره
نغوتنو مخري	اشاري ضمير
نوچار	ابتکار ــ اينيسياتيف
نوز نوم	اسم جنس
نوزي	جنس
نوم	اسم
ــ اوړون	داسم گردان
ــ اوښتون	داسم تغيير
ــ پير	اسمی حالت
نومخري	ضمير (مخري ــ نماينده)
نوم نوزي	اسمی جنس
نومول يا نوميز	اسمی
ــ غونډ	اسمی گروپ ــ مسند اليه
نوموالهغونډ له	اسمی جمله
ــ گړنه	اسمی اصطلاح
ــ ليك	فهرست اسماء يا اعلام ــ اينډيکس
نومونپوهــه	ترمينولوژي
نومونه	نامگذاري ــ اصطلاح (علمی ــ تخنيکی) ــ ترم
نوميرل	تشخيصول
نوميز يانومول	اسمی
نيمواك (غز)	نيم واول ــ شبه واول
نيوليك	فهرست مندرجات

وتونپیر	دمفعول منه یا منشایي حالت ــ ابلاتیف
ورتلون پیر	د مفعول له حالت
ورمندون	امر ــ حکم ــ قضاوت
ورمندي	امري ــ قضاوتي
وګړپوهنه	اتنولوژي ــ انتروپولوژي ــ بشرشناسي
وګړي	شخص ــ صیغه
ولړ	ریشه ــ جذر ــ روټ
ونج	بدل ــ عوض ــ بدلون ــ معاوضه
ونجول	بدلول ــ تبدیلول ــ عوضول ــ معاوضه کول
ونجون	بدلون ــ معاوضه
ونجیدل	بدلیدل ــ عوضیدل
وور شمیر یا مات شمیر	کسري عدد
ویش شمیر	انقسامي عدد
ویی	لغت ــ کلمه ــ واژه
ــ اوډون	ترتیب کلمات
ــ پانګه	لغوي ذخیره ــ ویګا بولري
ــ پور	قرض واژه ‌یي
ــ پوهه	لغتشناسي ــ واژه شناسي
ــ رغاونه	لغوي ساختمان ــ واژه سازي
وییز	لغوي ــ کلموي
ــ خج	لغوي فشار
وییکو مخري	اداتي ضمیر
وییکی	ادات ــ حرف ــ پارتیکل

همیشنی یاهمیشه ین	استمراري ــ دایمی
هیبښ	حیران ــ متحیر ــ متعجب
هیبښتیا	حیرانی ــ تحییر ــ تعجب
هیبښنده	محیر ــ تعجباور
هیبښنی	تعجبی
یوستوي	ساده ــ بسیط
ــ غونډ له	بسیطه یاساده جمله
ــ وی	بسیطه کلمه
یوګړی	مفرد
یوون	واحد ــ یونټ

ویی پانگـــــــه

پښتــــو	ناپښتــــو
اخځ	ماٴخذ
ـ لیك	دماٴخذونو فهرســـــت
آر	اصل ـ پرنسیپ ـ اصیل ـ اصلی
ـ پوهه	ریشه شناسی ـ فقه اللغه ـ اتمولوژي
ارزښت	ارزش ـ اهمیت
ارزکتــه	ارزیابی
ارزونه	اسعار
آرشمیر	اصلی عدد
اروابناد	مرحوم ـ شاد روان
آروالی	اصالت
اروپا گروهی	اروپایی مشرب
آره	نسب ـ منشاٴ
له ــــ	اصلا ـ په اصل کی
آړ	شرط ـ مانع
اړپیچ	اختلاف ـ تضاد ـ ضد
اړپیچن	ضد ـ متضاد
اړنګ	شك ـ اشتباه
ـ لاندي	مشکوك ـ مشتبه
اړوتی	مشروط ـ شرطی
اړوند	مربوط ـ مرتبط ـ متعلق ـ تابع
اړوندي	همبستگی ـ تعلق ـ ارتباط ـ تابعیت

پښتــــو	نا پښتــــو
اړیکی	رابطه ـ ارتباط ـ تعلق (جمع) روابط ـ تعلقات ـ مناسبات ـ تماسونه
اړین	ضروري ـ حتمی
اسمانڅک	اسمانخراش
اغیز	نفوذ ـ تاثیر
اغیزمن	موءثر ـ متاءثر ـ متنفذ ـ نافذ
اغیزمنی	موءثریت ـ نافذیت
اغیزه	تاثیر ـ تاءثر
اکر	وضع
الواك	نظر ـ نظریه ـ نګاه ـ تیوري
ـ دود	طرزنظر
ـ هم	همنظر
الواکی	نظري ـ تیوریکی
ان (هن)	اینك ـ حتی
انځور	رسم ـ تصویر ـ نقش ـ تمثیل ـ ګراف
ـ لیك	ګراف ـ دیاګرام ـ پیکتوګرام
ـ یز	ترسیمی ـ تصویري ـ مصور ـ تمثیلی ـ دراماتیك
انګ	فکر ـ مفکوره
ـ پوهه	ایدیولوژي
ـ دود	طرز تفکر
ـ لیك	هنر وارث ـ ایدوګرام

پښتو	ناپښتو
ــ ي	فکري ــ مفکر ــ متفکر
اُنګ	حس
انګونه	حواس
انګیرل	ګومان کول ــ تعبیرول ــ حدسول ــ ګڼل
انګیرواله	ایدیالیزم ــ انګارګرایی
اوبد انځی	نساجی فابریکه
اوبد انه	نساجی ــ بافنده ګی
اوریدا	سماع ــ استماع
آوریز	سمعی ــ شنوایی
اُوریز	بیرغ یی
اوسپینیز	اهنی
اوښتون	انقلاب
اوښکن	اوښکی بهوونکی ــ اشك اور ــ اشکریز
ــ اوګی	ــ غاز
ایرنی	خاکسترداني
بادوره	برف کوبه
بد اندي	بداندیش ــ بدخواه
بدوین	بدبین
بل	حریف ــ مقابل ــ نظیر
ــ والی	تقابل ــ مقاله
برخه وال	سهیم ــ شامل (کنفرانس ...)

پښتــــو	ناپښتــــو
برېښنا گاډي	برقي موټـــر
چم گاډي	ترموای
بشپړ تیاین	تکاملی
بشرواله	بشر دوستی ـ اصالت بشري ـ هومانیزم
بلغز	الوفون
بلگړ	الومورف ـ واجگونه
بلوس	تجاوز ـ تیري ـ غصب
بلوسگر	متجاوز ـ غصبوونکی ـ اشغالگر
بوټپوهاند	بو تانیست
بو ټپوهنه	گیاشناسی ـ بوټانیك
بوټپانـه	بوټانیك
بولنتون	قوماند انی
بولندوي	قوماند ان
بولنه	مقوله
بهر	خارج
بهرنی	خارجی
بیابانگرځی	بیابانگرد
بیارغاونه	بازسازي ـ رستوریشن
بیالیکون	باز نویس
بیخبنا	زیربنا
بیدوده	مستثنی ـ بی قاعده

پښتو	ناپښتو
بېدودي	استثناء ــ بی قاعده گی
بېلستا	ميزه
بېلا بېل	مختلف ــ بيل بيل
بېلښت	اشتقاق
بېلښتی	اشتقاقی ــ مشتق
بېلنګ	مشتق
بېلنګونه	مشتقات
پاټکی	طبقه
پاټکيز	طبقه يی ــ طبقاتی
پازپيژاند	وظيفه شناس ــ مسووليت شناس
پازوالی	مسئوليت
پانګوال	سرمايدار
پانګواله (پانګوالی)	سرمايداري
پايلنيوي	نتيجه گيري ــ استنتاج
پايله	خاتمه ــ نتيجه
پايليزه	خاتمه (کتابوغيره)
پتېيل	تصميم نيول
پچار	فعال
پدل	اثر ــ تابو ــ تحريم
ــ وين	تحريم شوي کلمه ــ تابو
پراختيا غوښتنه	توسعه طلبی ــ توسعه جوين

پښتو	ناپښتو
پراختیایي	توسعوي
پرتلل	مقایسه کول ـ قیاسول ـ مقابله کول
پرشاتګ	عقب نشیني ـ قهقرایي سیر
پرګڼغونډه	میټینګ ـ جلسه (پیښاور)
پرګڼواله	کمونیزم
پرګڼه	کمون ـ توده ـ کتله
پرګڼیز	کموني ـ توده یي ـ کتلوي
پرله پسې والی	تسلسل ـ تواتر
پرله غښتل	منسجمول
پرله غښتی	منسجم
پرله غښتیا	انسجام ـ نظم ونسق
پرمختللی	مترقي ـ پیشرفته
پرمختیا	انکشاف
پرمختیایي	انکشافي
پریکړه	فیصله ـ مقاطعه ـ تصمیم
ـ لیک	فیصله لیک ـ قطعنامه
پژنی	بدني ـ جسمي ـ عضوي
پژي	بدن ـ جسم ـ عضویت ـ اورګان
پښت پوهاند	نسب شناس ـ ژینولوژست
پښت پوهنه	نسب شناسي ـ ژینولوژي
پلارواکي	پدرشاهي
پلوي	طرفدار ـ وابسته

پښتو	ناپښتـــــو
پلوي	طرفداري
پوچاندي	بداندیش ـ بدنیت ـ بدسګال
پورڅپاره	عاریتی ترجمه
پورنی	قرض ـ عاریتی ـ مستعار
پورویی	قرض یا مستعارلغت
پوښتپاڼـه	د استعلام ورقه
پوښتـنـه	استفهامیه علامه
پوښتلیک	پرسشنامه
پوهنغونډه	دایره المعارف
پوهنیز	علمی
په بل پسی	د بل پسی
په بله وینا	په بل عبارت
په پاي کی	په اخر کی ـ بالاخره
په ترڅ کی	په ضمن کی ـ ضمنا ـ پوصورت کی
په ټولیز ډول	په عمومی ډول ـ عموما
په رښتینـه	په واقعیت ـ په حقیقت کی ـ واقعا ـ حقیقتا
په وړاندي	په مقابل کی ـ په حضور کی
په هیڅا پوري اړه نلري	د هیچا پوري اړه نلري
په یو مهال کی	د رعین حال
پیښلیک	تاریخ
پیښلیکونکی	مورخ ـ تاریخدان
ترژمی پسرلی ښه دي	د ژمی نه پسر لی ښه دي

پښتو	ناپښتو
له کابل څخه تر ننګرهار پوري	د کابل نه د ننګرهار پوري
پېیون	نظم ــ تنظیم
تړښت	ترکیب
تړښتی	ترکیبی ــ مرکب
تړنګ	مرکب ــ ترکیب
تړنګونه	مرکبات ــ ترکیبات
توکموانه (نژاد واله)	نژادپرستی ــ اپارتاید ــ نژادي تبعیض
توکیز	مادي ، عنصري
ــ واله	مادیت ــ ماتریالیزم ــ د مادي اصالت
ټونی	مکانی
ټاپول	ټاپپول
ټبرپوهنه	نژاد شناسی
ټبرنی (ټبري)	نژادي ــ قومی
ټولنپوهاند	جامعه شناس ــ سوسیولوژیست
ټولنپوهنه	جامعه شناسی ــ اجتماعیات ــ علم الاجتماع
ټولنواله	سوسیالیزم
ټولنیز	اجتماعی
ټولنیزیدل	اجتماعی کیدل
ټولوال	عمومی ــ عامه ــ همګانی
ټولوالی	اتفاق ــ اتحاد ــ یکپارچه ګی

پښتو	ناپښتو
تولی	کتیګوري
تولیز	عمومی ـ کلی
جوت	ثابت ـ معلوم ـ مثبت
ـ پوهنه	مثبت علم ـ ساینس
ـ تیا	اثبات ـ ثبوت
جوله	شکل ـ صورت ـ لفظ
جولیز	شکلی ـ صوري ـ لفظی ـ ظاهري
چاپخونه	چاپخانه ـ مطبعه
چارانګ	عکس العمل ـ بازتاب ـ واکونش
چال چلند	سلوک ـ رفتار ـ ګذاره ـ معیشت
چاڼتون (چاڼځی)	تصفیه خانه
ځان وژنه	خود کشی ـ انتحار
ځانګړتیا (ځانګړنه)	خصوصیت ـ خاصیت
ځانګړي	مخصوص ـ خصوصی ـ خاص ـ مختص ـ شخصی ـ فردي
ځانی	شخصی ـ فردي
ځبېښاک	استثمار ـ استحصال ـ بهره کشی
ځبېښاکګر	استثمارګر ـ بهره کش
ځمکپوهنه	جغرافیا
ځمکوال	زمیندار ـ فیودال
ځمکوالی	زمینداري ـ فیوډالیزم
ځواک	قدرت ـ قوه ـ طاقت
ځیر	دقیق ـ متوجه

پښتو	ناپښتو
څار	مراقبت ـ انتظار
څارن	مراقب
څارنوال	مدعی العموم
څارنه	مراقبت
څارو	مراقب ـ منتظر
څانګوال	متخصص ـ مسلکی ـ د رشتی خاوند
څانګه	شعبه ـ رشته ـ مسلك ـ مؤسسه ـ دیپارتمنت ـ تخصص ؛
څانګیز	رشته یی ـ مسلکی ـ تخصصی
څښاك اوبه	د څښلو اوبه
څلورلاري	چارراهی
څېړاند	محقق ـ متتبع
څېړندود	طرز تحقیق ـ د تحقیق متود
خبرتیا	معلومات
خبرځاي	د خبر منبع
خبرونه	اطلاعیه ـ ابلاغیه ـ اعلان
خپرندوي	ناشر
خپرځی	محل انتشار ـ د نشرځاي
خپرنی	نشراتي
خپلمنځچار	ذات البینی تعامل یافعالت

پښتو	ناپښتـــــو
خپلمنځي	ذات البيني
خت	کميس
ختي	زنتر پيرهني
د بيلګي په توګه	دنمونې په توګه
درسته وال	مسلح ــ وسله وال
ــ ځواکونه	قواوي
د ساري په ډول	د مثال په توګه ــ مثلا
دود	رواج ــ عنعنه ــ مروج
دوديالی	مهذب
دوديز	عنعنی ــ متداول
دوګړو شمير يا زياتوالی	دنفوسو شمير يا زياتوالی
دوه ګړي	تثنيه ــ دوال
دوه واله	دواليزم
دوي	قانون
ــ غونډه	دقوانينو مجموعه
ــ ليك	قانوننامه ــ دستورنامه
دويمی ــ (دويمنی)	دومی ــ دومين ــ ثانوي
دويزه	مثنوي ــ د وه رويګی
دينپوهنه	دينيات ــ دينی علم يا علوم ــ تيولوژي
ډار	خطر ــ ويره ــ دهشت
ډارناك	خطرناك

پښتو	ناپښتو
ډاروونکی	د هشت أفگن
ډبر چاپ	سنگی چاپ ــ لیتوگرافی
ډبر لیک	کتیبه
ډبرین	سنگی ــ سنگین
ډلواکی	جمهوري ــ جمهوریت ــ جمهوري نظام
ډیر پیښی	کثیرالوقوع
ډیر پیښی	بسامد
ډیر څپیز	کثیرالهجایی ــ ډیر سیلابی
ډیر ښتنی	شرک ــ مشرکی
ډیرزیږي	کثیرالتولید
ډیر ژبی	خولسانه ــ پولی لینگوال
ډیر ژبیز	خو لسانه (قاموس ۰۰۰)
ډیر بنت	کثریت ــ اکثریت ــ میجاریتی
ډیر بنتی (ډیروالی)	اکثریتی
ډیر ښځنی	د خوښخو خاوند
ډیر ښځینی	تعدد زوجات
ډیرمانیز	کثیرالمعنی
ډیر میړوښی	تعدد ازواج ــ پولیاندري
ډیر ودون	تعدد ازدواج ــ پولیگامی
ډاکښون	جذب ــ جلب ــ جذابیت ــ جالبیت
ډیړه	پرابلم ــ معضله
ډغا	بیزاري

پښتو	ناپښتـــــو
رغاونه	ساختمان ـ سازمان
رغاونی (رغاونیز)	ساختمانی
رغاوه	صنعت
رغاویز	صنعتی
روغتیایی	صحی
روښاندي	روشنفکر ـ منور
ریز (ریژ)	برف کوچ
زړغه	تردد
زړغی	متردد
زغرگاډي	زره دار موتر
زغریالی	زره دار
ژبپانگه	لسانی ذخیره ـ لغوي ذخیره
ژبپوهاند	زبانشناس ـ لینگویست
ژبپوهنه	زبانشناس
ژبپوهنیز	لینگویستیکی
ژبپېژاند	زباندان
ژبښود	دژبی خود اموز
ژبښودنه	لسانی تدریس زبان اموزي
ژبلوست	دژبی درس یا تدریس
ژبنی	لسانی
ژبونج	لسانی تغییر ـ لسانی تحول
ژغی	دمریض تذکره

پښتو	ناپښتو
ژمنه	وعده — تضمین — تعهد
ژوپوهاند	زولوژیست — جانورشناس
ژوپوهنه	زولوژي — جانورشناس — علم الحیوان
ژوند پوهنه	بیولوژي — زیست شناس
ژوند دود	د ژوند طرز — کلتور
ژوندنی	حیات
ژونی	حیوانی
ساپوهاند	روانشناس
ساپوهنه	علم الروح — پسیکولوژي — علم النفس — روحیات
ساییز	روحی — تنفس
سپړنه	تشریح — شرح
سپږ	فون
— پوهه	فونیتیک
سپمایی	صرفجویانه
سپوږمیز	قمري
ستاینلیک	تقدیرنامه — جایزه نامه
ستر	لوی — مهم
سترچاری	کلانکار — متکبر
ستورپوهاند	منجم — ستاره شناس — هیأت دان — استرونو[illegible]
ستورپوهنه	د نجوم علم — د هیأت علم — استرونومی
سرښنا (مخښنا)	روښنا

پښتــو	ناپښتــو
سرچپه	برعکس ـ معکوس
سرلیک	عنوان ـ سرنامه
سرلیکنه	سرمقاله
سریزه	مقدمه ـ سراغاز
سړوینه	شیریخ ـ آیسکریم
سړي سر	فی نفر ـ د سړي سر
ـ کال گټــه	د سړي سرکالنی عاید
ـ گټـــه	کالنی عاید
سمدلاسه	سمدستی ـ د ستی ـ عجالتا
سملاسی	فوري ـ عاجل
سمون	اصلاح ـ ترمیم ـ تصحیح ـ ریفورم
ـ لیک	غلطنامه
سند	رائي
ـ اخیستنه	رائي گیري ـ ریفرندم
ـ ورکونه	رائي ورکونه
سوب	حاضر
سهـــل	هضمول ـ تحمل کول
سیمه	منطقه ـ محل ـ علاقه ـ ناحیه ـ ساحه ـ حوزه
ـ ییز	منطقوي ـ محلی ـ علاقه یی ـ ناحیوي ـ حوزوي .
شپه لیک	شب نامه
شمارپوهنه	د احصائیی علم
شماري	احصائیوي

پښتو	ناپښتو
شمارخيړنه (شميرخيړنه)	احصائيه
شننه	تحليل تفسير
ښارمينه	ښاري ناحيه ــ كارته
ښځمنه	زنانه ــ سياسر
ښځينه	زنانه يي ــ مونث
ښكارندوي	نماينده ــ نماياننده ــ ممثل ــ مظهر
ښكارندوني	نماينده گي ــ تمثيل ــ اظهار
ښكارنده	پديده
ښكارنليك	اظهارنامه
ښنده	افراط ــ مبالغه
ښندي	افراطي ــ اكستريم
ښوونپوهاند	پيداگوگ ــ د تربيي عالم
ښوونپوهنه	پيداگوژي ــ علم التربيه
ښوونيز	تعليمي
ښه ترښه	فبها
غبرگغږ	ديفتونگ
غبرگون	جواب ــ عكس العمل
غورچاڼ	گلچين ــ منتخب
غوره	بهتر ــ مرجح ــ مهم
غوړاوو	چاپلوس
غوړاوي	چاپلوس ــ تملق

پښتو	ناپښتـــــو
غونډه	مجموع ــ گروپ ــ کل
غونډه ال	سیستم
کارنده	فعال ــ کاري
کارویش	تقسیم کار
کالخواي	ولی ــ فامیلی راکمــن
کرکیل (کرکیله)	کشت وکار ــ زراعتی چار
کرگر	دهقان ــ بزگر ــ زارع
کرنپوهه	علم زراعت
کرنه	کرهنــه ــ زراعت ــ کشت
کروندگر	ــ ــ ــ
کرونده	مزرعه ــ فارم ــ زراعت
کړاو (یوڅپیز)	تمرین ــ مشق ــ معارست ــ جمناستیک ــ ادمان
کنځول	بالاپوشی ــ کوټ
کیځ	قبر
ــ لیک	دقبرلوحه
کیدون	إمکان ــ احتمال
کیدونی	ممکن ــ احتمالی
گیز	نازل
گیزل	نازلیدل
گچه	اندازه ــ سویه ــ سطح
گسر	ظلم ــ استبداد
ــ گر	ظالم ــ مستبد
گروهن	معتقد

پښتو	ناپښتـــــو
گروهول	معتقدول
گروهه	عقیده ـ اعتقاد
گروهیدل	عقیده پیداکول ـ گرویدن
گناګاره	جریمه ـ کفاره
گنډۍ	کرتی ـ جمپر
گوډاګی (بړیخی)	عمال ـ کولابراتیور
گوربت	عقاب
لارښود	رهنما ـ پیشوا ـ رهبر
لاسبري	مسلط
لاسبری	تسلط
لاسکتوی	زبردست ـ مادون ـ ماتحت
لاسکښلی	خطی ـ قلمی ـ دستویس
لاسکښنه	دستویس ـ قلمی یا خطی نسخه
لرغون خوښونه	قدامت پسندي
لرغون پوهاند	لرغون پیژندونکی ـ باستانشناس
لرغو نپوهنه	لرغون پیژندنه ـ باستانشناسی
لرلید	دورنما
لروین	دوربین
لروښون	تلویزیون
لږښت	اقلیت
لږښتی	اقلیتی ـ اقل ـ اصغري

پښتـــو	ناپښتـــو
لسیزه	دهــه
لګښت	مصرف ــ استهلاك
ــ وال	مستهلك
لګــښتی	استهلاکی
لنډ اندی	کوتاه اندیش ــ کوتاه فکر
لوستلیکی	درسی کتاب ــ تکسبوك
لولاند	مدرس ــ لیکچرر
لو لنګر	اواره
لووی	شاهد ــ ګواه
لوهـه	اشتها ــ ذوق
له	د
ــ پلوه	له درکه ــ له لحاضه ــ له طرفه
ــ توغه وتل	له عهدي وتل
ــ ځلمی سره	د ځلمی سره
ــ خیلمی	یکسره
ــ خوا	دخوا
ــ ده څخه	د ده څخه
ژمی راهیس	د ژمی راهیس
ــ سنګ پرته	د سنګ پرته
لیز د	رحلت ــ هجرت ــ کوچ

پښتو	ناپښتو
ـ لیك	نقل ـ کاپی
لیږ دي	هجري ـ مهاجر
لیکچه	رساله ـ کتابچه
لیکلار	دلیکی سبك ـ ستایل
لیك لیکانی	مکاتبه
لیکنښه	دتنقیط علامه
لیکنی	تحریري ـ کتبی
مانا	معنا ـ معنی
ـ بلون	تداعی المعانی
ـ بلونی	متداعی المعانی
ـ پوهه	علم المعانی ـ معنی شناسی ـ سیمانتیك
مخزیږد	قبل المیلاد
مخزیږ دي	قبل المیلادي
مخګڼه	وصفی شمار
مړینشمیر	دمړ واحصائیه
مټلیکی	جیبی کتاب
منګی	خزانی
موروا کی	مادرشاهی
موخن (موخه وال)	هندفند ـ مطلوب
موخه	هدف ـ مطلب مقصد
مهالنی	موقوته ـ زمانی
مهالنی	جریده

پښتـــر	ناپښتـــو
مهالویش	تنظیم اوقات ـ پروگرام
مینه وال	علاقمند
ناپیلتوب	عدم انفکاك
ناپیلی	غیرمنفك
ناسوب	غیرحاضر ـ غایب ـ پس شا
ناسوبتیا	غیرحاضري ـ غیابت
نړیوال	جهاني ـ بین المللي
نړیواله	بین المللیت ـ انترناسیونالیزم
نشتالد	منفی باف ـ نیالیست
نشتمن	نیستمن ـ نادار ـ مفلس
نشتمني	نیستي ـ ناداري ـ مفلس
نندګیرل	احساسول ـ محسوسول
نندګیرنه	احساس ـ حس
نوچار (نوښت)	ابتکار
نرزیږ	جنسي
نوښالی	عصري ـ مودرن
نومیال (سړی)	مشهور (سړي)
نومیالی	شهیر ـ مشهور
نوښته	اختراع ـ ابداع
نهیلی	نا امید ـ مایوس
نهیلي	نا امیدي ـ مایوس ـ یاس

پښتو	ناپښتو
نیاو	عدل ـ انصاف
ـ چار	عادل
ـ من	عادل
یز	عدلی ـ قضایی
نیټه لیک	کرونولوژي ـ تاریخنویس
واکمن	باصلاحیت ـ داقتدارپه سر
ـ گوند	داقتدارپه سرگوند
وټپوهاند	اقتصاددان
وټپوهنه	داقتصاد علم
وټیز	اقتصادي
ودانیز	عمرانی ـ تعمیراتی ـ ساختمانی
وده	رشد
ـ ییز	دودي په حال کی ـ مخ په وده (هیواد ...)
نوي پرمختایی هیوادونه	پرمختـیایی نوي‌هیوادونه
ورخچاری	ابن الوقت ـ اپور تونیست
ورخچاري	ابن الوقتی ـ اپورتونیستی ـ اپورتونیزم
ورکنوم	گمنام ـ بینام
ورښندون	امر ـ حکم ـ حکمت ـ قضاوت
ورهنه	کسب ـ پیشه
وړتیا	اهلیت ـ کفایت ـ لیاقت ـ قابلیت
وړجم	پوستین
وزلوبه	بزکشی

پښتـــــو	ناپښتــــــو
وژنشمیر	دقتل احصائیه
وګړپال	مردم پرست ـ مردم دوست
وګړپوهاند	بشرشناس ـ انتروپولوژیست ـ اتنولوګ
وګړ پوهنه	بشر شناسی ـ انتروپولوژي ـ اتنولوژي
وګړ شمیر	دنفوسو شمیر
وګړ شمیرنه	دنفوسو شمیرنه ـ سرشماري
وګړنی	مردمی ـ توده یی ـ خلقی
وګړ واک	دیموکرات
وګړ واکی	دیموکراسی ـ دیموکراتی ـ خلقی نظام
وګړیز	شخصی ـ فردي
ـ روستاړي	شخصی خاتمه (ګرامر)
ولس دښمنی	ضد ملت ـ ملت پرور
ـ مین	ملت دوست ـ ملت پرور
ولسواک	دیموکرات
ولسواکی	دیموکراتی
ولسواله	ملیت ـ نشنلیزم
ولسولی	ملت داري ـ هم ملتی
ونډه	سهم
ونه (لکه تنه)	اندازه ـ سایز (مندوزي)
ویار	عیب
ـ من	معیوب

پښتــــو	ناپښتــــو
وياړلن (وياړن)	له افتخاره ډک
وياړن	مفتخر ــ مغرور
وشاک	تجزيه طلبی
ويلاړ	عزم ــ اراده ــ تصميم
وين ليکی	قاموس ــ فرهنگ
هان (منگ)	غمر
هاند (کول)	کوشش
هڅوب	کلتور ــ ثقافت
هڅوبيز	کلتوري
هڅول	تشويقول ــ ترغيبول ــ مايلول
هڅه	کوشش ــ اقدام ــ ميل ــ ميلان ــ تمايل ــ شوق
ــ وهاند	جد وجهد
هڅيدل	تشويقيدل ــ مايليدل ــ ذوق پيداکيدل
همهالی	همعصر ــ معاصر
هواپوهنه	هواپيژندنه ــ هواشناسی ــ مترولوژي
هوايی چلند	هوانوردي ــ هواپيمايی ــ هوايی ترافيک
هيښ	حيران ــ متعجب
هيښتيا	حيرانی ــ تحير ــ تعجب
هيښنده	محير ــ حيرانوونکی
هيښنی	تعجبی
هيواد	وطن ــ کشور ــ ميهن ــ مملکت ــ دولت

پښتـــو	ناپښتو
ـ پال	وطنپرست
ـ پالنه	وطنپرستی
ـ پلورنه	وطنفروشی
ـ پلوری	وطنفروش
ـ وال	هموطن ـ وطندار ـ وطنپرست
ـ واله	هموطنی ـ وطندوستی ـ پاتریو تیزم
یاد ښت	یادانښت ـ یادداشت ـ یادداشت ـ نوټ
یمال	دواوري ترپان
یوځپیز	یوهیځایی
یوښځنی	یك زنی
یوګړي	مفرد (ګرامر)
یو میړ ونی	یك شوهري
یون	حرکت ـ سفر
یوند ود	طرز حرکت ـ طرز رفتار ـ رسم ګذشت
یوون	واحد ـ یونټ

(پای)

سیدمسافر

اخځلیـــــک

۱ـ الهام ـ محمد رحیم : روش جدید درتحقیق دستور زبان دري ـ پوهنځی ادبیات ۱۳۴۹ .

۲ـ دوکتور پالوال عبدالرازق : پښتونوي مصدر ـ ادبپوهنځی ۱۳۵۰ کابل .

۳ـ دکتر پرویز خانلري : ساختمان جمله ـ بخشی از جلد دوم تاریخ زبان فارسی بنیاد فرهنگ ایران ـ تهران ۱۳۴۹ .

ـ ساختمان فعل " " " " " "

ـ انواع پنجگانه ساختمان فعل جلد دوم تاریخ زبان فارسی بنیاد فرهنگ ایران تهران ۱۳۵۲ .

۴ـ دوکتور تږي حبیب الله : نوي ژبپوهنه اوژبنی مسایل ـ پښتو ټولنه ۱۳۴۴ .

۵ـ دوکتور دولت محمد : دکلام داجزاو رجوړښت ـ زیري ۴۳ ګڼه ۱۳۵۱ کابل .

ـ دپښتو ژبی دفعلی اصطلاح ګانو واحدونه اودهغوي دقاموسی تشریحاتو ځینی پوښتنی (ژباړه) ـ کابل مجله ـ ۸ ګڼه ۱۳۵۱ کابل .

۶ـ دوکتور روان فرهادي : دستور زبان دري براي شاګردان مکاتب ـ لیسهٔ استقلال ثور ۱۳۵۴ کابل .

۷ـ دوکتور زیار : د ژبپوهنی بنسټونه ـ ادبپوهنځی ۱۳۵۳ .

د سیف الدین لودین کتابتون
کتاب پرلیسی شمیره

8. E. Coseriu:

Einführung in die Strukturelle Linguistik.

Uni. Tübingen 1969.

9. F. De Saussure:

Grundfragen der Allgemeinen Sprachwissenschaft – Uebersetzer: H. Lommel.

2. Auflage, Berlin 1967.

10. G. Helbig & J. Buscha:

Deutsche Grammatik -- Leipzig 1975.

11. H. Krahe:

Indogermanische Sprachwissenschaft 11 Formlehre.

Hamburg Göschen Band 60 – Berlin 1963.

12. A. Martinet :

Grundlage der Allgemeinen Sprachwissenschaft.

Kohlhammer Verlag 1967.

13. J. C.Mayer-Ing. :

Untersuchungen von Satzbau des Paschto.

Hamburg 1966.

14. J. M. Pence : A Tagmemic Grammar of Pashto Clause Structure

Univ. Microfilms Michigan 1967.

15. H. Penzl : A Grammar of Pashto – Washington 1955.

16. D. A. Shafeev : A Short Grammatical Outline of Pashto – Mouton & Co. 1964.

17. U. Ulbrich : Wörterbuch – Linguistische Grundbegriffe.

Verlag Ferdinand Hirt 1972.

سیف الدین لودین کتابتون
کتاب پر لیسي شمیره